د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټوت

# کابل

په دې ګڼه کې:


- له عواطفو او تصویرونو لبریزې تربتې چیغې
- رومانتیسیزم او پښتو ادب
- په پښتو شفاهي ادبیاتو کې د واده سندرې
- د (ISBN) سیستم
- د تخلیق او تحقیق ترمنځ ګډې او بېلې کرښې
- بګرام په پښتو شاعری کې
- د محسوساتو او سېمبولونو شاعر
- او نور...





- میاشتنی
- دریمه دوره
- کال: ۱۳۹٦ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل- افغانستان

۱

څېړنیزه، ژبنی، ادبي او فولکلوري مجله
کابل
۱ ګڼه، ۱۳۹٦ لمریز کال


# KABUL

## Monthly Journal

**Establishment 1931**
**Academic Publication of**
**Afghanistan Academy of Science**
**Serial No:**

Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279- 0796650658

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

د ژبو او ادبیاتو مرکز

# کابل

څېړنيزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري میاشتنۍ مجله

د تاسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

ګڼه: ۱

## يادونه:

✓ مقاله دې له يوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د ليکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټيلېفون شمېره او برېښنليک پته وي د علومو اکاډمۍ ادارې ته را ولېږل شي.

✓ را لېږل شوې مقاله بايد پوهنيزه ـ څېړنيزه، بکره او له منل شوو علمي معيارونو سره برابره وي.

✓ را لېږل شوې مقاله بايد په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرليک بايد لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله بايد د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډيز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز لنډيز بايد د يونسکو په يوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله بايد د سريزې، اهميت، مبرميت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پايلې او اخځونو لرونکې وي او په متن کې اخځليک ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله بايد د ليکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املايي او انشايي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل يې ۷ مخه او حد اکثر يې ۱۵ معياري مخونه وي، د فونټ سايز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله بايد (Single) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمۍ د نشراتي لايحې له مخې د يوې مقالې د تائيد او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د ليکوالو فکري زېرنده ده، ليکوال ته بويه چې سپيناوی يې په خپله وکړي، اداره يې په سپيناوي کې کوم مسووليت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له اخځه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته ليکوالو ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسوول مدیر:** څېړنوال سیدنظیم سیدي

**مهتمم:** څېړندوی شکیلا میاخېل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصرالله ناصر

څېړنپوه سیدمحی الدین هاشمي

څېړنوال حبیب الله رفیع

**ډیزاین:** سیدي

**تیراژ:** ۵۰۰ ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شابوبو جان سړک

**د اړیکو شمېرې:**

۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹ - ۰۷۹۶۶۵۰۶۵۸

**د مجلې برېښلیک:** magazinekabul@gmial.com او

informationasakabul@gmail.com

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹۶۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه: ۸۰ افغانۍ

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ

| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
| --- | --- | --- | --- |


۱- رومانتیسیزم او پښتو ادب..................څېړنوال عبدالظاهر شکېب............۱

۲- د تخلیق او تحقیق ترمنځ ګډې..........پوهنیار فهیم بهیر.....................۱۵

۳- بګرام په پښتو شاعری کې..................پوهاند پښتون آقا شېرزاد.............۲۹

۴- له عواطفو او تصویرونو لبرېزې..........احسان الله درمل.......................۳۷

۵- په پښتو شفاهي ادبیاتو کې د...........څېړندویه ملکه مشتري...............۴۷

٦- په څېړنه کې د موضوع د ټاکلو.........پوهنیارسیداصغر هاشمي.............٦۳

۷- د (ISBN) سیستم..............................پوهنیارضیاء الرحمن بنوری.........۷۳

۸- د پښتو د ادبي خپرونو سرلیکنې.........پوهنیار اسد وحیدي..................۸۱

۹- د محسوساتو او سېمبولونو شاعر.........عبدالله پیکار..............................۹۱

۱۰- د غزل ګونګې تشبېه ګانې..............عابد ندیم.................................۱۰۰

۱۱- په لپه کې دریاب...........................اجمل ښکلی.............................۱۰۸

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Research Fellow Sayed Nazim Sayedy

**Assistant:** Researcher Shakila Miakhil

**Editorial Board:**

Senior Research Fellow Dr. Khalilullah Ormar

Senior Research Fellow Nasrulla Naser

Senior Research Fellow Sayed Muhiuddin Hashimi

Research Fellow Habibullah Rafi

**Composed & Designed By:**

Sayedy

**Annual Subscription:**

Kabul: 960Af.

Province: 1440 AF.

Foreign Countries : 60$

Price of each issue in Kabul : 80 Af.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan : 70 Af.
- For the disciples and students of schools: 40 Af.
- For other Departments and Offices: 80 Af.

څېړنوال عبدالظاهر شکېب

# رومانتیسیزم او پښتو ادب

## لنډیز:

په دې لیکنه مور د رومانیت تحریک په اړه په نړیوالو ادبیاتو کې د رومانتیسیزم د ایجاد او ودې پر پړاوونو د مستندو ماخذونو په مرسته بحثونه کړي او د بېلابېلو پوهانو نظریات مو راخیستي دي او دا مو روښانه کړې چې دغه تحریک له کوم ځایه راپیل شو ، څنګه یې په اروپا او په ځانګړې ډول په فرانسه کې وده وکړه او څنګه یې شرقي ژبو او په تېره تېره پښتو ادب ته لار وکړه ، همدا ډول په دې لیکنه کې په پښتو ژبه کې د لومړنیو رومانوي شاعرانو او لیکوال یادونه شوې او ددې اړتیا روښانه شوې چې په پښتو ادبي کې د رومانوي ادبیاتو تر څنګ باید د رومانتیسیزم د ادبي مکتب د ایجاد ، پرمختګ او پاللو په اړه باید کتنه وشي او په پښتو معاصر ادب کې د رومانیت د بېلابېلو توکو په تجزیه او سپړنې هم بحثونه ترسره شوي دي.

## سریزه:

رومانیت تحریك یا رومانتیزم د اروپا په ځانګړې توګه د فرانسې د سیاسي ، ټولنیز او روحي بدلون زېږنده ده، چې پر هنر او ادبیاتو یې حاکمیت مونډلی او د کلاسیزم په مخالف قطب کې واقع شو. یعنې د کلاسیزم د مکتب ټول قواعد یې مات کړل او په هنر او ادبیاتو کې د آزادۍ غوښتونکی شو. د رومانتیك اصطلاح له اولسمې میلادي پېړۍ څخه په انګلستان کې د شاعرانه بدلونونو په اړه کارول کېده او له ۱٦٧٦ م کال څخه فرانسې ته راغلې او تر ډېرې مودې پورې د خیال انګېزۍ او افسانې مترادف و. پښتو ادب ته دغه تحریک په شلمه پېړۍ کې رادننه شو چې

په دې لیکنه کې یې لومړنې بنسټګر او رواجوونکي ښوودل شوي دي.

**د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

دا چې رومانیت یا رومانوي تحریک په پښتو ژبه کې ورځ په ورځ د پرمختګ په حال کې دی او په لسګونو لیکوال او شاعران د دغه ادبي مکتب په پیروئ خپل ادبیات خلق کوي ؛ خو په پښتو ژبه کې ددې مکتب په اړه پوهه او د موادو کچه د نشت برابره ده. نو پر دې اساس په پښتو ژبه کې د رومانوي ادبیاتو په اړه لیکنې یو مبرم ضرورت دی ترڅو د ادبیاتو زده کړیالان او مینه وال د رومانیت د اصولو او قواعدو په اړه معلومات ترسره کړي او همدارنګه دغه لیکنه به په ګانده کې پښتنو لیکوالو ته د رومانیت په اړه د یو ماخذ حیثیت ولري.

**د څېړنې موخې:**

ددې څېړنه او لیکنې اهمه موخه د پښتنو لیکوالو او د ادب مینه والو ته د رومانوي ادبیات او په ځانګړې ډول د رومانیت تحریک په اړه پوهه ورکول دي او په پښتو ادبیاتو کې د رومانوي تحریک په اړه د مستندو معلوماتو وړاندې کول دي ، ځکه په پښتو ژبه کې د رومانوي تحریک په اړه لیکنې ډېرې کمې او د نشت برابر دي.

**د څېړنې پوښتنې:**

- رومانیت څه ته وایي ؟
- څه وخت رامنځ ته او کله یې پښتو ادب ته لار پیدا کړه ؟
- دیو رومانوي اثر خصوصیات کوم؟
- په پښتو ژبه کې د رومانوي تحریک لومړي مؤسسین کوم دي ؟
- په پښتو کې د رومانوي تحریک بشپړ استازی څوک دی ؟

**د څېړنې روش:**

دا مقاله د تشریحي - تحلیلي میتود پربنسټ مخ ته تللې ده.

**متن:**

رومانتیسیزم، رومانیت تحريك یا رومانتیزم د اروپا په ځانګړې توګه د فرانسې د سیاسي، ټولنیز او روحي بدلون زېږنده ده چې پر هنر او ادبیاتو یې حاکمیت موندلی او د کلاسیزم په مخالف قطب کې واقع شو. یعنې د کلاسیزم د مکتب ټول

قواعد یې مات کړل او په هنر او ادبیاتو کې د آزادۍ غوښتونکی شو. د رومانتیك اصطلاح له اولسمې میلادي پېړۍ څخه په انګلستان کې د شاعرانه بدلونونو په اړه کارول کېده او له ١٦٧٦ م کال څخه فرانسې ته راغلې او تر ډېرې مودې پورې د خیال انګېزې او افسانې مترادف و (١) د رومانتیسیزم نوم د رومانتیك (Romantic) له صفت څخه مشتق شوی چې د رومانتیك کلمه هم د زړې فرانسوي ژبې له رومانز(Romanz) څخه اخیستل شوې ده چې معنا یې رومان (Romance) یا ناول (novel) دی، لیکن دغه کلمه د لومړي ځل لپاره د ١٦٥۴ م کال په حدودو کې په انګلیسي ادبیاتو کې استعمال شوې ده، د رومانتیك معنا ده (د رومان په شان) چې مجازاً د خیالي او موهومي په معنا استعمالېده. (٢)

په اروپا کې د ١٨ مې پېړۍ د اشرافو طبقې خپل قدرت او اعتبار له لاسه ورکاوه چې د اخلاقي فساد، ظلم او بې پروایي سیورى یې د عامه وګړو پر سر خپور شو، هغه دوره چې د ١٧٥٧ م کال د قانون له مخې چې په هغه کې راغلي وو: «هر هغه اثر چې د اخلاقو خلاف تشخیص کړای شي، ناشر او لیکوال به یې په مرګ محکوم شي» داسې یوه دوره چې په هغه کې د « ژان ژاك روسو » په شان لیکوالان چې د «امېل» په نامه کتاب یې لیکلی و، د ځاني خطر له وجهې یې سویس ته پناه یوړه، هغه دوره چې د دایرة المعارف یا انسایکلو پېډیا خپرول په کې جرم ګڼل کېده، خلك د یادو ستونزو مقابلې ته راووتل. (٣) د رومانتیسیزم د اتلسمې پېړۍ د وروستیو او د نولسمې پېړۍ د لومړیو وختونو نهضت دی، چې په ادب، فلسفه، هنر، مذهب او سیاست کې د پخوانیو شکلونو پر ضد یو عکس العمل بلل کېږي. (٤)

د ١٨ م پېړۍ لومړنۍ نیمایي د لیکوالو او فیلسوفانو لپاره د عامو وګړو په مرسته د افکارو د استعمال فضاء رامنځ ته شوه، دیني تعصبات کم شول، د پروتستانو ودونو رسمیت وموند، د تیارې او ظلمت کاسه نسکوره شوه. تر ١٨ م پېړۍ پورې ادبیاتو خاص پر عقلانیت باندې تکیه کوله، د ١٨ م پېړۍ له دویمې نیمایي راپه دېخوا هنر او ادبیات له حسي انتقاد سره مخامخ شول چې ډېرو لیکوالو د عقل پر وړاندې احساساتو ته ډېره ترجیح ورکوله، د رومانتیزم دورې په اثارو کې غمیز مسایل ډېر تر سترګو کېږي، د دې دورې وګړي په ټولنیز ژوند او ځینې یې هم د برابرۍ او خپلواکۍ پلویان او خوښوونکي وو.(٥) د رومانیت تحریك په راتګ سره

د شاعرانو په شعرونو کې د خوښیو انګازې خورې شوې، ادیبانو کوښښ وکړ، چې د روم او یونان د کلاسیکو آثارو د تاثیر لاندې رانه شي، پام یې د سکاندینا شمال لور افسانو ته واړاوه او په ادبیاتو کې یې نویو رومانتیکو مسایلو ته مخه کړه.(٦)

سکاټلینډي حماسه ویونکی شاعر اوسیان Ossian د دریمې مېلادي پېړۍ د اروپايي رویانیستانو له غوره بېلګو څخه ګڼل شوي د یاد شاعر (نابینا ) اثر یې د هومر له آثارو سره برابر ګڼلی دی. کله چې رومانتیزم یا رومانیت تحریك د المان په هېواد کې لوړې پوړۍ ته ورسید، د لومړي ځل لپاره د سویس په زوریخ کې ګسنر gessner (١٧٨٨- ١٨٣٠ م ) د (هابل مرګ)په نامه منظومه ولیکله چې په دې منظومه کې چوپاني ژوند، له طبیعت سره مینه او هیلو ته رسېدل یې په کې تمثیل کړي وو.

له ګسنر څخه را وروسته، شیلر او ګویته د المان په ادبیاتو کې په زړه پورې، تلپاتې آثارو لیکلو ته لار موندله او د غوره رومانتیکو اثارو لیکل یې په برخه شول.(٧)

ژان ژاك روسو د فرانسې له هغو حساسو اشخاصو څخه ګڼل شوی چې د رومانیت تحریك په رامنځ ته کولو او د رومانتیزم ما قبل دوره چې رومانتیزم په کې رامنځ ته شو تر بل هر چا ډېر د ستایلو او یادونې وړ دی.

د رومانتیزم مخکینۍ دوره په اصل کې هغه دوره ګڼل کېږي چې په هغه کې عاطفي غوښتنو ادبیاتو ته لار موندله.

په رومانتیك پیر کې له علومو څخه ډېر څه ترلاسه شول، ادبي موضوعات خپاره او ادبي ورځپاڼو ارزښت موند. د رومانیت تحریك په لومړیو شپو ورځو کې منظوم او منثور ادبي اثار په میاشتنیو او مهالنیو ادبي خپرونو کې چاپ او خپاره شول، رومانتیزم دورې د لیکوالو او هنرمندانو د ټولنیز مقام په پراختیا کې ژور رول ولوباوه. (٨)

رومانتیزم هغه دوره ده چې خیالي افسانو او عشقي مسایل او موضوعات په لیکني ډول په ادبیاتو او ټولنیزو علومو کې د ١٩ م پېړۍ په پیل سره د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې خپاره کړل.

رومانتیزم په ۱۶۷٦ م کال د فرانسي لیکوالو، شاعرانو، ادیبانو او فیلسوفانو ترمنځ د لیکنو او استعمال چوکاټ ته داخل شو چې تر ډېر وخت پورې د خیال پردازۍ، افسانو او عشقي مسایلو د خپراوي په موخه کارول کېده.

د فرانسې رومانتیزم د انګلستان او المان د رومانتیزم د اغېز له امله رامنځ ته شو، د لومړي ځل لپاره شاتو بریان chateaubriand د انګلیستان شاعرانو اثار او مادام دوستان د الماني شاعرانو اثار خپلو فرانسویانو ته په فرانسوي ژبه وژباړل چې بیا وروسته ورو ورو د رومانتیزم لړۍ په فرانسه کې زور ومونده. د فرانسې نور غوره رومانتیستان لکه: الکساند، دومای پدر، ویکتور هوګو، آلفرد دومسه او سنت وو او ژرژسان چې غالباً په فکري او روحیی لحاظ یې ورسره جوت توپیر درلود، یې له توپاني حالته راوویستل. (۹)

## د رومانتیزم د مکتب اصول:

رومانیت ډېر پیچلي او بې نظمه اصول او ځانګړنې لري، د کلاسیزم د اصولو په نسبت رومانیت اصول د خپلو پیروانو له خوا ډېر د منلو وړ دي. شلګل schlegel چې د الماني رومانتیزم له سرلارو ګڼل کېږي، پر دې عقیده دی چې د رومانیت ادبیات د بېلابېلو ادبي ډلو د ناستې پاستې (مشورتي) جریان نماینده ګي کوي. که وغواړو چې د کلاسیزم او رومانتیزم د پلویانو تر منځ مقایسه وکړو، لاندې پایلو ته رسیږو:

۱ـ د کلاسیزم پلویان د خپل فکر په مدار عقیدت لري، یعنې ایډیالستان دي او په هنر کې دوی یواځې او یواځې د ښکلا ستاینه ګوري، د رومانتیزم پلویان بیا په دې عقیده دي، چې په هنر کې د هنر د ښکلا له ستاینې لومړی د هنر ښه او بد اړخونه څېړي.

د رومانتیزم ډرامه (ډرام) هغه اثر دی چې له خوارۍ، بدبختۍ، سترتوب، غم او خوښۍ جوړه ده، په دې ډرامه کې د ژوند بېلابېل اړخونه په پام کې نیول شوي دي.

۲ ـ د کلاسیزم پلویان عقل د شعر اساس او بنسټ ګڼي، د رومانتیزم پلویان احساس او خیال پردازي د شعر اساس بولي.

۳ـ د کلاسیزم پلویان د پخواني روم او یونان له ادبیاتو اغېـزمن وو، د رومـانټیزم پلویان د منځنیو پېړیو (رنسانس دورې) د خپل هېواد لـه ملـي افسـانو او مسـیحي ادبیاتو اغېزمن وو، د رومانیت پلویانو بله ځانګړنه داده، چې د نورو ملتونو له معـاصرو ادبیاتو او په ځانګړې توګه د شکسپیر لارویان هم وو.

۴ـ د کلاسیزم پلویان یـو شي تـه د قاطعیـت پـه نظر ګـوري، وار لـه واره یـې د موجودیت ځرګند حقیقت بیانوي.

د رومانټیزم پلویان د یو شي، رنګ، ښکلا او منظرې ته پـه پـام سره د هغـه شي حقیقت بیانوي، یعنې کلاسیزم د یو شي جزئیات په پام کې نه نیسي.، د یـو شي پـه کلیاتو تکیه کوي.

۵ ــ رومانیـت د خپـل فکـر پـه وسـعت سره د کلاسـیزم قواعـدو تـه مـاتې ورکـړه، رومانټستانو د یو شي په اړه آزادانه فکر کـاوه، د موضـوع اړونـد ټـول مسـایل یـې د فکـري آزادۍ په رڼا کې خپرول، ویکټور هوګو د خپلې ارناني (Hernani) نمایشنامې پـه سریـزه کې ویلي: «په هنر کې د خپلواکۍ غوښتنه.» (۱۰)

## د رومانتیزم ځانګړنې:

**۱ـ آزادي:** په ۱۸۳۰ م کال کې ادبي انقلاب رامنځ ته شو، چې ویکتـور هوګـو او ملګرو یې د هغو مخکینیو پرېکړو پر اساس چې د دوی په مجله کې خپـرې شـوې وې، رومانیت یې( د هنر او شخصیت آزادي) مکتب په نامه ونوماوه. په دې دروه کـې د فکر او بیان آزادۍ ته د قدر په سترګه وکتل شول، ادبیات یـې د ژوندانـه د اړخونـو په بیان کې آزاد ګڼل. د انساني او ټولنیز ژوند په ډېـرو مسـایلو کـې یـې سـترګې نـه پټولې. د رومانټیزم په چوکاټ کې یې د یـو شي ښایسـت او بـدرنګوالی (ښـه والی او بد والی) ښکاره کاوه، مروجو اخلاقي قوانینو ته یې پاملرنه نه کوله.

**۲ـ شخصیت:** یو رومانټیك هنر مند د کلاسیزم لـه قواعـدو د ځـان ژغـورنې او آزادۍ په لټه کې وي، په هنر کې (ځان ) ته تابع کېدل غواړي او د هنر په مرسـته د خپلو جسمي (دروني) احساساتو د بیان غوښتنه کوي، چې دې کـړنلارې تـه بایـد د ځانښودنې په شك ونه کتل شي.

رومانټیك هنرمند د کلاسیزم د پلویانو په شان د کلي انسان له سـتاینې ځخـه ډډه کوي، دوی له افسانو ځخه اتل نه جوړوي، بلکې له خپـل شخصـیت ځخـه اتـل

جوړوي.

**۳ـ احساسات او هیجان:** الفرد دومسه ویلي: «باید هذیان (چټیـات) ووایـم.» احساساتو ته په عقل ترجیح ورکول د رومانیت د پلویانو له اړوندو اصولو څخه ګڼل کېږي، رومانتېستان په دې عقیده دي چې هنرمند هیجان رامـنځ تـه کـوي او خلـك په هیجان راولي، زړه باید پرته له قید او شرط خـبرې وکـړي او پرتـه لـه قیـد او شرط امر وکړي. (۱۱)

دوی وايي: شعر باید پرېشانې زلفې باد او توپان ته وسپاري او هغه بې لسـتونو جامې او بربنډې ځنګلې د ونې د سیوري لاندې، د سپوږمۍ پـه رڼـا کـې د یـو وران برج په څنګ کې په داسې زړه سره چې پرته له شك د عشق په زور مـات شـوی وي، له خپل شخصیت سره خبرې وکړي او د خیال په خوبونو کې ډوب شي.

رومانتېك ادبیات داسې شکل جـوړوي چـې وار لـه واره د خلکـو پـه زړونـو کـې ځای ونیسي، احساسات، عواطف او د ژوندانه بېلابېـل اړخونـه د ټـولنې لـه جزئیـاتو راپېلوي او عام ولس ورسره اشنا کوي.

رومانتېك غم هغه وخت شدت پیدا کوي، کلـه چـې بـې رحمانـه تېـر وخـت پـه سترګو ولیدل شي.

د نا ارامه او دردېدلي زړه دا غم زیاتره له هغه غوښتنو راپیدا کېږي، کله چې په بې احساسه او بې ایمانه نړۍ کې ګرفتار شي. (۱۲)

**۴ـ تېښـته، خلاصـون او سـیاحت:** د رومـانتیزم د پلویـانو بلـه ځانګړنـه داده چې د ټولنې یا چاپیریال د موجوده حالاتو یا زمانو د سـتړیا احسـاس وکـړي، د نـورو زمانو او فضاوو پر لور په تاریخي، جغرافیایي، واقعي یا خیالي توګه سـفر کـوي، چـې دا د رومانتېکو آثارو مهم بحث تشکیلوي.

اکثر رومـانتېکو لیکوالـو خپلـو زمـانو او اسـتوګنځایونو پرتـه د خیـال او فکـر پـه واسطه یا په واقعي توګه او یا هم په تاریخي او جغرافیایي لحـاظ پـه خپلـو آثـارو کـې ډېر نور هېوادونه، کارنامې او افسانې د فکري سفر په واسطه ترسیم کړي دي. (۱۳)

د بېلګو په توګه: موسه د پـریکلیس pericles د زمـانې یادونـه کـړې، پـه یـو نـه یوډول یې د هغه طلایي عصر بیان کړی دی او تر ایټالیا پورې یې د فکر وړانګو سـفر کړی دی. همدا شان نورو رومانتېکو لیکوالو لکه: مریمه اسپانیا تـه، الکسـاندر دومـا

اسپانیا او ایټالیا ته، تئوفل ګویټه اسپانیا، مشرق، روسیې او ایټالیا ته، شاتو بریان، نروال او نورو په خپلو آثارو کې د مشرق ستاینه او یادونه کړې. لکه څنګه مو چې یادونه وکړه، دوی که په واقعي توګه هلته تللي، یا یې په تاریخي، جغرافیایي او افسانوي توګه په خپلو اثارو کې یادونه او ستاینه کړې ده او د هغو خاطرات یې ځلولي دي. له دغو ټولو اروپایي سفرونو څخه د رومانټیسټانو هیله په زړه پورې ښایسته ټولنې چاپیریال او د بېلابېلو تازه رنګونو د پیدا کولو او لاس ته راوړلو لټه وه، یعنې هغه له کماله ډکه ښکلا چې رومانټیک هنرمند ورپسې ګرځي، ترڅو د رومانټیزم اصل ته ځان په کې ورسوي.(١٤)

**۵ــ کشف او مشاهده:** رومانټیک هنر مندان په دې عقیده دي چې د حقیقت پر ځای تخیل، هیلو او معجزو ته ځای ورکړي، د دې پر ځای چې تقلید وکړي، د خیال او تصور پیروي کوي. دوی په دې باور دي، هر هغه څه چې په نظر راځي او لیدل کېږي، مهم نه دي، بلکې هغه څه چې ثابت شتون ولري مهم او ضروري دي، رومانټیزم د یو شي یو ډول منځنی مبالغه ده. (١٥)

ــ د خبرو او وینا جادوګري: رومانټیزم یوې کلمې ته ډېر ارزښت ورکوي او پر دې باور دي چې کلمات باید خیال انګېزه مفهوم د یوې زړه وړونکې سندرې په ترڅ کې بیان کړي.

ویګتور هوګو وایي: «کلمه له خبرو او وینا څخه عبارت ده او خبرې خدای دی.» همدا شان په انجیل کې هم راغلي دي: «لومړی کلمه رامنځ ته شوې او کلمه خدای وه. (١٦)

**۷ــ له مسیحیت سره مینه او علاقه:** د رومانیت پلویان د ۱۸ مې پېړۍ د فیلسوفانو مخالف وو، ځکه چې هغوی له مسیحیت سره د مینې مخالفت کاوه. دین ته د زړه او باطن د احتیاجاتو په نظر کتل احساس یې د دین له ابلاغ او دین سره د پیوستون لار ګڼله، شاتو بریان په خپل اثر «د مسیحیت جلال»کې له مسیحیت سره په دې د مینې اظهار کړی، چې مسیحیت شاعرانه دین دی، نه دا چې بهترین دی. دغه روحاني دروني پیوستون د دې باعث شو چې رومانټیکیلیکنې د یو روح د خاطراتو په ترڅ کې تعبیر شي. (١٧)

رومانټیکو لیکوالو د خپلو اعصابو د تسکین لپاره تخیل، وهم پرستی، آزادی

او لاقیدی، د طبیعیت له مناظرو سره مشغولا، طغیان او سرکشي، عشق، ترحم، شعر او موسیقي، د افسانو او سېمبولونو تراش، تصوف، بېخودي او ځان هېرول او داسې نور مفاهیم خپل شعار وګرځول.

دوی ځان ته د خپلو اندېښنو له ځښتو خیالي رومانتیکي ماڼۍ جوړې کړې، له همدې ځانه یې د رومانتیزم ډېوه روښانه ساتله.

(ګوزپشت نتردام) د ویکتور هوګو غوره منثور اثر د رومانتیزم په زمانه کې د ګوتیك حماسې په بڼه رامنځ ته شو.(۱۸)

که په دې خبره اقرار وکړو او غاړه کېږدو څومره چې کلاسیزم د منځنیو پېړیو له راتګ وېره درلوده، رومانتیزم ورسره مینه لرله او وده یې په کې موندله او په هماغه اندازه رومانتیزم د همدې پېړیو د راتګ هرکلی کاوه.

که یې را لنډه کړو د رومانیت مکتب اساسي ځانګړنه پر استدلال او تعقل باندې د احساس او تخیل له لوړاوي ورکولو څخه عبارت ده، د دې مکتب پلویانو په خپل ځانګړي لید سره په حقیقت کې ژبې ته تازه والی وروباخښه او شعر ته یې نوی رنګ او تازه ګي ورکړه، د رومانتیزم مکتب ځانګړی پروګرام درلود چې د هغې په رڼا کې یې خپله تګلاره وهله، دغه کرښلاره له آزادۍ، شخصیت، هیجان، احساساتو، تېښتې او خوځښت، کشف او شهود او بالاخره د خبرو له سحر څخه عبارت وه. (۱۹)

د تیاتر په نړۍ کې د هوګو (کرمول) مقدمه نمایش او ننداري ته وړاندې شوه چې د دې ننداري په ښودلو سره ستر انقلاب رامنځ ته او رومانتیك ډرامې په کې وړاندې او بیان شوې.

«انتوني» نمایشنامه د « دوما » اثر، (ارناني) د هوګو اثر، (شاترتون)د الفرد دوویني له رومانتیکي نمایشنامو څخه دي. په غالب ګومان د « روح او نفس » په نامه اثر او د « شنت بو » د «شهوت» په نامه اثر، چې د رومانتیزم په دوره کې ډېر د پام وړ وو، اتلولي یې رامنځ ته کړې او د رومانتیزم مینه والو ته یې ددې اثارو د نمایش او ننداري په ښودلو سره فکري وده رامنځ ته کړه. (۲۰)

ویکتور هوګو په رومانتیزم کې د نثري لیکنو قوي استعداد درلود، هغه په خپلنثري رومانتیك اثر (هغه سړی چې تر اوسه خاندي) کې ظاهري یا بېروني بدوالی له باطني یا دروني ښکلا سره یو ځای کوي. په بل اثر (بېنوایان) کې هم ټولنیز قوانین د انساني

اخلاقو او فردي قوانینو سره یو ځای کوي.

په یو بل رومانتیکي اثر کې (دیو محکوم اخري ورځ) کې هم د انساني درد او رنځ بیان کوي، همدا شان د (د سیند کارگران) نومې اثر کې هم د انسانانو او طبیعت شخړې بیانوي.

نوموړې رومانتیسته لیکواله «ژرژساند Georgesand » هم په زړه پورې نثري، غنایي او حماسي آثارو ایجادگره گڼل کېږي، چې په رومانتیزم کې یې په زړه پورې تاثیرات لرلي او د دې مکتب په لارویانو کې یې مثبت بدلون راوستی دی.

مېرمن (ژرژساند)د فرانسې مشهوره رومانتیسته لیکواله په خپله یوه جمله کې وایي: «موږ یو بد بخت نسل یو، له دې امله د خپلې بېوزلۍ په سبب مجبور یو، چې د هنر د درواغو په مرسته خپل ځان د ژوند له واقعیت څخه لیرې وساتو.» (۲۱)

کولای شو چې ووایو رومانیت د ریالیزم په کړنو د مقدمې په رڼا کې لومړی وگڼو، په دې معنا چې د ټولنیزو مسایلو بریالیتوب او د وگړو ترمنځ اړیکې د رومانتیزم له مهمو ټکو څخه شمېرل کېږي، چې ټولنیز ژوندانه ته یې د خپل فکري مکتب (رومانیت) په مټ وده او پرمختگ ورکړ.

د۱۸۳۰ــ ۱۸۴۰ م کلونو د سیاسي توپانونو د رامنځ ته کېدو او د رومانتیزم د قوي سرلارو د یو بل نه جلا والي او لرې کېدل د دې سبب شول، چې د رومانتیزم مکتب له ورکې سره مخامخ شي، الفرد دومسه، لامارتین او الفرد دوینی د دې مکتب په پیروۍ له لیکنو لاس واخیست، یواځې ویکتورهوگو تر خپل مرگه (۱۸۸۵م) پورې د رومانیت پلوي پاتې شو او خپلې رومانتیکي نثري او منظومې لیکنې یې جاري وساتلې. (۲۲)

په انگلستان، فرانسه، المان، روسیه، مجارستان او نورو هېوادونو کې هم رومانتیك ادبیاتو پوره وده کړې وه او د دغو هېوادونو لیکوالو د دې ادبي مکتب په پرمختگ کې پوره ونډه لرلې ده، چې دلته یې له زیات تفصیل څخه تېرېږو او په لنډ ډول د رومانیت تحریک په پښتو ادب کې څېړو:

که څه هم په پښتو ادب کې رومانتیسیزم د نړیوال رومانوي مکتب له امله رامنځته شوی ښکاري خو له دې سره سره له دې حقیقت نه هم سترگې نه شو پټولای چې د رومانتیسیزم عناصر د هرې ژبې په ادب کې له وړاندې موجود وو، د پښتو ادب په تاریخ

کې خوشال بابا هغه ستره هستي وه چې د پخوانیو ادبي روایاتو پر خلاف یې د بغاوت بیرغ پورته کړ او په خپل شعر کې یې نوي مفاهیم او نوي خیالات ځای کړل، کوم چې د نړیوال رومانوي مکتب بنسټیز محرکات ګڼل کېږي، خو له خوشال نه وروسته بیا د هغه د فکري مکتب نورو پیروانو دغه سلسله په سمه توګه ونه پالله او بیرته خبره کلاسیکیت او روایت ته وروګرځېده. که څه هم ځینو لیکوالو رومانتیسیزم د پښتو په کلاسیک ادب کې هم تر څېړنې او مطالعې لاندې نیولی او د حمید بابا او ځینو نورو شاعرانو په اشعارو کې یې د رومانوي شاعرۍ څرکونه بیان کړي دي، خو په باقاعده توګه په پښتو ژبه او ادب کې رومانیت د شلمې پېړۍ پیداوار دی.

رومانتیسیزم یا رومانیت پښتو ته یوه ناوخته راغلې اصطلاح ده چې تر ډېره د اردو او انګلیسي ادبیاتو په لاره یې پښتو ژبې ته لار پیدا کړې ده. له پښتو ژبې نه مخکې اردو ژبې د انګرېزي ژبې نه رومانیت خپل کړی دی، چې د اختر شېراني، علامه اقبال لاهوري او د اردو ژبې د نورو شاعرانو په کلام کې په پنجاب پوهنتون کې رامنځ ته شو، پنجاب پوهنتون له پېښور پوهنتون څخه پنځه ویشت کاله وړاندې جوړ شوی و او په لوی هند کې د ټیګور غوندې شاعر او لیکوال په بنګال کې او ډاکټر اقبال په پنجاب کې زده کړې کړې وې او له انګرېزي ادب سره ښه اشنا وو. د دوی یو بل همعصر شاعر خلیل جبران د اردون د سیمې شاعر و، د اقبال جاوید نامه د رومانتیسیزم نه ډکه ده، د بانګ درا نظمونه یې هم رومانټیک دي، د ټاګور شاعري ګیتانجلي هم صوفیانه رومانټیسیزم دی، دغه شان ناولونه او افسانې یې هم د رومانتیسیزم خصوصیات لري. حفیظ جالندري او د هغه لومړنۍ شاعري له غزل او شاهنامو څخه پرته له رومانټیک ښکلو ښکلو نظمونو څخه ډکه ده، بل خوا ورسره جوش ملیح ابادي یو رومانټیک نظم ویونکي شاعر دی او همدا شان د ټولو نه اول اسماعیل میرتهي د فطرت د مختلفو شیانو تجربه کړې وه، خو دا ټول د انګریزي شاعرۍ د مطالعې وجهه وه چې په اردو ادب کې د روماتیسیزم مکتب پیل شو او د وروستي دور اردو ژبو شاعرانو فیض احمد فیض او ساحر لدهیانوي په شاعرۍ کې د رومانتیسیزم ټول خصوصیات موندل کېږي (۲۳)

کله چې پېښور پوهنتون جوړ شو، نو په هغه وخت کې فضل حق شیدا، سید رسول رسا او اشرف مفتون غوندې شاعران پیدا شول. د فضل حق شیدا پر شاعرۍ د اقبال اثر پروت و او سید رسول رسا یو نیم رومانټیک نظم لیکلو خو د اشرف

مفتون په شاعرۍ کې د رومانټیسیزم توکي په پرېمانه توگه وو په همدغه وخت کې یونس خلیل هم و چې رومانټیک نظمونه یې لیکل په همدې وخت کې د اجمل خټک هم د رومانټیک شاعرانو په کتار کې خپل ځای معلوم کړ همدا ډول غني خان، همېش خلیل او قلندر مومند هم د رومانوي شاعرۍ کامیابې تجربې وکړې عبدالرحیم مجذوب هم په همدې دور کې د رومانوي شاعرۍ په لار کې د ساحر لدهیاني لار ونیوله، خو که موږ په پښتو معاصر نظم کې د روماټیسیزم بشپړ نماینده شاعر پلټنه وکړو نو اشرف مفتون به داسې شاعر وموو چې په پښتو شاعرۍ کې د روماتیسیزم د ادبي مکتب تقریباً ټول خصوصیات یې په خپله شاعرۍ کې ځای کړي دي. ښاغلی عبدالله جان عابد په خپل کتاب (پشتو زبان وادب کې مختصر تاریخ ) کې وایي چې اشرف مفتون او غني خان د پښتو رومانوي شاعرۍ هغه ستنې دي چې په کلامونو کې یې د رومانویت ټول عناصر شامل دي (٢٤)

موږ وویل چې په پښتو ادب کې رومانوي شاعري یا رومانتیسیزم اثرات په شلمه میلادي پېړۍ کې په ډېر آب وتاب راپورته شول چې موږ د دغه مکتب سرلاري په ځانگړي توگه اشرف مفتون، عبدالرحیم مجذوب، فضل الحق شیدا، یونس خلیل، سید رسول رسا، رحمت الله درد، غني خان، همېش خلیل ، ایوب صابر، پرېشان خټک، اجمل خټک، قلندر مومند،، هاشم بابر، سلیمان لایق، محمد صدیق پسرلی او نور یادولی شو، دغو شاعرانو او لیکوالو په شعوري ډول رومانتیسیزم پښتو ته داخل کړو او ترڅنگ یې په مخامخ ډول د رومانتیسیزم مطالعه هم کړې وه، چې په دې ډول د دغو شاعرانو په اشعارو کې رومانتیسیزم مکتب زیاتره توکي لکه، فکري آزادي، جمالیاتي رنگ او فطرت نگاري او له فطرت سره مینه، شاعرانه بغاوت، حسن او عشق، د تخیل او اظهار آزادي موږ په زغرده لیدلای شو.

**پایله:**

رومانتیسیزم دَ انگرېزۍ ژبې کلمه ده چې د انگرېزۍ د (Romance) نه او(Romance) بیا د فرانسي ژبې لفظ د (Romanz) نه اخیستل شوی دی چې لغوي معنا یې د خلقو خبرې دي او د رومانس لغوي معنا د حکایت، داستان او افسانه په معنا کې کېږي. اصطلاحاً ”رومان“ او ”رومانویت“ جدا جدا معنا لري ـ

رومانویت د ژوند یوه مخصوصه رویه ده چې ازاد خیالي ، انا پرستي ، مستي ، ځانخوښونه او د بغاوت په شان توکي په کې جوت وي ـ د تخیُل دغه ازادي د تخلیق یوه داسې چینه رابرسېره کوي چې د یو طوفان نه په هیڅ صورت کم نه وي ـ رومانویت د احساس او اظهار هغه انداز او طرز دے چې د فکر په ځای پپه کې د تخیُل تومنه درنه وي. د خوب او خیال په رنګین جهان کې ګرځېدل رومانویت دی او په دغه لحاظ ورته ځینو خلقو د ایتوپیا سره یو شان ګڼلی دی.

که څه هم رومانتسیزم تحریک په فرانسې کې رامنځ ته شوی او پښتو ادب ته په شلمه پېړۍ کې راغلی دی ، خو په پښتو ادب کې یې هم د نورو ژبو د ادبیاتو په څېر یې ربښې درلودې چې په شلمه پېړۍ کې د یو باقاعده او ځانګړي ادبي تحریک په توګه رواج شو او زیاتو پښتنو شاعرانو په دغه لار کې خپلې نوې تجربې وکړې.

## مأخذونه:


١. آریانا دایرة المعارف، څلورم ټوك، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف مرکز، نبراسکا مطبعه، کابل، ٢٠١١ م کال، ١١٩ مخ.

٢. څېړندوی محمد صدیق روهي، ادبي څېړنې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ١٣٨٦ ل کال، ٣٨٦ مخ.

٣. غلام حسین ده بزرگی، تاریخ ادبیات جهان، چاپ اول، انتشارات، زوار، تهران، بهار١٣٨٦ش، ١٣٧ص.

٤. څېړندوی محمد صدیق روهي، ادبي څېړنې، ٣٨٧ مخ.

٥. دیوید دیچیز، شیوه های نقد ادبی،ترجمه، صدقیان، محمد تقی و یوسفی، غلام حسین، چاپ پنجم انتشارات، علمی، تهران، ١٣٧٩ش، ١١٩ ص.

٦. غلام حسین ده بزرگی، تاریخ ادبیات جهان، ١٣٢ ص.

٧. سید حسینی رضا، مکتب های ادبی، چاپ چهاردهم، انتشارات، نگاه، تهران، ١٣٨٥ش، ١٢٣ ص.

٨. غلام حسین ده بزرگی، تاریخ ادبیات جهان،، ١٣٤ ص.

٩. دیوید دیچیز، شیوه های نقد ادبی، ١٣٤ص.

۱۰. لُیس تایسن، نظریه های نقد ادبی معاصر، ترجمه، حسین زاده، مازیار و حسینی، فاطمه، تهران، ۱۳۹٤ ش. ۸۹ ص.

۱۱. سیروس شمیسا، نقد ادبی، دریم چاپ، انتشارات فردوس، تهران، ۱۳۸۱ ش، ۱۷۳ ص.

۱۲. لُیس تایسن، نظریه های نقد ادبی معاصر، ۱۳۱ ص.

۱۳. آنتونی گیدنز، جامعه‌شناسی و نظریه اجتماعی، ترجمه منوچهر صبوری، نشر نی ۱۳۷۸ ش، ۱۳۸ ص.

۱٤. میر صادقی جمال، ادبیات داستانی، انتشارات شفا، ایران، تهران، ۱۹۸۷ م، ۳۷ ص.

۱۵. ابوالحسن نجفی، وظیفه ی ادبیات،کتاب زمان،خیابان شاهرضا، تهران، چاپ اول،۱۹٦۳، ۸۹ ص.

۱٦. آنتونی گیدنز، جامعه شناسی و نظریه ی اجتماعی، ٦۵ ص.

۱۷. ابوالحسن نجفی، وظیفه ی ادبیات، ۱۲۲ ص.

۱۸. میر صادقی جمال، ادبیات داستانی، ۱۳۲ ص.

۱۹. آریانا دایرة المعارف، څلورم ټوك، ۱۱۹ مخ.

۲۰. ابوالحسن نجفی، وظیفه ی ادبیات، ۸٦ ص.

۲۱. غلام حسین ده بزرگی، تاریخ ادبیات جهان، ۸۹ ص.

۲۲. سیروس شمیسا، نقد ادبی، ۱۷٤ ص.

۲۳. عبدالرحیم مجذوب، د رومانوي تحریک پسمنظر، خصوصیات او پښتو ادب ته راتگ، جرس، نظم نمبر، کراچي، ۲۰۰۱- ۲۰۰۲ م کال، ۱۷۵ مخ.

۲٤. عبدالله جان عابد، پشتو زبان و ادب کې مختصر- تاریخ، یونیورسټي پبلشرز، پشاور، ۲۰۰٦ م کال، ۲٦ ص

پوهنیار فهیم بهیر

# د تخلیق او تحقیق تر منځ ګډې او بېلې کرښې

**لنډیز:**

تحقیق او تخلیق د ادبیاتو دوې مهمې برخې دي چې تخلیق خپله خالص ادب یا هنر ګڼل کېږي. په تخلیقي اثارو کې لیکوال هڅه کوي چې لیکنه یې ډېره هنري وي که هر څومره د یوې لیکنې تخیل زیات وي په هماغه اندازه لیکنه ښکلې وي. د تخلیقي ادبیاتو ژبه هنري وي هلته کلمې د اصلي معناوو تر څنګ نورې ضمني معناوې هم لري. په تحقیق کې د ژبې کلمې په اصلي معنا کارول کېږي که چېرې پر تحقیق باندې تخلیق خپل سیوري وغورځوي دا بیا د لیکوال لپاره یو عیب ګڼل کېږي.

تحقیق او تخلیق په خپل منځ کې سره کلکې اړیکې لري چې له یو بل څخه پرته هېڅ په لاس نه راځي. تخلیق د تحقیق لپاره مواد برابروي او له دغو موادو څخه ګټه اخیستنه د تحقیق کار دی که چېرې تحقیق نه وي، نو بیا تخلیق هیڅ معنا نه لري. د څېړنې د لارې ورځ تر بلې نوي معلومات تر لاسه کېږي او پر همدې اساس د علومو او د انساني ژوند په بیلابیلو برخو کې د پرمختګ ستر شاهد یاستو. په لنډه توګه که ووایو تخلیقي اثار خالص ادبیات دی چې په بېلابېلو فورمونو کې را څرګندیږي، مګر د تحقیق د رامنځته کېدو لارې چارې د تخلیق سره جوت توپیر لري.

## سریزه:

د ادبپوهانو له خوا ادبیات پر دوو برخو ویشل شوي چې یو یې تخلیقي ادبیات او دویم یې تحقیقي دي. په تخلیقي ادبیاتو کې ټولې هغه

لیکنــې راڅــي چــې هــنري ارزښــت ولــري یــا پــه بلــه معنــا د تخیــل پــه مرســته رامنځتــه شــوي وي. ادبي ژانرونــه؛ لکــه: شــعر، لنــډه کیســه، نــاول، رومـان، طنـز، ادبي ټوټـه یـا نـور هـنري ژانرونـه د تخلیقـي ادبیـاتو پـه کتـار کـې راځـي. د دې ژانرونـو لیکنـې د تخیـل پـه مرسـته رامنځتـه کېـږي کـه چېـرې پـه دې فورمونـو کـې د لکینـې پـر مهـال لـه قـوي تخیـل څخـه کـار اخیسـتل شـوی وي لیکنـه هـومره هـنري ګڼـل کېـږي، خـو کـه چېـرې د تخیـل اړخ یـې تـت وي د لیکنې ادبي اړخ هم کمزوری ګڼل کېږي.

تحقیقـي یـا څېړنیـز ادبیـات هغـه دي چـې هغـه د تخلیقـي ادبیـاتو پـه اړه د شننې او تشریح د لارې رامنځته کېږي.

## د لیکنې اهمیت او مبرمیت:

د دې لیکنـــې اهمیــت پـــه دې کـــې دی چـــې د تخلیـــق یـــا پنځـــونې او تحقیـق اصـلي کرښـې بـه واضـح شي، کـومې دي څنګـه دي او څنګـه بایـد وي، کـومې څېړنـې او لیکنـې چـې کېـږي ولـې مـوثرې نـه دي او یـا هغـه تمـه چـې تـرې کېـږي ولـې یـې نـه شي تـرسره کـولی. مبرمیـت یـې دا دی چـې پـه دغـې مقـالې سره بـه ځـوان لیکـوال او د دې لارې مینـه وال بـه پـه دغـه برخـه کـې نـوو او بـاریکو نقطـو تـه ځیـر شي او هـم بـه پـه ګانـده کـې ورتـه دغـه مقالـه لارښـودي حیثیـت ولـري. یعنـې پـه دې معنـا د ادبیـاتو د دې دواړو ډولونـو« تحقیقـي او تخلیقي» ژبې هم سره توپیر لري.

## موخې:

هـره چـاره د یـوې مـوخې لپـاره تـرسره کېـږي، د تخلیقـي ادبیـاتو د ژبـې کلمـې هـم اصـلي او هـم ضـمني معنـاوې کـاروي د دواړو هدفونـه هـم سره جـلا دي، پـه تخلیقـي ادبیـاتو کـې ډېـرې خـوا وې نـورې هـم خونـدې وي چـې د څېړنـې د لارې را سـپړل کېـږي، مګـر د تحقیـق پـه ژبـه کـې کلمـې خپلـې اصـلي معنـا وو لپـاره کـارول کېـږي نـورې ضـمنې معنـاوې نـه لـري. کـه چېـرې پـه کـوم تحقیقـي اثـر کـې هـنري کلمـې او جملـې کـارول شـوې وي بیـا نـو لوستونکي په سختۍ له متن څخه پیغام اخلي.

یعنــې د دې څېړنــې موخــه دا ده چــې د تخلیــق او تحقیــق تــرمنځ بــه

گـډې او بېلــې کربنــې پــه څرگنــدو ټکــو جــلا او تفکیــک شي او مبتــدي لیکوال به په دې برخه کې له کومې ستونزې سره نه مخامخېږي.

تحقیق او تخلیق دواړه سره گډ اړخونه هم لري که چېرې تخلیق نـه وي، نـو د تحقیق لپاره به خام مواد کـم وي چـې څېړنـه پـرې وشي همـدا تخلیـق دی، چـې د تحقیق لپاره شرایط برابروي. که چېرې تحقیق نه وي نو بیا موږ نه شو کولای چـې د یو ادبي یا هنري اثر پر اهمیت ارزښت پوه شو.

## د څېړنې پوښتنې:

د تحقیق او تخلیق تر منځ کومې اړیکې موجودې دي؟

فرعي پوښتنې: الف ـ ایا دواړه د جوړښت او شکل له مخې توپیرلري؟

ب: ایا د دواړو ژبه سره توپیر لري؟

ج: که د دوی اړیکې یو د بل لپاره مهمې دي؟

## د څېړنې شالید:

د تحقیق او تخلیق په اړه په یو شمېر ادبي تاریخونو کې لکه د پښتو ادبیـاتو تاریخ لومړی او دویم ټوک، د پښـتو ادب تـاریخ لرغـونې دوره، د پښـتو ادب معـاصره دوره او همداسې په یو شمېر نورو ادبي اثارو کې د تحقیـق او تخلیـق پـه اړه یـو څـه رڼا اچول شوې ده. په دې ورستیو کې د تحیق په اړه جلا اثار هـم لیکـل شـوي دي چې په هغو کې یواځې د تحقیق پر پېژندلو او لارو چارو باندې بحث شوی دی.

د تخلیقي اثارو په اړه هم په یو شمېر ادبي تاریخونو او یو شمېر نـورو اثـارو کـې ورته اشاره شوې ده په دې برخه کې په ادبپوهنه یا د ادپوهنې پـه څـانگو کـې ورتـه اشاره شوې ده او تخلیقي ادبیاتو هر فورم په اړه اوس جلا کتابونه لیکـل شـوي دي، خو د دواړو «تحقیق او تخلیق» تر منځ په گډو او بیلو خواوو باندې یا د دوی د تـوپیر په اړه څه مشخصـې کربښـې نـه دې ایسـتل شـوي چـې لوسـتونکی وکـولای شي پـه اسانی سره د دوی تر منځ گډ او بیل اړخونه درک کړي.

## د څېړنې مېتود:

هره لیکنه د خپلې موضوع په تړاو ځانگړی میتـود لـري، خـو د دې مقـالې پـه لیکلو کې زیاتره له تحلیلی، کتابتوني او تشریحي مېتـود څخـه کـار اخیسـتل شـوی دی، د مقالې ځینې برخې تحلیل شـوي دي او مثالونـه یـې وړانـدې شـوي دي، لـه

ځینو اثارو څخه په متن کې اخیستنې هم شوي دي او ځینې برخې د ضرورت له مخې لا سپړل شوې او تشریح شوي دي.

## د تخلیق او تحقیق تر منځ ګډې او بېلې کرښې:

تخلیق او تحقیق د ادبیاتو دوې عمده برخې دي چې ادبیات له همدې برخو څخه رامنځته شوی دی. د ادبیاتو ګڼ شمېر تیوري اثار چې په پوهنځیو کې تدریس کېږي د تخلیق او تحقیق د ګډو او بیلو اړخونو په اړه یا د دواړو د توپیر په اړ ځانګړې کرښې نه دي ایستل شوي، چې محصلان او نور لوستونکي په اسانه سره د دوی تر منځ توپیر جوت کړي.

فقط په همدې بسنه شوې ده چې تخلیق ادبیات لکه شعر، لنډه کیسه، ناول، رومان، طنز...او تحقیقي ادبیات هغه دي، چې د تخلیقي ادبیاتو په اړه په کښېحثونه شوي وي. د ادبپوهانو له خوا د منځپانګې له مخې ادبیات پر دوو سترو برخو ویشل شوي دي:

۱ـ تخلیقي یا هنري ادبیات ۲- تحقیقي یا څېړنیز ادبیات چې تخلیقي یا هنري ادبیاتو ته اصلي ادبیات وایي «۵:۵».

درې کاله وړاندې مې د پښتو ژبې د یو نومیالي لیکوال او له خپل استاد سره په یو دفتر کې به ادبي مسایلو خبرې کولې. هغه وویل: تخلیق له تحقیق څخه مهم دی، ځکه چې تخلیق د تحقیق لپاره مواد برابروي. د مثال په توګه پیرمحمد کاروان د هنر خاوند دی، هغه شعرونه لیکي، خو یو بل کس چې شعر لیکلای نه شي او هغه بیا د کاروان په شعرونو بحث کوي، یعنې د هغه د شعر بېلابېلو خواوو باندې څېړنه کوي دی څېړونکی دی، نو دلته د ده پر پرتله د کاروان برخه درنه ده چې هغه ادبیات ایجاد کړي دي.

خو د ماسترۍ په اخري سمستر کې د پښتو ژبې تکړه څېړونکي سرمحقق زلمي هېوادمل د خپل تدریس په یوه برخه کې د تخلیق او تحقیق په اړه خو یادونو ته اشاره وکړه او د هغه په اند تحقیق له تخلیق څخه مهم دی، ځکه چې تخلیق عروج او نزول لري، مګر تحقیق په ډګر کې چې څومره وخت تېرېږي، د څېړونکي تجربه پخېږي او په خپل مسلک کې نور هم پیاوړی کېږي.

د تخليق او تحقيق د اهميت او ارزښت په اړه دواړو استادانو خپل دلايل درلودل د دوی د اندونو په رڼا کې د همدې موضوع په تړاو په لاندې توگه څو مهمو برخو ته هم اشاره کوو:

تخليق: ټولې هغه ليکنې چې هنري ارزښت ولري تخليقي ادبيات گڼل کېږي. لکه شعر، لنډه کيسه، ناول، رومان، ادبي ټوټه او نور..

تخليقي ادبيات د تخيل په ملتيا رامنځ ته کېږي او په دې ليکنو کې چې څومره تخيلي اړخ قوي وي هومره ليکنه هنري قوت پيدا کوي. استاد روهي د هنري ادب په اړه وايي :«ادبيات يو ژبنی هنر دی چې واقعيتونه په ښکلي او جذباتي رنگ کې وړاندې کوي او د انسان ايستيتيکي غوښتنو ته ځواب وايي » « ۴: ۱۱ ».

د دې دواړو په اړه مو د ليکنې په پيل کې يو څه معلومات وړاندې کړل، خو تخليق د تحقيق په پرتله ستونزمن دی په دې معنا چې تحقيق د يو ډول اصولو او معيارونو له مخې هر سړی تر يوحده تر سره کولای شي، خو تخليق چې د تخيل په ملتيا رامنځته کېږي هر څوک دا وړتيا نه لري حتی هغه کسان چې تخليقي ليکنې کوي هر مهال دوی هم نه شي کولای يا يو شعر وليکي يا کومه بله هنري ليکنه. د دوی په وينا د الهام په مرسته دوی کولای شي يو شعر يا يوه هنري ليکنه وليکي.

دا هم د تخليق« شعر» يوه نمونه:

دا شبنم پر مخ د گل دی قطرات  
که عرق دی پر رخسار باندې نقات  
دا يې تار د زلفو کوږ و خوله ته پريوت  
که افق حلقه وهلی پر حيات  
په اول بازي د مينې په شطرنج کې  
تا په رخ کړ زما د زړه بادشاه رامات «۳ : ۷۹».

تحقيق: د تحقيق کلمه عربي ده. په پښتو کې څېړنه، په انگليسي Research ورته وايي، چې لغوي معنا يې پلټنه او د حقيقت معلومونه ده «٦: ۲۸۲».

هندي څېړونکی ډاکتر گيان چند وايي: « څېړنه د يو پټ يا مبهم حقيقت د ښکاره کولو اصولي عمل دی. څېړنه د نامعلومو يا لږ معلومو شيانو په هکله پوهېدنه ده» «۸: ۱۹ ».

د تحقیـق د لغـوي او اصـطلاحي پېژنـدنې پـه اړه ادبپوهـانو بیلابیـل نظرونـه وړاندې کړي دي، خو د تحقیق په ذریعه موږ کولای شو د یـوې ځـانګړې موضـوع د لټون د لارې حقایق را څرګند کړو.د تحیق په ذریعـه مـوږ د یـوې موضـوع اصـلي ماهیت ته رسېږو او د تحقیق لمن پراخه ده. همدا اوس د ژوند د بېلابېلو برخو په اړه څېړنې روانې دي. د علومو ډېرې برخې سره ګډې دي او د همدې څېړنې پـه ذریعـه سره بېلیږي. زموږ په ټولنه کې ډېر څېړونکي شـته دي؛ خـو د ادبیـاتو پـه برخـه کـې ډیرې راټولونې د څېړنې په نوم چاپېږي او په اوسنیو څېړونکو کـې اسـتاد سرمحقـق زلمی هېواد مل مخکښ څېړونکی دی. د څېړنې پر معیارونو برابرې او ښـې لیکنـې کوي او نوموړي په دې برخه کې تیوري اثار هم لیکلي دي.

تخلیق هنر او تحقیق علم دی: مخکې مو اشاره وکړه چې تخلیقي ادبیات هغـه دی چې هنري ارزښت ولري یا هغه لیکنه چې په لوستونکو یا اوریدونکو کې عواطف او احساس را وپاروي تخلیقي یا ادبي لیکنه ګڼل کېږي.

لنډه کیسه، شعر، ادبي ټوټه، ناول یا نورې ادبي لیکنې په ښکلې هنري ژبـه د تخیل په ملتیا رامنځ تـه کېـږي. د تخیـل پـه ملتیـا انځورونـه جـوړېږي او کیسـه پـه لوستونکي خپل اغېز ښیندي او د هغه عواطف را پاروي چـې همـدا ځانګړنـه د هـنر یوه برخه ده. په همدې اړه استاد روهي لیکلي: « نوښتګر شاعر یا کیسه لیکونکی له واقعیت څخـه خپلـه انطبـاع او برداشـت اخـلي پـه عـاطفي بڼـه انځـوروي د همـدې مفکورې پر اساس ویل کېږي چې بیا جوړونه «بـاز افرینـي» د ادب او پـه عـام ډول د هنر یوه ځانګړنه ده » « ۲:۹ ».

استاد روهي یو بل ځای لیکي: «تحقیقي ادبیـاتو تـه ادبپوهنـه یـا ادبي څېړنـه ویل کېږي یا په پله ژبه تخلیقي ادبیات ژبني هـنري اثـار دي او تحقیقـي ادبیـات د دغسې اثارو په باره کې بحث او څېړنه لري. تخلیقـي ادبیـات پـه خپلـه ادبیـات او د هنر څانګه ګڼل کېږي » «۲۱: ۱۳».

نو په لنډه توګه ویلای شو چې تخلیـق پـه خپلـه هـنر دی چـې ښـکلا او خوند لري پر لوستونکو یا اوریدونکو باندې اغېز ښندي دا هنر که په هره بڼه وي.

تحقیق علم دی او علم پر تجربو ولاړ دی. د څېړنې یا تحقیق لپاره یو لړ اصـول او ټاکلي معیارونه شته دي چې د یوې څېړنې مرحله باید هغه طی کـړي او وروسـته

بیا پایله رامنځته کېږي. تحقیق  د تخلیقي ادبیاتو د ماهیت او څرنګوالي په اړه بحث کوي، کله چې د یو اثر ماهیت یا څرنګوالی معلوموي، نو باید د تحقیق ټول مرا حل طی کړي او د یوې ښې څېړنې لپاره معیارونه بشپړ کړي. کله چې خبره د معیارونو او ټاکلو اصولو خبره شوه، نو دلته له علم سره پیوندېږي او ویلای شو چې تحقیق علمي جنبه لري.

همدا ډول د ادبپوهانو له خوا ادبپوهنه په درې څانګو«ادب تاریخ، ادبي کره کتنه او ادبي تیوري»وېشل شوې ده، چې د هرې برخې د کار ساحه یو ډول ټاکلي معیارونه هم لري او د تخلیقي ادبیاتو  په  څېر  د خپل اغېز یا د خپل تخیلي ځواک په ملتیا  د هغې کار پر مخ نه وړل کېږي.

په دې اړه مې د(Rusk) وینا خوښه ده. هغه وایي: «تحقیق د ذهن د کار کولو طریقه ده، هغه پوښتنې کول چې تر اوسه شوې نه وي او پر یو ټاکلې کړنلاره د هغوی  د جوابونو د تر لاسه کولو هڅه ده. په تحقیق کې پر نظریو سربېره کوښښ کول په کې اساسي کار دی د حق د څرګندولو او د هغه نه دفاع کول دي». «۹: ۱۳».

تخلیق عروج او نزول لري: د پښتو ادب په معاصر تاریخ کې استاد روهي معاصره دوره پر درې پړاوونو ویشلې ده. د یو شمېر لیکوالو اثار په یو پړاوو کې چاپ شوي دي، خو دوی بیا په بل پړاو کې معرفي شوي دي.  استاد روهي په  وینا دوی په لومړي پړاو کې ځکه نه دي معرفي شوي چې د دوی اثارو په دویم پړاو کې تبارز کړی دی، نو له دې  څخه جوتېږي چې تخلیقي ادبیات عروج لري، د تخلیقي پنځونو لړۍ اوج نقطې ته رسېږي او د وخت پر تېرېدلو سره بېرته د نزول خوا ته مخ اړوي.

په دې اړه مې یوه تجربه هم کړې ده، یو نومیالي لیکوال او زما استاد چې تر دې دمه لنډې کیسې هم لیکي، د نوموړي د لنډو کیسو یوه پخوانۍ ټولګه مې ولوسته  چې هرې کیسې خوند، راښکون او ښه تلوسه درلوده، مګر اوسمهال چې په نیت کې کله د هغه نوي کیسې لولم د پخوانیو په پرتله هغسې خوند او راښکون نه لري،  خو د تحقیق په برخه کې چې څومره کار کېږي هومره د لیکوال تجربه

پخېږي د لیکنې په ټولو معیارونو پوهېږي او دلایل یې ورځ تر بلې قوي کېږي او نوي اثار یې د پخوانیو په پرتله د هر اړخ له مخې پیاوړې کېږي.

احساس او عواطف: دا توکي په ادبیاتو کې مهم دي، که شعر وي یا هنري نثر په هغې کې باید دا برخه درنه وي. ښه شعر او ښه کیسه یا نور ادبي ژانرونه په لوستونکي او اوریدونکي کې احساس او عواطف را پاروي، یعنې تخلیقي ادبیات باید دا ځانگړنه ولري او پرته له دې یې ادبي اړخ کمزوری ښکاري. دا هم د شعر یوه بېلکه:

**روژې!**

ته راغلې که په کور کې مې
څه نشته خیر دی
د زړه په وینو به دې نیسم
ماتوم به دې په ترمو اوښکو
تا به نهیلې
د خالق په لور ستنه نه کړمه
خو زه له تا دغه پوښتنه کوم
دا چې زه ټول عمر روژه یم ډوډۍ نه لرم
د خدای په در کې مې روژې د بې وزلۍ
وایه قبلېږي کنه؟ «۱: ۲۴۰»

هنري نثرونه احساس او عواطف په لوستونکي یا اوریدونکي کې پاروي او په کومه لیکنه کې چې دا برخه درنه وي، نو لیکنه هومره هنري ښکاري خو که چېرې په تحقیقي لیکنو کې هنري کلمې یا جملې یا نور داسې اړخونه وي چې د هنري نثر سیوری ولري دا یو ډول عیب گڼل کېږي، یعنې په تحقیق کې دې برخې ته باید ځای ور نه کړل شي.

دا هم د نثر نمونه چې احساسات او عواطف لېږدوي: « د جمال خان موري! هغه د تیلو بوتل راوړه. په دې وخت کې پر بېوزلې مرغۍ را گرځي او په وهلو شروع کېږي، پس له دې په غولي کې دغه درې اوازنه اوریدل کېده نور د هېڅ یو غږ نه و یو د گل محمد د لرگي د شړکهار، بل د هغه دا چغې چې اور غواړې!

حرا موني اور غوارې، بل د مرغۍ په زور ه چغې چې ویل به یې با باجي مړه شوم... زه مړه شوم، د خدای د پاره، رسول ته گوره... خپله پلاره... خپلې مورې... یه کاکا صاحب... رارسیږئ... یه لویه ځوانه مد د... زه خو بې گناه یم... زه خو بې خطا یم... یه خدایه.... یه ربه» « ۷: ۱۰۱».

هدفونه:په یو شمېر تخلیقي لیکنو او اثارو کې یو ځانگړی هدف نه، بلکې ځو پیغامونه ترې لوستونکی اخیستی شي. حتی د شعر په یو بیت کې ځو پیغامونه وړاندې کولای شي د همدې خبرې په تړاو استاد غضنفر د ډاکټر اکبر پر یو بیت باندې« ستوري لاندې نه راځي ـ بر پسې خیبر یوسه» ځو مخه مقاله لیکلې ده، یعنې پورتنی بیت لوستونکي ته ځو پیغامونه وړاندې کوي، خو په تحقیق کې پر یوه مشخصه موضوع باندې کار کېږي او یو ټاکلی پیغام یا هدف لوستونکي ته وړاندې کوي.

په تحقیق کې څېړونکی د موضوع حجم ته گوري یا یې په مقاله کې یا د کتاب په شکل یا د نورو بڼو له لارې پرې کار کوي او د هغې موضوع گونگې خواوې را سپړي او یو مشخص هدف لاس ته راوړي.

د تخلیق او تحقیق ژبه: د تخلیقي ادبیاتو ژبه هنري وي او یوه کلمه کولای شي هم حقیقي او هم ضمني معناوې ورکړي. د تخلیق ژبه د تخیل په خوږو شیرینه وي په ځینو ژانرونو کې لکه ادبي ټوټه چې په لوستلو یې ځوک نه مړیږي. دا ژبه تصویرونه هم لري اغېز او تلوسه هم لري. هره کلمه او جمله یې د تخیل رنگ لري، که یو ځوک وغواړي یو کس له خپل پیغام څخه اغېز من کړي، نو ښه وسیله یې تخلیقي یا هنري ژبه ده چې د لوستونکي او اوریدونکي په احساساتو اغېز کوي.

په تحقیقي ژبه کې لیکوال له تخیل څخه کار نه اخلي په دې ژبه کې هره کلمه خپله اصلي معنا ورکوي د ژبې پیغام یې باید واضح وي د تخیل او هنري کلمو سیوری باید ور باندې پروت نه وي. جملې یې باید لنډې او د خپلو کلمو په انداز ه پیغام وړاندې کړي. په دې ژبه کې له نامانوسو او ټولو هغه کلمو څخه ډډه وشي چې لوستونکي یې سم پر معنا نه پوهېږي.

تخلیقي د ونې ریښې او تحقیق یې میوه ده: د ونې ریښې ډېرې مهمې دي کله چې د کومې ونې ریښې وچې یا پرې شي نو ونه ور سره هم وچېږي، نه نورې

پاڼې نیسي او نه میوه. که تحقیق یې میوه وبولو نو تخلیق دی چې د هغې په اساس دا میوه په لاس راځي. همدا اوسمهال چې د نړۍ ځینې زوراکي هېوادونه د نورو هېوادونو د نیولو خوبویني لومړی د هغو خلکو ټول کلتوري او بېلابېل مسایل څېړي چې ډېر کلتوري او نور مسایل هم د تخلیق د لارې رامنځته شوي دي. زورواکي هېوادونه دا هر څه څېړي او وروسته د همدې څېړنو له لارې خپل هدف ته په اسانه توګه ځان رسوي.

د هېواد پیاوړی لیکوال او تاریخ پوه استاد حبیب الله رفیع د هنداري په نوم یو اثر لیکلی چې په هغې کې دا اوسنۍ ټولې اختراګانې ښودل شوي چې سرچینې یې تخلیق او فولکلور دی.

تحقیق هغه باران دی چې خړه بیدیا سمسوروي: څو کاله وړاندې د هېواد نومیالي لیکوال استاد حبیب الله رفیع خپل یو اثر را کړ. زما په اند د هنداري په نوم و چې په هغې کې نوموړي د شفاهي ادبیاتو په اړه لیکنې کړې وې او دا په کې روښانه شوې وه چې د اوسنۍ ټکنالوژۍ پرمختګ او اساس د خلکو په شفاهي ادبیاتو کې دی او د اوسنیو پرمختګونو سرچینې د همغه شفاهي ادبیاتو په تل کې پرتې وې، نو که یو څوک هر څومره ښه شعر ووایي یا یوه ښه هنري اثر ولیکي او د هغې ګڼې خواوې او اړ زښتونه څرګند نه شي، نو همداسې به پاتې وي.

د تحقیق د لارې د یو مهم اثر مهمې برخې سپړل کېږي او په ټولو هغه برخو رڼا اچول کېږي چې د انساني ټولنې سره اړیکې لري او یوه ټولنه بیا له همدې لارې خپل د ژوند اړونده چارې پر مخ بیایي، نو که د تحقیق باران نه وي، د تخلیق په بیدیا کې که هر څومره ښایسته او ګټور ګلان او بوټي کرل شوي وي، خو هېڅ کله به شنه نه شي خو دا هر څه د تحقیق له لارې لوستونکو ته تر لاسه کېدای شي.

څېړنه او د ژوند اړتیاوې: د ژوند د هرې اړتیا او د هغې د پوره کېدو په هدف انسانان هڅه کوي چې د حل لارې ولټوي. دوی د څېړنې د لارې خپلې تجربې پخوي او بالاخره خپل هدف ته ځان ورسوي. هر کال د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د ژوند د بېلابېل اړخونو په اړه څېړنې رواني دي او تر لاسه شوې پایلې د انساني

ژوند په تړاو نوې اسانتياوې رامنځته کوي، لکه: د ساينس او طبيعي علومو په برخه کې.

په ادبياتو کې موږ هم د څېړنې له لارې هغه لارې چارې پيدا کولای شو چې څنګه مو خپله ژبه او ادب غني کړو؟ د يوې ښې ليکنې ځانګړتياوې د يو ښه شعراو د يو شمېر ادبي ژانرونو بريالي تخنيکونه او د اوسني ژوند په تړاو يې اغېز او اهميت خپلې ټولنې ته څرکند کړو.

پرمختللي هېوادونه او څېړنه: په پرمختللو هېوادونو کې د تحقيق هڅې کړندۍ دي، هلته که هره ښوونيزه چاره تر سره کېږي خپلې تجربې د څېړنې له لارې پخوي. هلته وګړي هڅه کوي چې د خپل ژوند ګڼو ستونزو ته څنګه د حل لار ولټوي. دې هدفونو ته د رسېدو لپاره دوی څېړنې تر سره کوي.که هغه د ساينس او تکنالوژۍ په اړه دي که د نورو ټولنيزو علومو په اړه. همدا علت دی چې يو شمېر بهرنيو هېوادونو د علم او پوهې په برخه کې نوي تيوريک اثار رامنځته کوي او ټولنه يې ورځ تر بلې د پرمختګ په لور واټن وهي.

په پرمختللو هېوادونو کې داسې خيالي فيلمونه او سريالونه هم جوړېږي چې وروسته تر خپرېدو يې وګړي يا اړوند کارپوهان هڅه کوي چې همغسې څه رامنځته کړي کوم چې په فيلمونه کې د تخيل په مرسته تر سره شوي دي، يعنې هغه څه چې دوی په خيالي فيلمونو کې ليدلي وي.

وروسته پاتې هېوادونه او تخليق: په وروسته پاتې هېوادونو کې وزګارتيا وي، ډېر خلک له عصري ژوند څخه بې برخې وي، په کليو او بانډو کې خلک اوسمهال هم د پيريانو او بلاګانو کيسې کوي او وخت په همدې تېروي. په پرمختللو هېوادونو کې خلک وخت سره زر ګڼي هغوی د سبا يا راتلونکي لپاره کار کوي. په وروسته پاتې هېوادونو کې وګړي د ژوند ډېره برخه د تخليقي اثارو په لوستلو او اوريدلو سره تېروي، مګر په پرمختللو هېوادونو کې دا برخه يو څه کمزورې ده، هلته د ژوند هرې چارې تنظيم شوې وي او د خپل پلان مطابق کار، مطالعه او ساعت تېرۍ هم کوي.

د تخليقي او تحقيقي اثارو په اړه د عامو وګړو اندونه: زموږ په ټولنه کې ډېر کسان نالوستي دي؛ مګر هغه کسان چې زده کړه هم لري دوی د تخليقي اثارو پر نسبت تحقيقي اثار خوښوي. د ښوونځي د دولسم ټولګي زده کوونکی وم چې ما د

سیوری ناول او نور ادبي او هنري اثار لوستل په لسګونو ادبي اثار را سره موجود وو، مګر زما یو ملګری چې د لسانس زده کړې یې کړې وي یا نور دوستان هغوی به دا اثار نه لوستل کله چې به یې د ناول یا لنډو کیسو کوم کتاب له ما سره ولید، نو زه به یې له لوستلو څخه منع کولم. دوی به همیشه دا ویل چې د دې پر ځای نور معلوماتي کتابونه ولوله دا اثار ګټور نه دي.

ډیر وګړي شته چې دوی هنري اثار نه خوښوي کله چې دوی ناول، لنډې کیسې یا نور ادبي اثار له چا سره ویني هڅه کوي چې څوک یې ونه لولي، ځکه دوی یې خیال پلو بولي کله کله اخلاقي تورونه هم پرې لګوي.

د تخلیقي او تحقیقي اثارو اقتصادي اړخ: اوسمهال چې زموږ په ټولنه کې د ښوونیز نظام لپاره هڅې ګړندۍ شوي دي بیلابیل ښوونیز مرکزونه علمي موسسې اوپوهنتونونه جوړ شوي دي او ورځ تر بلې د زده کړیالانو شمېر هم د زیاتېدو په حال کې دی، نو زموږ په هېواد کې د هنري اثارو په پرتله ښوونیز او معلوماتي اثار په لوړه بیه پلورل کېږي او اوسمهال یې بازار هم ګرم دی. هغه خپرندویه ټولنې چې ښوونیز تیوریک اثار خپروي له چاپه وړاندې څو برابره پیسې د کتاب لیکوال ته ورکوي او بیا له چاپ وروسته یې خپرندویه ټولنه په خپله خوښه پلوري، خو په لویدیځو هېوادونو کې تخلیقي اثار هم لوړه بیه لري هلته د لنډې کیسې او ناول ډیر اثار پلورل کېږي. د دې تر څنګ په بهرنیو هېوادونو کې د کمپیوټر یا ټکنالوژۍ نوې معلوماتي سي ډیانې هم په لوړه بیه پلورل کېږي؛ ځکه په هغو کې د کمپیوټر د یوې سترې برخې په اړه معلومات خوندي دي چې د ښوونې د لارې رامنځته شوي دي.

څو ورځې وړاندې مې په تاند ویبپاڼه کې یو خبر ولوست چې د شکسپیر یو اثر ۷ میلونه ډالره وپلورل شو، خو زموږ په هېواد کې اوسمهال هم تخلیقي اثار هغسې په لوړه بیه نه پلورل کېږي لکه څنګه چې تیوري یا ښوونیز اثار خپل بازار لري.

**پایله:**

په لومړي سرکې ادبیات په دوو سترو برخو«تخلیق او تحقیق» ویشل شوي دي چې تخلیقي ادبیات هنري ادب ګڼل کېږي، مګر تحقیقي ادب هغه څه دي چې د تخلیقي ادب د شننې او تشریح له لارې رامنځ ته شوي وي.

ادبي ژانرونه لکه، شعر، لنډ کیسه، ناول، طنز، ډرامه، رومان، ادبي ټوټه او نور هنري ژانرونه تخیلي ادب ګڼل کېږي، چې لیکوال یې د لیکنې پر مهال د تخیلي ځواک په مرسته رامنځته کوي، د تخلیقي اثارو ژبې د تحقیقي اثارو سره جوت توپیر لري. په تخلیقي ادب کې هر فورم جلا ځانګړنې او ژبه لري، د اثارو ژبه هنري وي، کلمې د اصلي معناوو تر څنګ نورې ضمنې معناوې لري. تخلیقي ادب هر څوک هم رامنځته کولای نه شي او په دې لیکنو کې څومره د تخیل قوه پیاوړې وي لیکنه هومره هنري او ادبي ګڼل کېږي.

تحقیقي ادب بیا هنري ځانګړنې نه لري، د تحقیقي اثارو لیکوال د تخلیقي ادب په اړه لیکنې کوي، د هغوی په ارزښتونو، په تخنیکونو، د هنري ادب بېلابېلې خوا وې را سپړي او خپلې ټولنې ته یې وړاندې کوي. د تحقیق ژبه له تخلیق سره هم توپیر لري، په تحقیق کې کلمې په اصلي معنا کارول کېږي، نثر یې ساده یا معلوماتي ګڼل کېږي. په لیکنه کې هنري کلمې او جملې نه کاروي او هڅه کوي چې نیغ په نیغه پرته له پیچلتیا څخه لوستونکي ته معلومات وړاندي کړي. که په لنډه توګه ووایو دواړ ه له یو بل سره کلکي اړیکې لري په دې معنا که تخلیق نه وای تحقیق به هم په ادب کې نه وای او که تحقیق نه وای، نو بیا به څنګه د تخلیقي ادب ارزښت او اهمیت لوستونکو ته څرګند شوی وای.

## مأخذونه:


۱ - بدر، صدیق الله، د لونګو دریځې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۹ لمریز کال.

۲ - روهي، محمد صدیق، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ لمریز کال.

۳ - لېوال، عبدالغفور، شعري سېمبولونه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۰ لمریز کال.

۴ - وزیری، محمد اقبال، د ادبیاتو تیوري، د پښتونخوا د پوهنې دیره، پېښور، ۱۳۹۱ لمریز کال.

۵ ــ هېوادمل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۹ هـ ش.

٦- هاشمي، سید محي الدین، ادبپوهنه،میهن خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۴ لمریز کال.

۷ - هاشمي، سید محی الدین، د لیکوالي هنر، میهن خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ لمریز کال.

۸ ـ هاشمي، سید محي الدین، د نثري ادب ډولونه، وحدت خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۸۹ لمریز کال.

۹ـ هاشمي، سید اصغر، د څېړنې بنسټونه، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ لمریز کال.

۱۰ ـ هاشمي، سید اصغر، د تحقیق اصول، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ لمریز کال.

پوهاند پښتون آقا شېرزاد

# بگرام په پښتو شاعرۍ کې

## لنډيز:

د دغسې تـاريخې نومونـو يادونـه لکـه بگـرام پـه شعروشـاعرۍ کـې يـوکيفي انـداز رامـنځ تـه کوي.دشـعر خونـد او ادبي رنـګ تـه غنـا وربخښـي. لـه بلـه پلـوه دغسـې نـادر او مختلـف المعنـا نومونـه ځېړنـې تـه هـم ځـای خـالي کـوي. ځېړونکـي هڅېـږي چـې پـه دې برخـه کـې ځېړنـه وکـړي او دټولـو معنـاوو تشريـح وکـړي تـر څـو لوسـتونکي د شـعر پـه اصـلي معنـا پـوه شي او پـه معنـا کـې يـې غلطي رامنځ ته نه شي.

د بگـرام نـوم هـم پـه دوو تعبيرونـو کـارول کېـږي چـې يـو يـې دکاپيسـا ولايـت اړونـد بگـرام دی چـې هلتـه اوس يـو مشـهور هـوايي ډګـر شـته دی او نـوم يـې بگـرام دې بـل دپيښـور پخـوانی نـوم هـم بگـرام دی نـو زمـا موخـه هـم د دواړو نومونـو جـلا کېـدل او پېژنـدل دي چـې تـر يـوه بريـده لوسـتونکي د دا ډول اشعارو چې د بگرام نوم په کې راغلی وي پوه شي.

البتـه دلتـه يـوه خـبره د يـادونې وړ ده چـې شـاعران ځـان د کلمـو پـه کـارولو کـې آزاد ګڼـي او پـه شـعر کـې يـې اکـثراً پـه خپلـه خوښـه کـاروي، نـو ځکـه بگـرام پـه شـعرونو کـې د بـاګرام او بگـرام دواړو پـه بڼـو ليـدل کېـږي؛ خـو د کلمـې اصلي بڼه بگرام ده.

## سريزه:

پښتوشاعري له هماغه پيله دنور خوند او رنګ سره ځينې تاريخي نومونه د خپلو پېښو په رڼا کې رانغښتي دي چې ددغو نومونو په استعمال سره يې دخپلو اشعارو

کیفي اوکمي خوا درنه کړې ده په هر صورت ددې مقالې دلیکلو موخه داده چې وپوهېږو  آیا بګرام نوم کومو شاعرانو په لومړیو کې استعمال کړی دی او موخه یې کوم بګرام دی، آیا د شاعرموخه دکاپیسا بګرام دی اوکه دپېښور پخوانی نوم دی. البته په هغو شعرونوکې چې دپېښور نوم دبګرام ترڅنګ ذکر وي نو لوستونکي په اسانۍ سره پوهېږي چې دپېښور پخوانی نوم  دی او که کاپیسا ورسره ذکروي نو بیا هم لوستونکي  په اساني سره پوهیدلای شي چې دا دافغانستان دکاپیسا ولایت بګرام  هوایي ډګر دی.

## اهمیت او مبرمیت:

که پښتو شاعري په دقیقه توګه له نظره تېره شي، کابو ټوله یې په سېمبولونو، خاطرو، شالیدونو او داستانونو ولاړه ده، د هر شعر، هر سېمبول او هر یو نوم شاته لویه کیسه پرته وي، چې رابرسېره کول او سپړل یې له ګټې خالي نه دي؛ نو په همدغه لړ کې د پښتو لرغونې شاعرۍ په ارزښتونو کې ما هم د یو داسې نوم یا سېمبول لټه کړې چې ډېرو زیاتو پښتنو شاعرانو کارولی او په هغه معنا یې کارولی چې نن یې په اړه ډېر زیات ناسم پوهاوي موجود دي، نو د دغې لیکنې اهمیت او مبرمیت هم همدا دی چې له یوې خوا به د نورو لیکوالو هم دغه ډول ارزښتونو او سېمبولونو ته توجه واوړي او له بلې خوا به د دغې کلمې په اړه چې کوم ناسم پوهاوی موجود دی له منځه لاړ شي.

## د څېړنې موخې:

د څېړنه موخه او هدف دا دی چې ولې د بګرام کلمه انتخاب شوه او د بګرام کلمه څه داسې ارزښت لري چې دې کلمې ته ډېره توجه شوې ده. کومې خبرې او قاعدې دي چې هغه د بګرام په وسیله هوارېدلای شي او یا موضوع په ټوله معنا تشریح کولای شي.

نو دا او دې ته ورته خبرې هغه مسایل دي چې د څېړنې موخه جوتوي او په دې توګه لیکنې خپلې موخې ته رسولای شي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې مقاله کې کلیدي پوښتنې دا دي چې بګرام کله او څنګه پیدا شوی، ولې پښتنو شاعرانو دغه کلمه کارولې، ایا په پخوانیو او اوسنیو متونو کې په یوه معنا

کارول شوې او که توپیر لري، د دغې کلمې یادول پښتو ادب ته څه ګټه لري، ایا تر شاه یې کوم داستان یا ارزښت پروت دی او که نه او دې ته ورته نورې پوښتنې پوښتل شوي چې ټولې په شکل د اشکالو ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود:

په دې مقاله کې تر ډېره له تشریحي، توضیحي، توأم او کله ناکله له انتقادي میتود څخه استفاده شوې او موضوعات په واضح توګه تشریح شوي دي.

## بګرام:

د بګرام دپېژندلو په اړه پوهاند رازقي نړیوال دخپل اثر( دهیواد لرغوني ښارونه او تاریخي پاڼې ) اثر کې لیکلي کاپیسا بګرام دوه داسي مفاهیم دي چې یو محل معرفي کوي. هر کله چې کاپیسا یادونه کېږي دواړه دسړي سترګوته ودرېږي او کله چې د بګرام یادونه کېږي. دکاپیسا ماحول را دمخه کېږي. ددې دواړو نومونو تر منځ ډېر کم توپیر شته دی، یو یې دا دی چې بګرام دوه محله معرفي کوي یعنې یو بګرام د پېښور پخوانی نوم دی، خو کاپیسا په بل ځای کې نه شته.

دبګرام ښار ځینو پوهانو ( ویګرام ) بللی چې (ګرام ) په سانسکریت کې ښار ته وایي او د(وي)توری د تعریف او تفصیلی توصیفي توری او هغه ته افضلیت ورکوي یعني ویګرام د بګرام مهم ښاراو مهم پایتخت کېږي، ځینو مورخانو دبګرام ښار دخانانو او نجیبانو ښار، د راهبانو کلی بللی دی (۱: ۱۲۰ مخ).

عبدالقیوم ذاهد مشوانې په خپل اثر پښتو ـ پښتو سیند کې بګرام ته په معنا کې دپېښور پخوانی نوم یادکړی او لیکلی (۲:۷۰مخ)

ښاغلي زلمي هیوادمل په خپله لیکنه کې چې د (د شیدا په شاعرۍ کې د هندي فرهنګ انعکاس) ترسرلیک لاندې یې لیکلې ده، پېښور ته د بګرام نوم اخلي او وایي چې: «د شیدا د دیوان له مطالعې ښکاري چې له خپل اصلي وطن (روه ) او خپلې سیمي (سرای ) او هم سرای ته نږدې سیموافضل آباد او بګرام سره د ده ترلو خاطرو د ده پر دیوان خپل اثر پرېښی دی».

## بګرام په کلاسیکه شاعرۍ کې:

تر کومه ځایه چې ما دلرغونې دورې پښتو شعر مطالعه کړ داسې کوم شعر مې چې د بګرام نوم په کې راغلی وي پیدا نه کړ، داسې ښکاري چې د موجودو اسنادو

په اساس دغه نوم به په کلاسیکه یا دوهمه ادبي دوره کې شاعرانو په خپلو اشعاروکې استعمال کړی وي، ځکه چې ددې دورې بیلګې یې زموږ په لاس کې شته، دپښتو ژبې پیاوړي لیکوال اوشاعر، خوشحال خان ختک په اشعاروکې دبګرام نوم دا ډول یاد شوی دی:

له بګرامه پښې ترلی
هندوستان لره روان شوم
په ډیلي په رنتهبورکې
درې څلورکاله حیران شوم
په آګره کې مې پښې وا شوې
بیا نوکر دبد سلطان شوم
دشجاع په شروشورکې
بیا وطن وته روان شوم

لکه څنګه چې خوشحال خان په ۱۰۷۴ کال کې په پیښور کې دکابل صوبدار سید امیرخوافي له خوا ونیول شو اوبیا هندوستان ته ولېږدول شو اوبیا کله چې په پښتونخوا کې دشجاع په نوم یو جعلي کس د اورنګزیب د ورور تر نامه لاندې ځان پاچا اعلان کړ او شروشور ګډ شو، نو اورنګزیب مجبور شو چې خوشحال خان ختک یې له بنده آزاد کړ او خپل کورته لاړه، نو دلته له بګرام څخه د خوشحال خان مطلب دپېښور سیمه ده چې دی یې له هغه ځایه ( بګرام ) نه هندوستان ته ولېږه.(۳: ۱۳۹مخ)

همدا شان خوشحال خان ختک په یو بل شعر کې هم بګرام دپېښور دپخواني نوم په حیث یادکړی دی او ویلي یې دي چې دپېښور انجونې له ختن انجونو څخه ښکلي دي او که څوک دختن انجونو ته ښکلې وایي هغه غولیدلي دي او اشتباه یې کړې ده، لکه:

د بګرام جونه مې ولیدی په سترګو
څو ک چې ترکې د خطا ستایي خطا دي (۴:۵۹مخ)

که د رحمان بابا لاندې شعر ته نظر وکړو ده هم دخوشحال بابا د شعر ننګه کړې ده او دخپل شعر صفت یې هم په ډېر استادانه ډول کړی اوهم یې بګرام د پېښور د

پخواني نوم په حیث کارولی دی.

هم نغمې کاندې هم رقص کاندې هم خاندې
درحمان په شعر تر کې د بګرام

علي خان هشنغري بیا تر ټولو ښکلو دبګرام جونې ښکلي ګڼلي دي او دختن نجونې یې په دوهمه درجه کې راوستي ځکه چې د بګرام ښکلې د ختن له ښکلو ډېرې ښکلي دي، ده هم بګرام دپېښور د پخواني نوم په حیث کارولی دی.

د ختن تر کې دې زر راځي سلام ته
نن دتخت لایقه تر که بګرامۍ ده (۹۷:۵مخ)

همدا شان کاظم خان شیدا د پېښور د پخواني نوم بګرام په اړه ځوبیتونه ویلي او په شعر کې یې د باګرام په بڼه راوړي دي؛ لکه:

د بګرام خطه دلکشه
د بهار دخاطر خوشه
چې راځي کلي په کلي
په بګرام تر ډېره ملي
دا د روه قطعه تمامه
کله رسي تر بګرامه

کاظم خان شیدا بیا بګرام له پښتونخوا (روه) څخه هم مهم ګڼلی دی (۸۷:۸۸مخونه)

## په پښتو معاصره شاعرۍ کې بګرام:

د پښتو په معاصره شاعرۍ کې هم زیاتو شاعرانو د بګرام کلمه استعمال کړې ده؛ خو زه یې د بېلګې په توګه د یوه یادوو شاعرانو د کلام نمونې را اخلم. د پیر محمد کاروان په لاندې شعر کې وینوچې د کلمه یې د باګرام په بڼه ځومره خوندوره کارولې ده:

کړه ولجه یې قصیدې به درته وایي
له بګرامه دسندر و ځي کاروان

که چېرې ځوک له افغانستان څخه دپېښور په لور د مهاجرت په موضوع نـه وي خبر، نو په پورته شـعر نـه پـوهېږي، چـې دشـاعر موخـه کـوم بګـرام دی، خـو کـه پـه

موضوع خبر وي، نو په علت يې پوهېږي چې د شاعر هدف دپېښور بګرام دی ځکه چې مهاجرت پېښورته شوی دی او کاروان هم په پېښور کې مهاجر و چې دلته ظاهراً دفرهنګيانو اوشاعرانو راتګ بيرته خپل هيواد ته هدف دی او پټه معنا يا بله معنا يې دشاعر تخلص هم دی.( ۵۱:۷مخ )

بل ځای هم دمهاجرت موضوع ته اشاره ده چې افغانستان تپې تپې ؤ.دپرديو له خوا جنګ او جدل روان و. د خلکو زړونه هم خفه خفه وو.نو کاروان هم له کابله پېښورته لاړ او له هغو خلکوڅخه يې دخپلو ټپو نو لپاره دمرهم او پټې غوښتنه کوله که څه هم مالګه ټپ نور هم په سوزش راولي خو شاعر دا ټپ په خپل شعر کې راوستی اوقضاوت يې د پېښور خلکوته پريښی دی، خو موږ وليدل چې هغوی د مالګې پرځای مرهم ورکړل. هغه بيت دا ډول دی.

ماله کابل نه لاله زار دپرهارونو راوړ
بګرامه مالګې راکوي که مرهمي لاسونه

د کاروان يو بل شعر پورتنۍ موضوع ته نږدې دی لکه:

ستادسترګو په بګرام کې،د کابل زخمي رنګونه
که دپاکو پېغلو کلي،د اورونو درياب راوړ.

همداشان بيا هم همدغه شاعر د پېښور د بګرام پر ځای د کاپيسا بګرام يادوي او وايي:

له سپين سالنګ نه يې لمر ټول ونيوه
له روس نه دومره الوتکې راغلې
دمه يې وکړه دبګرام پر ډګر

دا په لټون دکومې ورکې راغلې (۷: ۹۶مخ) پورته شعر کې دشاعر موخه د بګرام هوايي ډګر دی، يوه خبره دلته ديادولو وړ ده که چېرې لوستونکي په شعرکې دراغلو موضوعګانو په شاليد ونه پوهيږي نو بيايي سملاسي پوهېدل نا ممکن دي، خو که دموضوعګانو پرشاليد پوه وي نو بيانو سملاسي پوهېږي چې د شاعر موخه کوم بګرام دی.

يو بل معاصر شاعر، صاحب شاه صابرهم دپېښور پخوانی نوم بګرام په ډېر ښکلي انداز په خپل شعر کې راوړی دی:

که د اټک دشملې ول کې نه وي نه دي وي خیر
خو د بگرام دترکو زلفو کې دې وي گلونه
(۸: ۱۱۵مخ )

عبدالغفور لېوال په خپله یوه منظومه کې دکاپیسا بگرام تاریخي حیثیت ته په کتنه دکاپیسا دبگرام اصلي څېره په ډېره شاعرانه توگه انځور کړې ده؛ لکه:

بگرام شاهد ؤ (( بگولان )) ورکتل
روښانه لاړه د تاریخ برخه شوه
روس دبگرام پرښکلا زړه مړوي
دکاپیسا له ښکلو کام اخلي
بگرام دټولې نړۍ حسن راټول کړی دلته
بگرام ښکلا ښکلا څپې وهي ټول
دبگرامیو ښکلو ښکلو شها
دچلچراغ او فانوسونورڼا
بگرام د مینوپیوندونه تړي
کاپیسا وال یې ننداري ته ولاړ
او دبگرام دپېغلو منځ کې ده اوشاس ولاړه
نن په بگرام کې وروستی جشن جوړدی
سبا به بیا لښکر جگړې ته وځي ( ۹: ۳۴۰ـ ۳۴۶ مخونه)

په پورته شعر کې وینو چې د شاعر موخه په ډاگه ده او هدف یې له کاپیسا بگرام څخه دی، چې په دغه ځای کې پخوا د روښانې او نورو دمینې کیسې تیري شوي دي.شاعر غوښتي چې د یوې پښتنې نجلۍ نوم ډېر پخوا دتاریخ برخه گرځېدلې را ژوندی او ذهنونوته یې وسپاري.

**پایله:**

د بگرام کلمه ښایي ډېرو شاعرانو په خپلو اشعاروکې استعمال کړي وي، که دټولو اشعارو څېړنه او ارزونه وکړم نو دیو لوی کتاب غوښتنه کوي، د اوس لپاره مې په همدغومره اشعارو بسنه وکړه، که په گانده کې مې بیا دغه مقاله نوره هم غځوله بیا به هغه پاتې اشعارو ارزوم، اوس هغه لوستونکي چې د بگرام د کلمې په معنا ښه

نه پوهېدل پوه شول، که په هر شعر کې دبگرام کلمه راشي نو سملاسي په دې پوهېږي چې دشاعر موخه او هدف کوم بگرام دی  زیاتره  خلک په دې نه پوهېدل چې دپېښور پخوانی نوم بگرام دی، خو دغه دی په دغې مقاله کې تر ډېره حده واضح شول چې یو دکاپیسا اړوند هوایي ډگر او هم دیوې ولسوالۍ نوم بگرام دی یوبله ولسوالۍ هم په کابل کې شته چې بگرام نوم ته ډېره نږدې ده چې دکابل په ختیځ کې موقعیت لري خو دهغې ولسوالۍ نوم بگرامي ده، یعنې بگرام نه ده، په هرصورت! خدای دې وکړي چې محترمو لوستونکو ته مې یوڅه گټه رسولې وي.

## مأخدونه:


۱- نړیوال، رازقي محمد صدیق، هېواد لرغوني ښارونه او تاریخی پاڼې، کابل، میوند مطبعه، ۱۳۸۵ لمریز کال.

۲- زاهد،  مشواڼی عبدالقیوم، پښتو پښتو سیند، کابل، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۰ زېږدیز کال.

۳-هېوادمل، زلمی، پښتو ادبیاتو تاریخ/ پیښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۵ لمریز کال.

۴- روغاني، حیات، علي خان،پیښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۰ زېږدیز کال.

۵ـ شیدا،کاظم خان، دیوان، پیښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ لمریز کال.

٦- کاروان، پیرمحمد، چنار خبری کوي، پیښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۸ لمریز کال.

۷- کاروان، پیرمحمد، د ښاپېرۍ ورغوی،  پیښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ لمریز کال.

۸- صابر،صاحب شاه، کلیات، پیښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ لمریز کال.

۹- لېوال،عبدالغفور، ته زما ټوله شاعري یې، پیښور،  دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ لمریز کال.

احسان الله درمل

# له عواطفو او تصویرونو لبرېزې «تربتې چيغې»

## لنډيز:

په دې مقاله کې په دې بحث شوی شعر څه شی دی؟ په اوسني پېر کې څه ارزښت لري، څه باید وشي، څه ډول شعرونه وپنځول شي او د ځوانو شاعرانو لپاره د ښه شعر او عالي شعر معيارونه کوم دي او يا په نړيوالو معيارونو کې د ښه او اوچت شعر معيارونه کوم دي.

دا سمه ده چې شعر د ژوند لپاره پنځول کېږي، خو ډېر په دې اند دي چې شعر ډېر ځله د ولس ژبه نه ده او عام ولس ته پرې پوهاوی يو څه ستونزمن دی، نو ځکه په دې مقاله کې دغه ټول اړخونه څېړل شوي او را سپړل شوي دي.

## سريزه:

د شفيعي کدکني مشهوره خبره ده چې: « شعر په ژبه کې رامنځته کېدونکې پېښه ده، په حقيقت کې شاعر د شعر په مرسته په ژبه کې داسې کار کوي چې لوستونکی د ده د شعر او ورځنۍ ژبې ترمنځ يو توپير احساسوي. » (۱)مطلب دا چې شاعر/شاعره د شعر په مرسته يوه داسې نوې ژبه پنځوي چې منطق يې زموږ له ورځنۍ ژبې سره تفاوت لري، هغه د چا خبره بنيادم گومان کوي چې شعري ژبه ځانته بېل گرامر او قواعد لري. د شعر په اړه گڼ بحثونه له همدې ځايه سرچينه اخلي. ځينې وايي چې د شعر او عادي ژبې ترمنځ فاصله هغه مهال رامنځته کېږي چې په نوې ژبه کې وزن، اهنگ او قافيه پيدا کړو او ځکه خو د دوی په نزد يواځې «موزون او مقفی» کلام شعر دی؛ ځينې د اپلاتون غوندې ورته له اخلاقي او فکري

لیدلوري ګوري؛ ځینې نور وایي چې شعري ژبه هغه مهال جوړېږي چې عادي ژبې ته د تخیل او عواطفو پښه ور ازاده شي. بس د ذوقونو او ذهني کچو تفاوتونه دي چې د شعري او عادي ژبې ترمنځ تفاوت له بېلابېلو زاویو تعریف شوی دی، خو په دې بحث کې تر ټولو مشترک ټکی همدا تفاوت دی؛ هره ډله او د هر ذوق او فکر خاوند چې شعر تعریفوي په اصل کې د شعري ژبې او عادي ژبې ترمنځ پراته واټن ته له خپل لیدلوري اشاره کوي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

د دې څېړنې اهمیت دا دی چې عاطفه په شعر کې څه رول لري او ایا له خیال، عاطفې او احساس پرته شعر شعر دی او که میر، ځکه ډېر ځله ویل کېږي چې د شعر ارکان خیال، عاطفه، احساس او سوژه ده او که چېرې دغه شیان په شعر کې نه وي، نو خپل شعریت نه شي ساتلی پر همدې اساس ما دغې موضوع ته ځیرنه کړې او ثابته کړې مې ده چې د شعر جوهر په څه کې دی. مبرمیت یې هم دا دی چې په فرهنګي ډګر کې لکه څنګه چې باید را وسپړل شي د ښځینه وو شاعرانو شعرونه یا هغسې نه دي څېړل شوي او یا هم ورته چندان توجه نه ده شوې، نو ځکه ما د ښځینه وو شاعرانو په ځانګړې توګه د اغلې روهي شعرونه څېړلي چې نورو شاعرانو ته هم زمینه سازي وشي او په دې ډګر کې لا پرمختګ وکړي.

**د څېړنې موخې:**

د دې څېړنې موخه دا ده چې د شعر او میر ترمنځ توپیر وشي، د شعر ټول ارکان جوت او د هنر تومنه وپېژندل شي او لږ تر لږه شاعر له مایر سره توپیر شي، ځکه ډېر ځله موږ د شعر ارکان نه پېژنو او همدا علت دی چې د شعر شعریت ته نه متوجه کېږو.

**د څېړنې پوښتنې:**

په دې څېړنه کې دا پوښتل شوي، چې شعر څه شی دی؟

د شعر ارکان کوم دي؟

عاطفه په شعر کې څه رول لري؟

تربتې چیغې څه ډول شعري ټولګه ده؟

اناهیتا روهي په ښځینه لیکوالو او شاعرانو کې کوم رول لري.

**د څېړنې میتود:**

په دې مقاله کې تر ډېره له تشریحي، توضیحي او ځای ځای انتقادي میتود څخه ګټه اخیستل شوې او د شعر اصلي جوهر په ډاګه شوې دی.

**متن:**

د شعري او عادي ژبو ترمنځ د پراته واټن او تفاوت ګڼ تعریفونه او معیارونه که له یوې خوا د شعر د یوه کوټلي تعریف د پیدا کېدو مخه نیسي، له بلې خوا یوه ډېره لویه ګټه هم لري. ګټه یې دا ده چې د همدې بېلا بېلو لیدلورو له مخې ګڼ کسان شاعران دي او ګڼ د شاعر کېدو احساس کوي. که موږ د اپلاتون تعریف منلای وای، خوشحال او غني به شاعران نه وو او که د عربانو پر «موزون او مقفی کلام» مو بسنه کړې وای ښايي اوس به مو د «تربتې چیغې» شاعره اصلاً شاعره هم نه ګڼله.

په شلمه پېړۍ کې چې ازاد او سپین شعر اول له غربه ایران او بیا له ایرانه افغانستان ته راغی، نو د دې ډول شعرونو شاعران ځینو هغو کره کتونکو ته شاعران نه ښکارېدل چې د شعر د تللو لپاره یې د عربانو تلې کارولې. وروسته،وروسته چې د دې نوې شاعرۍ په اړه نوي تیوریک او ادبي بحثونه هم د ژباړو او افاقي مطالعې له لارې زموږ ژبې ته را ورسېدل، نو خلک پوه شول چې د شعر لپاره یواځې وزن او قافیه اړین نه دي، ممکن ډېر موزون او مقفی کلامونه یواځې نظم شوي مړه کلمات وي او ډېر بې وزنه او بې قافیې کلامونه شهکارونه وي. همدا ځای دی چې ملک الشعرا بهار ویلي دي چې:

«وی بسا ناظم که او در عمر خود شعری نگفت.»

که شعر د پنځو یا شپږو شعري عناصرو یوه مجموعه او ترکیب وګڼو، نو ځینې عناصر یې داسې دي چې بې له هغوی شعر نه شعر کېږي. له دې ډلې دوه ډېر مهم یې تخیل او عاطفه دي. شعر د شاعر/شاعرې په ذهن کې د عاطفې له نطفې پیدا کېږي او د تخیل په مرسته روزل کېږي، لويېږي، جوړېږي، شکل ورکول کېږي او د زوکړې لپاره تیارېږي. له ښه مرغه، موږ چې دلته د کومې شاعرې پر شعرونو خبرې کوو، دا دوه عناصر په کې تر ټولو نورو عناصرو پیاوړي دي.

اناهیتا روهي د پښتو د نوې شاعرۍ په ښځینه شاعرانو کې د خپل ځانګړي انداز څښتنه ده، موږ د هغې پر شاعرۍ د شعر او هنر د پخوانۍ تیورۍ په رڼا کې

ډېر څه نه شو ویلی خو د نوو هنري ارزښتونو په رڼا کې یې د لویې هنري طبعې خاونده ګڼلای شو. د هغې نږدې ټول شعرونه له عواطفو او نوو تصویرونو جوړ دي؛ دا تصویرونه له داسې نوو اجزاوو رغېدلي دي چې موږ یې په پښتو شاعرۍ کې ډېرې بیلګې نه لرو. بله لویه خبره دا ده، چې د اناهیتا د شعر د عاطفي برخې قالینه د ښځمنو د اصیلو عاطفي شیبو له تار و پوده اوبدل شوې ده. شاعره له ژوند، له طبیعت، له انسان، له ټولنې او ماورای طبیعت سره ګڼ عاطفي پیوندونه لري او دا پیوندونه یې په راز، راز ښکلیو تصویرونو کې اظهار کړي دي. هغه مهال چې کلتوري قدغنونه انسان ته له بل انسان سره نږدې کېدل کفر ګڼي او د کاروان خبره ځنځیرونه د دوو زړونو د تړلو پر ځای لکه ماران له پښو او لاسونو تاوېږي، شاعره پر ټولنه حاکم جبر او خپله دروني تنده او کیفیت داسې څرګندوي:

کاش چې وای پرخه
پورته له آسمانه چیرته لرې اوسېدلی
بې له وېرې
بې له ترهې
چې مې کله زړه غوښتلی
له آسمانه ورېدلی
ستا پر مخ را ښویېدلی!(۲)

شاعره یوه بله زبردسته عاطفي تجربه او رواني کیفیت راسره شریکوي. هغه تر خپل مرګ وروسته د خپل مین زنګېدلي قدمونه او ځړېدلی سر نه شي زغملی او ځکه خو وایي چې:

غواړم تر ما مخکې ومرې
دا مې پر تا نه ده پیرزو
چې د کور خوا ته
پر دې اوږده لار
ځړېدلی سر روان اوسې(۳)

په یو بل شعر کې شاعره داسې تراژیدي او عاطفي شېبه تصویروي چې یواځې له دې شېبې راتېر شوي یې حسولای شي. د شاعرې کمال دا دی چې له فولکلوریکو

هنري ارزښتونو او په ځانګړي توګه له لنډيو او متلونو ښکلې ګټه اخلي. لنډۍ ده چې:

په هدېره د ژړيو راغلم
مړه کړي خدای وو غړ يې ماته نه کاوونه

او شاعره وايي چې:

درغلم
غږ مې دې وا نه ورېد
د خاورو برستنه دې
درنه وه(۴)

د اناهيتا لـه شـاعرۍ پوهېـدلای شـو چـې زمـوږ خوينـدې، مينـدې، ميرمنــې، معشوقې او بالاخره ټـولې ښـځې پـه ځـانګړو عـاطفي شـيبو کـې لـه څـه ډول رواني کيفيتونو تېرېږي. زموږ په نرواکه (Male dominante) ټولنه کې ژونـد او حوادثـو تـه يواځې له نارينه سترګيو ورکتل کيږي؛ موږ هيڅکله خپلو ځانونو ته د يـو بـل قشر- او يو بل جنس له سترګيو نه دي کتلي. د لنـډيو او د ښـځينه وو د اصـيلې شـاعرۍ پـه لوستو کولای شو چې د څو شيبو لپاره په خپلو سترګو کـې د هغـوی سـترګې کېـږدو او ځانونو ته له ځانه بهر له يوې بلـې زاويـې او ليـدلوري ور وګـورو. ځـان تـه لـه نـورو سترګيو کتل داسې يوه منظره ده لکه اناهيتا يې چې په دې شعر کې تمثيلوي:

موږ
تر ښيښې ها خوا
له کړکۍ بهر
په ټال کې زانګو
زه د ښيښې له دې خوا
د کوټې له منځه
ورته خاندم(۵)

اوس راځئ چې د يو څو شيبو لپاره د ښځينه ذهن د کوټې له ښيښې هـا خـوا ته ودرېږو او خپل ژوند او ټولنې ته د هغې له سترګيو ور وګورو. شاعره پر نارينه تريخ

طنز کوي او وايي چې يوائځې د خپلو غوښتنو غلام دی، هېڅکله د بـل بنيـادم د زړه دربا ته غوږ نه ږدي.

يوازې دې راکړه زده وه
په ورکړه نه پوهېدې
نور څه نه دي راپاتې
د زړه خزانه مې تشه پرته ده

دا بله عاطفي او رواني تجربه وگورئ چـې ښـځه څنگـه لـه خپـل مـين څخـه د مينې د تکامل هيله لري. شـاعره پـر هغـه نارينـه نقـد کـوي چـې يـوائځې د مينـې د پيلولو لپاره تکړه دی او د دې غم نه کوي چې دا هر څه تکميل ته رسول هم غواړي.

زه لکه ماته غوټۍ
ستا د زړه په څانگه را وځړېدم
تا تم نه کړم
پيوند دې نه کړم
و نه غوړېدم
ولوېدم
تر پښو لاندې شوم

په لاندې ښايسته شعر کې شاعرې د ښځمنو يوه بله رواني تجربه په ډېـر بريـاليتوب تصوير کړې ده؛ دا تجربه د ماشـومانو د لرلـو شـوق دی؛ خـو شـعر لـه يـوه ژور درد او خياله هم ډک دی. د دې شعر د لوستو پـر مهـال لوسـتونکی د خيـال پـه مرسـته د بېلابېلو احتمالي تراژيديو نندارہ کوي؛ پـه شـعر کـې راغلـې ښـځه ممکـن تـر وخـت وړانـدې کونـډه شـوې وي؛ ممکـن پـر کـور زړه شـوې سـتې وي؛ ممکـن د واده پـه شپېکونډه شوې نـاوې وي؛ ممکـن داسـې يـوه ميـرمن وي چـې د شـنډوالي پـه تـور ورباندې بنه راغلې ده او ممکـن او ممکـن.... پـه دې حـالتونو کـې هـر يـو حالـت د ښځې په ژوند کې يوه لويه تراژيدي ده؛ دا تراژيـدي پـه لانـدې شـعر کـې پـه څـومره هنري متانت ترسيم شوې ده.

يوه ښکلې نانځکه
د الماری په مات ويترين کې

د ناوې کېدو په تمه
په خاورو کې پټه شوه

د هر اصیل هنر یوه ځانګړنه دا هم وي چې لوستونکی د څو شېبو لپاره په هنرمند اړوي؛ پورتنی شعر مو د خیال کولو په پروسه کې شریکوي او په شعر کې د راغلې کرکټرې د حالتونو په اړه راته خیالي او ذهني تصویرونه را لیږدوي او ځکه نو پورتنی کوچنی شعر د هنر د دې ځانګړنې له مخې هم ډېر عالي شعر دی. په «تربتې چیغې» کې د ښځمنو ځانګړي عاطفي فورانونه دومره ګڼ دي چې که بیلګې یې پسې لیکو خبره به ډېره اوږده شي، ځکه به نو یو څه د دې مجموعې د شعرونو په تصویري برخه وغږېږو.

تصویرونه د بیان په مرسته جوړېږي او ټول تشبیهات، مجاز (استعارې او مرسل مجاز)، سیمبولونه، اساطیر، پاراډاکس، حس امیزي، کنایې او نور په کې شامل دي. د اناهیتا په شعرونو کې ساده تشبیهات ډېر کم دي، پېچلي تشبیهات په کې ډېر دي، خو د استعارې مهم ډول چې غربیان یې پرسونیفیکشن بولي په کې بیخي ډېر دی او سیمبولونه او اساطیر هم ځای ځای. لاندې شعر ولولئ:

له ورایه مې تش قفس ولید
خوشحاله شوم چې یوه مرغۍ خو په هوا شوه
چې رانږدې شوم قفس له بنېکو ډک و

په دې شعر کې ظاهراً شاعره د یوه تش قفس په اړه غږېږي چې وروسته له بنېکو ډک دی او شاعره پر خپله خوشباورۍ پښېمانېږي، خو تر دې ظاهري بڼې ور هاخوا دا شعر ماته یو څه نور هم وایي. ممکن قفس زموږ د ټولنې جابر میړه وي؛ ممکن مرغۍ له ده سره په زور ایساره شوې مظلومه میرمن وي او ممکن بنېکې د دې مظلومې د مرګ کیسه کوي. سیمبولیک اثار د کلاسیکو او رومانتیکو هغو پر خلاف احساس توصیفوي او را انتقالوي نه، بلکې په لوستونکي کې د عواطفو بالقوه سمندر بالفعل کوي. سیمبولیک اثار لکه سلواغې د احساساتو اوبه د لوستونکي د زړه او اروا له ژورو را وباسي. دا شعر که زموږ د کلتوري زمینې په پام کې نیولو سره ولوستل شي، نو لوستونکي ته داسې یو احساس هم ور تداعي کوي لکه ما چې ترې واخیست او که نور لوستونکي یې ولولي او په ذهن کې یې کوم بل پس منظر

وي ممکن بل تعبير ترې وکړي. د اصيلو سيمبوليکو اثارو لويه ځانګړنه دا وي چې د هر لوستونکي مافی الضمير په کې جلوه کولای شي. وايي صوفيانو به د عربانو د جاهليت د دورې له شعرونو هم صوفيانه تعبيرونه را ايستل.

د تربتې چيغې شاعره له ټول طبيعت سره شاعرانه چلند کوي؛ شاعري د بې روحه طبيعت ډېرو برخو ته د خپلې شاعرانه اروا يوه برخه په پور ورکړې ده او هغوی يې په انساني ژوند کې را شريک کړي دي. وايي چې تشخيص يا پرسونيفيکشن د پخواني اساطيري انسان انيميزم دی چې په شاعرانو کې يې لا هم اغېز پاتې دی. د اناهيتا په لاندې شعر کې لمر او غر دواړه را ژوندي شوي او انساني ځانګړنې يې اخيستي دي:

لمر په غره ورټيټ شو
پټ يې څه ورته وويل
د غره ډېرين زړه وښورېد
په واورين ټټر يې اوښکو لارې وکړې

د «عمر» په نامه دا لاندې شعر هم ولولئ چې ټول اجزا يې انساني شوي دي:

بالټيو عمر وخوړ
د ګړۍ عقربې وغځېدې
ګردونه په بېړه روان شول

پاراډاکس يو بل نوی هنري ميکانيزم دی چې د اناهيتا په شعرونو کې يې ګڼې بيلګې راغلې دي. هغه د دې پر ځای چې ووايي: «کوټه تشه توره ده.» وايي: «کوټه له انتظاره ډکه ده.»

کوټه،
له انتظاره ډکه ده
روح مې نوي کالي
اغوستي
ستوري را روان دي

په دې لاندې لنډکي شعر کې د باران ترنم  د اورېدلو پر ځای ښکل شوی او لمس شوی دی؛ دې تخنيک ته نوې کره کتنه حس اميزي يا Synesthesia وايي:

د باران ترنم مې ښکل کړ
شونډې مې
معطرې شوې

په دې بل ښکلي شعر کې بیا ورمې د بویولو پر ځای اوریدل شوې دي:

لا یې ورمې اورم
په رګو کې مې بهیږي
زموږ د کور د مخې
سپینچکه نسترن
او خوشبو د اکاسي

د شعر په معاصرو تیوریکو بحثونو کې د شعر موسیقي یواځې په عمومي وزن، قافیه او ردیف کې نه خلاصه کیږي، بلکې ټول هغه تناسبات او د کلماتو داخلي شرنګ په کې شامل دی چې شعر ته موسیقایي وحدت ورکوي.

د اناهیتا په شعرونو کې د موزونو او مقفی کلامونو غوندې پخوانۍ موسیقي نه شته خو د کلماتو شرنګ، د تصویرونو او صحنوتر منځ تناسب او پیوستون د هغې په ټولو شعرونو کې یو پیاوړی آهنګ ایجادوي. په لاندې شعر کې د مراعات النظیر په مرسته د شعر عمومي تصویر څومره له تناسب او پیوستونه برخمن دی:

شپونکي باد
شپیلۍ غږوله
د وریځو رمه یې تښتول
د وخت د لیوه خوله
د ماښام په وړانګو سره وه
ما د ستورو شیدو ته کاسه نیولې وه

تر دې ټولو ورها خوا د «تربتې چیغې» شاعره ځای ځای د وطن، ژوند ، سیاست، طبیعت او ماورای طبیعت په اړه ځانګړې فلسفي لیدلوري هم لري. یو ځای وایي:

مصلې یې په لمانځه
سورۍ سورۍ کړې
عجیبه ده

د تسپو په تار یې
وربېل سرونه

## پایله:

په ټوله کې د اناهیتا ځینې شعرونه گونگ غوندې را ښکاره شول ښایي د نوو ادبي مکتبونو او تیوریو لوستلو هغه سور ریالیستي ادبي مکتب ته متمایله کړې وي؛ زه په دې اړه غوڅه خبره نه شم کولای، خو دومره یادونه مې ځکه وکړه چې په شعرونو کې یې د دې هنري او ادبي مکتب گڼ څرکونه ښکاري. د دې مکتب هنري اثار د ارسطويي منطق خو څه چې د ادبي منطق په تله هم نه تلل کیږي او همدا ځای دی چې کله کله د پخوانی کره کتنې او نوو هنري مکتبونو ترمنځ ټکر را منځته کیږي.

په هر صورت! د اناهیتا شاعري د پښتنو ښځینه شاعرانو د شاعرۍ په ډله کې د ښځمنو د اصیلو عواطفو او د دې عواطفو د هنري پریزنټېشن له مخې ماته بیخي نوې او بل ډول ښکاره شوه. خدای دې وکړي چې نورې بوختیاوې یې دومره بوخته نه کړي چې شاعري دویمه درجه کار وگڼي.

## مأخذونه:


۱- کدکنی، محمد رضا شفیعی، موسیقی شعر، چاپ انتشارات امیر کبیر، تهران، ۱۳۸۱خورشیدی، ۳ مخ.

۲- اناهیتا روهي، تربتې چیغې، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹٦ لمریز کال، ۱۵ مخ.

۳- همدغه اثر، ۳۷ مخ.

۴- یاد اثر، ۴۳ مخ.

۵- سلما شاهین، روهي سندرې، پښتو اکاډمي، پېښور یونیورسټي، ۲۰۰٦ زېږدیز کال، ۱۴۵ مخ.

ځېړندویه ملکه مشتري

# په پښتو شفاهي ادبیاتو کې د واده سندرې

**لنډیز:**

په دې مقاله کې د واده په سندرو عمومي بحث ترسره شوی دی، خو لکه څنگه چې د واده سندرې د فولکلور او شفاهي ادبیاتو یو اړوند ژانر دی، نو په فولکلور هم لنډ بحث شوی دی.

بابولالی د واده ځانگړې سندرې دي، خو د ودونو د بېلابېلو دودونو لـه مخې ډېر ډولونه لري، خو د دې لپاره چې د موضوع د لا اوږدېدو مخه ونیـول شي د بابولالو ځینې ډولونه راغلي او بحث پرې شوی دی.

بابولالې د واده هغه سندرې دي چې په ځـانگړې توگـه د ښـځو لـه خـوا یوازې په ودونو کې ویل کېږي.

**سریزه:**

د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې د واده په سندرو چې هرڅومره کـار تـرسره شي بیا هم خپله کمي نه شي پوره کـولای، د دې لپـاره چـې پښـتانه بېلابېـل ټبرونه، بېلابېل دودونه لري، نو د بېلابېلو دودونو له مخې یې ودونه هـم تـوپیر لري او همدارنگه یې د واده سندرې هم سره متفاوتې دي.

په بېلابېلو کتابونو کې د واده په سندرو څېړنه شوې ده، خـو د دې لپـاره چې د یوې مقالې په توگه د واده په مراسمو کـې د ښـځو لـه خـوا ویـل شـوې

سندرې راټولې او څېړنې پرې وشي دا مقاله د همدې موخه لپاره ترتیب شوې ده.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

اهمیت یې په دې کې دی چې د واده په اړه خورې ورې لیکنې د یوې مقالې په بڼه راټولې شوې ترڅو د زمانې په تېرېدویې د ورکېدو مخه ونیول شي، ځکه چې د پښتنو په ولسي ژوندکې د واده سندرې ډېرارزښت لري.

د دې موضوع په اړه پېلابېلو منابعوکې یوشمېرلیکنې شوې دي، خوپه پښتوشفاهي ادبیاتوکې د واده سندرې د مقالې مبرمیت په دې کې دی چې په اکاډمیکه بڼه څېړنه پرې شوې ده.

**د څېړنې موخې:**

څرنگه چې د بحث وړموضوع فولکلوري بڼه لري نوپه کلواواولسونوکې د واده په بېلابېل مراسموکې د ښځوله خوا سندرې ویل کېږي د دې لپاره چې د یوې علمي مقالې په توگه ټولنې ته وړاندې شي دا سندرې راټولې شوي اوڅېړنه پرې شوې ده.

**د څېړنې پوښتنې:**

د واده سندرې د پښتوشفاهي ادبیاتود نوروفورمونوپه څېرځانگړې ویونکي لري اوکه نه؟

د پښتنوپه اولسي ژوند کې د واده په مراسموکې د واده سندرې ویل کېږي اوکه نه؟

د واده سندرې د پښتنوپه بېلابېلوسیموکې د بېلابېلو دودونوله مخې توپیرلري او که نه؟

**د څېړنې روش:**

په دې مقاله کې د تشریحي او څېړنیزروش څخه کاراخیستل شوی دی.

**متن:**

د پښتوپه اولسي- ادبیاتوکې د ښځووندې د لیکوالواوعامووگړود پام وړگرځېدلې ده. د نورو اولسي فورمونوترڅنگ د واده سندرې په ځانگړې بڼه

په ښځو پورې اړه لري. د واده سندرې په خپلوځانګړوځایونوکې ویل کېږي.، خود بېلابېلوسیمواودودونوله مخې د هرې سیمې د واده سندرې سره توپیرلري. د واده سندرې د پښتود اولسي- ادبیاتودېره مهمه اوپه زړه پورې برخه ده.

څرنګه چې د واده سندرې د فولکلوراوشفاهي ادبیاتویواړوند ژانردی، نوځکه لازمه ده چې په دغوسندروله بحث څخه د مخه د فولکلورپه اړه یوه لنډه یادونه وکړو:

فولکلور folklore: انګلیسي- کلمه ده اوله دووتوکونوڅخه ترکیب شوې چې فولک ( folk) د وګړو، خلکواو اولس اولور( lore) د پوهې ، زده کړې اوحکمت په معنا دی، پردې بنسټ فولکلورد خلکود پوهې په معنا راځي.

د فولکلوریوتعریف داسې دی:

فولکلورد یوملت د آدابو، رسومو، دودونو،افسانو،کیسو، عقایدو او خرافاتي معتقداتو، افکارو، ترانو، نڅاوو، ساده اوابتدایي هنرونو، عامیانه طب (نباتاتو اوجادویي برخو)، اسطورواومتلونوټولګه ده.، چې په عمل کې سینه په سینه له یونسل څخه بل نسل ته لېږدېدلي دي.(۱)

د فولکلورپه اړه زلمی هېوادمل داسې نظرلري:

زموږخلکود پېړیوپه اوږدوکې خپل ارمانونه، خپلې خوښې، خپل غمونه، خپلې مینې اود خپل اجتماعي ژوند کره وړه په شفاهي ادبیاتوکې بیان کړي دي. دغه ادبیات په شفاهي توګه خوله په خوله له یونسله بل ته یا له یوه تنه بل ته لېږدېدلي دي. اود لېږد په دې پروسه کې یې کلیوالي موسیقۍ هم خپل نقش ادا کړی دی.(۲)

د پښتوپه شفاهي ادبیاتوکې د واده سندرې لکه د اولسي- عاموسندرود نوروفورمونوپه څېرځانګړې ویونکي نه لري، او د عامواولسي سندروپه برخه کې د مطالعې ځای لري. دغه سندرې ځانګړی جوړښت لري غالباً د ښځوله خوا جوړې شوې اوپه خپله د همدوی له خواپرېکړې او کوژدې څخه نیولې، بیا د

واده تر دریمې او اوومې ورځې ترمراسمو پورې دوام مومي. ښځې د واده، کوژدې او د واده د بېلابېلوشپواو ورځولپاره بېلابېلې سندرې لري. دغه سندرې په ډ ېروپښتني سیموکې د «بابولالې» په نامه پېژني او ځینو پوهانو او محققینو هم بابولالې بللي.، خود زرینې څانګې مولف وایي: (( څرنګه چې بابولالې د دې سندرویوه ډېره وړه څانګه ده. ځکه دانوم جامع اومانع نه دی، نوځکه ځینې محققین د واده سندرې یا دښادۍ سندرې ورته وایي ))(۳)

د واده سندرې د ښځوله خوا د نڅا په ترڅ کې ویل کېږي. دغه سندرې ډېرې لرغونې دي، اوداسې نخښې نخښانې له ځان سره لري، چې تراسلامې دورې رومبۍ ښکاري. د بېلګې په توګه په څوسندروکې د چندنو کارونې ته اشاره شوې، چې دا کار د آریایانوپه بودایي دوره کې دود واو هندوانواوس هم ساتلی دی هغه دا چې د چندن، صندل، سندرله بوټي څخه د سپیڅلتیا اوخوشبویي لپاره کاراخلي اوپه تندي یي موښي.(۴)

غوټۍ خاورې د زرینې څانګې د لیکوال د خبرود لا بشپړتیا په اړه داسې وایي: اوس هم د پښتنوپه ځینوسیموکې د سندرکارونه دود لري، د ننګرهار ولایت د روداتوپه ولسوالۍ کې اوس هم د زوم کورنۍ د نورو جوړو جامو سره سندر هم د ناوې د پلارکورته وړي، د واده په ورځ د ناوې له کورنۍ څخه یوه ښځه سندرجوړوي اوپه بل لوښي کې ( سورلرګی) په ژېړوغوړوکې ټکوي، په سندرکې سلایي ږدي اوکله چې د زوم د کورورا د ورځې له خواپه ناوې پسې راشي، نو هغه ښځه لومړی پېغلواوښځوته اوربل یا پیکی غوړوي اوپه سلایي ورته سندروهي ( په سترګوکې ورته سلایي وهي)، چې په هغه سیمه کې یې ( دړی بولي)، نوڅرنګه چې دغه دود اوس هم په پښتنوکې شته دی.، نوځکه هغه سندرې، چې د (سندر) نوم په کې راغلې وي لرغونې بلل یي د تامل وړبرېښي. د محتوا له نظره د واده سندرې کله د جنګ اود پیغورموضوعګانې، کله د خوښۍ اوخوشحالۍ، کله د ستاینې اوغند نې اوکلههم د ټوکوټکالوپه بڼه وي.

د واده د سندرود ويلوترتيب د اتڼ له ناروسره جوت توپېرلري، خود شعري جوړښت له مخې دوه مسره ييزې، درې مسره ييزې اوکله هم څلورمسره ييزې وي.

کله چې د نکريزوپه شپه د زوم له کوره ځيني کسان د ناوې کورته ولاړشي.، نولومړی د زوم يوه خپلوانه چې ډېرزامن ولري اوپه کورني ژوند کې خوشحاله وي. ناوې ته نکريزې ږدي بيانوښځې داريه اوچمبه راواخلي اوپه سندروپيل وکړي.

لکه:

د کونج مېرمنې پاڅه که دې زړه شي.

هومره خوپانه ځې چې پلانکی خان لونگی په لاس درته رانه شي.

کله چې وراء نوې د ناوې کورته ځي په دروازه کې دا سندره وايي:

درځم که نه درځم شالونگينې ولاړه شم که ځمه (٥)

زموږ د هېواد په غرنيوسيمو(پکتيا، خوست)کې له واده څخه يوه ورځ مخکې يوه ډله نجونې د ناوې کوڅی شوي وښته خلاصوي يا سپړي، چې په دې وخت کې هم ورته سندرې ويل کېږي. په دې سندروکې د ناوې د پلارله کورڅخه لرېوالی او خپگان داسې انځورشوی دی. لکه: دا لاندې سروکي:

جلکی خفه ده نن سبا يې ودوينه

اوربل يې ړنگوينه

چې د ديدن نصيب يې نه وي

اوربل يې ړنگوينه

په يوه کوڅه کې سره وړاندې وروسته شينه

اوربل يې ړنگوينه

جلکی خفه ده نن سبا يې ودوينه

اوربل يې ړنگوينه(٦)

د واده له ورځې څخه یوه شپه مخکې یوه ډ له ښځې د ورا پـه نامـه د ناوې کورته ورځي دا شپه ډېراهمیـت لـري، پېغلونجونـواو زړوښـځوځانونه ښـه سینګارکړي وي پـه لمدوشـوونکریزوکې یـي شـمعې بلـې کـړې وي اود واده د خوشـحالۍ سـندرې وایـي چـې پـه ډ ېـره کچـه پـه کـې د زوم اود هغـه د خپلوانوستاینې اوصفتونه کېږي. د نکریزولـه دود سره سـم بـه د سـندروځینې بېلګې راواخلو:

راځۍ چې پــه سـندروجهانونه لړزوونه
نکــریزې لګوونه نکـــریزې لګوونه
موتې دې پــرانیزه لاســـونه سره کړه
د دې همــزولـــونجونـــوزړونه ښه کړه
که ته بهانــه کړې موږکله دې پرېږدونه
نکــریزې لګوونه نکــریزې لګوونه (۷)

په پورتنیو سندروکې ناوې دې ته هڅول کېږي چې نکریزې کېږدي ترڅویې همزولې خوشحاله شي، البته چې په کلواوباندوکې ناویانې د پښتني فرهنګ له مخې شرمېږي اوپه اسانۍ سره د نکریزو اېښودلوته نه حاضرېږي.

د ناوې د سینګار یا جوړولوپـه وخـت کـې د نـاوې د سـتاینې پـه اړه ځینې سندرې ویل کېږي. لکه:

په ســروګوتوکــې ګــوتمۍ عجب خوند لري
غمي خپلـــه پـــړقـاپـــرې بند پــه بند لري
میاشت چې نرۍ شي د نتکۍ نه به ځارېږي نه
ناوې جــوړېـــږي نه ناوې جـــوړېـــږي نه

پــه پورتنیوســـندروکې د نـــاوې د ګاڼواوسینګارســـتاینه شـــوې ده. پــه اولسونوکې څونجونې په یوه جلا خونه کې ناوې سـینګار وي، پـه نـاوې پسـې راغلې ورا د ېېرته تلولپاره بېړه لري.، خوناوې په اسانۍ سره نه جوړېږي.

د ناوې په کورکې د ناوې خورد نوموړې په تللوخپل خپګان اوزړه سوی په

سندروکې داسې انځورکړی دی.

زه به ستا ارمـــان کـې ژاړم زما خورې
په امـــان امـــان دې غــواړم زماخورې
ځه په مخه دې رڼا شه ژوندون گران شو
جدايي مــې ستا پــه زړه باندې ارمان شو

بل ځای بيا د ناوې خورناوې ته عزم اومورال ورکوي اوله سپېڅلي ذات ځخه ورته دروښانه راتلونکې هيله په سندروکې داسې کوي.

په نوي کـــــوردې خـــدای اباده لره
پښـــــتنې خــــورې پت پـــه ياد لره
زړگی دې ولگــوه ستا دلته گزران شو
جدايي مې ستا په زړه باندې ارمان شو (٨)

د پکتيا په خلکوکې چې کله ورا د زوم له کور ځخه د نـاوې د کورپـه لور روانه وي اويا د ناوې د راايستلوپه وخت کـې ځينـې سـندريزبيتونه د ډول اوټپوپکود ډزوپه بدرگه ويل کېږي چې په عمومي ډول د دغسـې بيتونولـومړی مسرــه اوږده او دوهمــه مسرــه يــې لنــډه وي.، چــې د لــومړی مسرــې د سيلابونوشمېريې له (١٣) ځخه تر(١٥) سيلابونوپورې اود دوهمـې مسرـی د سيلابونوشمېريې (٦) اويا (٧) وي.

لکه:

دا سپينه ټنډه سره غمبورې دې منې دي
ورکې لونگ دانې دي
دامسافره جلکی ځي پــه سره ډولی کې
وړې وړې سلگی کي (٩)

د پورتنيومسرو لومړی نيم بيتی(١٣) سيلابه او دوهم يې (٧) سـيلابه يــا ځپــې لــري. پــه لومړيوبيتونــوکې د نــاوې د ژونـد بريــاليتوب اود پښــتنوپه اصطلاح د تندي اوتقديررڼايي او سپېڅلتيا انځورشوې ده اوپه دوهمـه مـسره

کې د ناوې د پلارله کورڅخه لرېوالی اود نومورې خپگان بیان شوې دی.

چغیان( اوښکی) هم د واده د سندرویوه برخه ده. دا د ناوې گانوهغه تراژیدي اوله سوزڅخه ډ کې سندرې دي چې د واده په ورځ د پلارله کورڅخه د تلوپه وخت کې د ژړاپه څپوکې ویل کېږي.، څرنگه چې په ځینوپښتنوکې ودونه د نجونوپه خوښه نه وي اویوشمېریې د ډېرولورپه بدل کې واده کېږي.، نوځکه ناوې په ځانگړې آهنگ لرونکې ژړاکې د زړه غوټې سپړي اوخپلې خپلواني له ځان سره په ژړا کوي.

د بنې له مخې د چغیان اواوښکي جوړښت د اتڼ نارو اود واده سندروته ورته دی. اوهره یوه یې دوه مسریز، درې مسریز، څلورمسریز، پنځه مسریزاوتردې ډ یروي.

مسرې یې د مطلب تربشپړېدوپورې ډېرېږي. په چغیان کې په پلاراوهغوخپلوانوچې د ناوې په خرڅولوکې لاس لري پرهغورسا گذارونه کېږي.

په کاکړو، بلوجستان اود کوټې د سیمې په پښتنوکې د چغیان اواوښکی د سندرو دود شته دی.، خو په نوروپښتنوکې یې دود لږدی. د بېلگې په توگه:

د سپینې خونې ترمخ ماخیی
بابکه زهردې سه زما روپیی
پرسربه وړمه د غم ټوپیی
په پښوبه وړمه د ویرکپیی
زه له بابکه گیله لرم
نن شنې روپۍ سوم ویې خوړم (۱۰)

په پورتنیوسندروکې یوې لورله پلارڅخه د ډېرولوراخیستلوپه خاطرخپگانونه اوگیلې د سوو اسویلیوپه ژړاکې انځورکړې دي.

د هلک کورته د ناوې په بيولوکې کې د زوم خورد خپلې خوشحالۍ بيان، د ناوې ستاينه اوپه خپل تېرکې د هغې ځانګړيتوب په سندروکې داسې انځورکړی دی:

موږ وې چې خدايه کله بيا سبا به شي
سره ډولۍ زموږه کورته را به شي
شکرخدايه چې پوره زموږ ارمان شو
نن د خوشحالۍ نه مې په زړه کې چراغان شو
په قلار قلارېې راولئ نيازبينه ده
دا زموږناوې ګل مهينه ده
اوس خوتېول تېرد دې په مينه بند يوان شو
شکرخدايه چې پوره زموږارمان شو(۱۱)

کله چې د ناوې له مخ څخه شال پورته شي، ناوې خپل مخ په هغه ځانګړي خامک شوي د سمال باندې پټ کړی وي چې د همدې مقصد لپاره ورسره وي د زوم د کورنۍ نږدې غړي د ناوې مخ نوروته ښکاره کوي، دوستان اوخپلوان ناوې ته مخ کاته( مخرونې) ورکوي اوبيانو که لږعيب په کې ويني د ولوراودرانه لګښت په وجه يې ښځې په سندروکې داسې انځوروي.

زموږ د ناوې دوې لوښتې تندی دی
زموږد ناوې دوې لوښتې تندی دی
ارمان ارمان مې د((نازک))هاشين پټې دی
ارمان ارمان مې د((نازک))هاشين پټې دی(۱۲)

کنځاکۍ يا سندريزې نانډرې هم د واده د سندرو يوه برخه ده. کنځاکۍ په ځينوسيموکې د کنځلو(ښکنځلو) په نوم هم يادېږي چې د جوړښت له مخې دوه مسرېې لري. د کنځاکيوموضوع په ټوليزډول ګيلې، شکايتونه، مينه ناکې ځورونې اوپه غيرمستقيم ډول د ځينوغوښتنوپوره کول دي. چې د کنايې په ډول د زوم اوناوې د ښځينووخپلوانوله خوا د سوال

اوځواب په ډول یواوبل ته ویل کېږي. او کله پرته له سوال اوځواب څخه هم ویل کېږي د بېلګې په توګه:

د زوم خېلوله خوا:

موږداسې زوم در کړی
لکه تارد زرتار

د ناوې خېلوځواب:

موږداسې ناوې درکړه
لکه ونه د چینار

پـه پورتنیومسرـوکې د زوم کـورنۍ د زوم سـتاینه کـوي اوهمدارنګـه د ناوې کورنۍ د ناوې ستاینه کوې. اوځانونه له یوبل څخه کم نه ګڼي.

د ناوې له کورڅخه د ناوې د بیولوپه وخت کې د پاتې وګړود ځورولوپه خاطرداسې ویل کېږي:

موږبه ناوې یـــوســوله ډولوسره
تاسې خاورې بادکړئ له ایروسره

پـه کنځـاکیوکې د بېلابېلوسـیمود ښـواوبدو دودونویادونـه کېـږي.د ناوړهدودونوپلي کول په کنځاکیوکې د پیغور په توګه بیانېږي دا ځکه چې په پښتنوکې ځینې کورنۍ په نجلۍ ډېرولوراخلي اوپه نجلۍ باندې یې نه لګوي، نوهغه ورته د پیغورسببسب ګرځي.لکه د خسرکورته د رسېدلوپه وخت کې ناوې داسې ځورول کېږي:

ښه شوچې تـــرشنووونوموتېره کړې
پلاردې په ولورشوته یې هېره کړې(۱۳)

بـابولالې هغوځانګړواولسي- سـندروته وایـي، چـې د ښـځوله خواویـل شوي اود دوی له خوا د واده په بېلابېلووختونوکې ویل کېږي.

د بـابولالود پیداکېـدو وخـت ښـکاره نـه دی، خـو خـورا لرغـونې سـندرې دي، د دې سـندروله ژورې کتنـې څخـه داسـې ښـکاري چـې

بـابولالې بـه هـم د لنـډيواود اتـڼ د ناروپـه څېربـه ښـايي لـومړی پـه کندهاراوشاوخواسـيموکې ويـل شـوې وي اوبيـا بـه يـې وروسـته پـه نوروپښتنوکې دود موندلی وي.

پـه اولسي۔ سـندروکې بـابولالې يوځـانګړی جوړښـت لـري، د بنـې لـه مخـې لـه دريووبېلابېلوټوټوڅخـه جـوړې شـوي اوکلـه کلـه دوه مسرـې هـم لـري د بـابولالې لـومړی مسرـی پـه عمـومي توګـه لـه موضـوع څخـه لـرې وي، خويـواځې د دوهـم اوپـه موضـوع پـورې اړونـد بنـد د قـافيې لپـاره راوړل کېږي.

بـابولالې د هـرې سـيمې د دود لـه مخـې د واده پـه بېلابېلـو وختونـو کـې لکـه: د سـتنې راوړل، د پـوښ ورځ، د مـال د حلالولووخـت، دسرخلاصـولو وخـت، د نکريزوشـپه، د سرجوړولوسـهار، د ورا د راتـګ وخـت، د جـامو د بـدلولو وخـت، پـه کجـاووکې د سـورولووخت، د نـاوې د پلارلـه کـوره د راايسـتلووخت، د نـاوې د خسرـکورته د رسـولووخت، او ځينـې نوروختونه...پـه دې معنـا چـې بـابولالې پرتـه د واده لـه وختونوبـل وخت نه ويل کېږي.(۱۴)

د واده د بېلابېلودودونولـه مخـې بـابولالې ډېرډولونـه لـري، خـود موضوع د اوږدېدود مخنيوي لپاره يې د ځينوډولونوپه راوړلوبسنه کوو:

**د ستنې راوړل:**

هغـه وخـت چـې د دووکورنيـو تـرمنځ د خپښـی لـوزوشي، نوبيـا وروسـته د د سـمال ياسـتنې د راوړلوترتيـب پـه ډېرشـوراوزوږسره نيـول کېـږي. د زوم لـه کـوره يـوه ډلـه سـړي، ځوښـځې اوکلـه کلـه زوم هـم د پيغلـې کورتـه ورځـي هلتـه لـه ډوډی خوړلـو، شـيريني اوبرخووېشـلواوايجاب و قبـول څخـه وروسـته راروانيـږي اود پيغلـې د کـورنی لـه خـوا ورتـه د پيغلـې پـه لاس جوړشـوی د سـمال چـې ځونـډې، ګـلان او آينـې ورپـورې وي د زوم د کـورد يـوتن پـه د سـتاريا پګـړی کـې

ورپټومبـل کېـږي لـه کـوره د راوتوپـه وخـت کـې پـه ډ زوپيـل کـوي د د سمال ښايست د نجلۍ د لاسي کار ستاينه کوي.

خـود ننگرهـارد خوگيانوپـه سـيمه کـې د نجلـۍ د ورکـړې د سـمال نجلـۍ نـه جـوړوي، بلکـې د نجلـۍ د موريـا د کـورد نوروښـځوله خواپـه ډېـره ښـکلي اوښايسـته بڼـه جـوړېږي اود هلـک لـه کورنـه راغلوخلکوته له پرېکړې څخه وروسته ورکول کېږي.

لـه موضـوع سره سـم بـه دا بېلگـه راواخلـو، چـې د رومـال يـا د سـمال د اخيسـتلوپه وخـت کـې ويـل کېـږي اود رومـال د ا خيسـتلود خوشـحالۍ احساس اود دووکورنيووياړپه کې انځورشوی دی.

راغـي رومال راغـي - رومال پټ دی پـه قبوکې
د (پلانکي) په سرکې ايښی سريې لوړدی په تربروکې (١٥)

**د پوښ ورځ:**

د واده د ورځـې د ټاکلوپـاره د هلـک لـه کورڅخـه يويـا څوتنـه د خسرگنۍ کورتـه ورځـي د واده د ورځـې خـوږه معلومـوي اود واده ورځ ټـاکي. پوښ د ناوې له جامو، گـاڼواود واده د ورځـې لـه خـوږې څخه عبـارت دی. د پوښ له وړلوسره سړي ډولونه وهي، اتڼونـه کـوي، اوآزونـه وايـي اونخښـې ولي اوښځې داريه وهي، اتڼ کوي اود پوښ د ستاينې لپاره په ځانگړې بڼه داسـې بابولالې وايي:

شين بادرنگ اوبو رواړی - شين بادرنگ اوبـوراوړی
موږ داسـې پوښ راوړی چايې گل - گل نه دی ليدلی
د پاسـه اوبه راغلې پـه سـريې شـنې اوبړۍ راوړي
( پلانکي) ته ويه (وايه) راوځه کلاته شهزادگۍ راغلې (١٦)

**د مال د حلالولو وخت:**

د پوښ له ورځې څخه وروسته له پوښ سره راغلي سړي ځـي. ښـځې اوخيښې د ناوې پلارگنۍ کره پاتې کېـږي، د پـوښ پـه سـبا يـا دوهمـه ورځ د

ځارویود حلالولو وخت کېږي چې په دې وخت کې د ناوې په کورکې د پاتې شووخیښواوښځوله خوا ځینې بابولالې ویل کېږي، په هغې کې ځینې ستاینې او ادبې ښکنځلې هم شاملې وي. لکه:

غویي چې للوئ ( حلالوئ) لکۍ یې پرېږدئ
غویي چې للوئ ( حلالوئ) لکۍ یې پرېږدئ
لکۍ یې د ( پلانکۍ) په نگښې(*) کېږدئ !

له ناویتوب څخه وروسته د ناوې ویښتان په دوومساوي برخووېشل کېږي او وربانديې کنډوهل کېږي دې ته نگښې وایي.

**د ناوې د سرخلاصولو یا سپړلو وخت:**

د ناوې د سرخلاصولووخت هم د مال د حلالولوپه ورځ وي، چې سړي د مال په حلالولواوښځې د ناوې د سرپه خلاصولوبوختې وي د سرخلاصولوپه وخت کې ناوې (اوښکۍ) وهي اود خپلوهمزولوله خوا د تسلیت بابولالې او د ځینو له خوا ورته د افسوزبابولالې ویل کېږي. په دې بابولالوکې د ناوې ژړا لازیاتېږي.لکه:

دا توراوربل دې چې اوبدوپه خیال مینه وې (هوی) په خیال مینه وې

چې (پلانکی) خان یې ورانوي اوس گیله منه یې (هوی) اوس گیله منه یې. (۱۷)

اوځینې وخت د بابولالو په سندره کې د بابولالې لفظ په عین بڼه په تکرارراوړل کېږي.

لکه:

اوښ ولاړ زنگون تړلی
ترهغه به یې خلاص نه کړم
څوزما جان نه دی راغلی

دا بابولاله په ځانگړي ډول سره داسې وایي.

اوښ ولاړزنګـــون، تړلی (ها) بابولاله ـ لاله
اوښ ولاړ (وای ـ وای) زنګون تړلی ( وای)
ترهغوبه یې خلاص نه کم (وای) بابولاله لاله
څوزما جان( وای ـ وای) نه دی راغلی( وای) (۱۸)

لومړۍ مسرۍ تکراراوپه منځ کې ( بابولاله ـ وای وای) وراچول کېږي، دوهمه مسرۍ یوځل ویل کېږي اود مسرۍ په منځ کې (وای بابولاله ـ والاـ لا) وراچوي.

پورتنۍ بابولاله د پښتنود هغو دودونوښکارندویي کوي چې ځینووګړوبه د ناوې د بیولولپاره اوښان اواسونه سینګارول اوچمتوکول.

**پایله:**

ښــځود نارینــه وو ترڅنــګ د اولـــسي ادبیاتوپــه بېلابېلوبرخــوکې ونــډه اخیســتې ده، خــود واده ســندرې پــه ځــانګړې توګــه د ښـځوله خــوا ویــل شـــوي دي. زمـــا پـــه انـــد پـــه بېلابېلوســـیموکې د واده دودونـــه لږوډېرتوپیرلري،نوپـه همـدې توګـه سـندرې یـې هـم سره څـه ناڅـه تـوپیر لري.

زمـوږد هېـواد پـه غرنیـو سـیموکې اوس هـم د واده د سـندرو بېلابېلـې برخـې شـته دی.، خوځرنګـه چـې پورتـه د چغیـان یادونـه شـوې ده. پـه دې بڼه چغیـان یـا اوښکـی پـه بـره پښـتونخوا یـا پـه افغانسـتان کـې نـه شـته دی اوکـه وي هـم پـه محدودوسـیموکې بـه وي چـې دلتـه پـرې لـه بحـث نـه تېریـږم، یـواځې دومـره وایـم چـې پـه کـوزه پښـتونخواپه ځـانګړې توګـه پـه کوټـه کـې زیـاتې دود دي ډېرځـای ناویـانې د پلارلـه کورڅخـه د تللوپـه وخـت کـې یـواځې پـه مړواوښکواوسـلګیوکې د سـوزژړاکوي. اود ښـادۍ پـه سـندروکې د کنځاکیوبرخـه هـم د پښـتوپه شـفاهي ادبیـاتوکې د اولـس د نالوستوښځود هنري ذوق اوعلاقې څرګندونه کوي.

**مأخذونه:**

۱ـ آریانا دایرة المعارف (ط - ک)، پنځم ټوک، فولکلور، د افغانستان د علوموا کاډمي، د دایرة المعارف مرکزریاست، نبراسکا مطبعه، کابل، د ۱۳۹۲ش کال چاپ.

۲ـ زلمی، هېوادمل، د پښتوادبیاتوتاریخ (لرغوني اومنځنۍ دوره)، لومړی ټوک، دوهم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۹ل کال چاپ.

۳ـ خاورې، غوټۍ، د پښتوشفاهي ادبیاتوشکل اومضمون، د ا. ج. د علوموا کاډمي د ژبنیواوادبي څېړنومرکز، پښتوټولنه، د فولکلوراوشفاهي ابیاتودیپارتمنت، دولتي مطبعه، ۱۳٦٦ش کال چاپ.

۴ـ پورتنی اثر

۵ـ پورتنی اثر

٦ـ محمد عارف غروال، غرنۍ سندرې ( د پکتیا ځینې اولسيـ سندرې)، د افغانستان د علوموا کاډمي، د ژبواوادبیاتوانستیتوت، دولتي مطبعه، ۱۳٦۰ ل کال چاپ.

۷ـ شاه جهان. پښتوادب کې د مېرمنوبرخه ( ایم فل تحقیقي مقاله)، ندیم یونس پرنټرزلاهور، ۱۹۹۳ع کال چاپ.

۸ـ پورتنی اثر

۹ـ غرنۍ سندرې ( د پکتیا ځینې اولسي سندرې)

۱۰ـ رفیع، حبیب الله. د واده سندرې، زرینې ځانگې، د زیري کالنی، د افغانستان د علوموا کادمي، د ژبواودبیاتوعلمي اوتحقیقي مرکز، پښتوټولنه، ۱۳٦۰ل کال چاپ.

۱۱- شاه جهان.پښتوادب کې د مېرمنوبرخه

۱۲ــ رفیــع، حبیــب الله. پښــتني ودونــه، د افغانســتان د کلتــوري خدمتونواداره، بهیرمطبعه، ۱۳۸۱ ل کال چاپ.

۱۳- پاکیزه، آرزو. په پښتوشفاهي ادبیاتوکې د مېرمنوله خوا ویل شوې د ښادۍ سندرې(کنځاکۍ)، د افغانستان د اوسـنیوادبیاتود اووم مـلي جشـن د مقالوټولگه، گویته انستیتیوت افغانستان، دانش مطبعه کابـل، ۱۳۹۲ل کـال چاپ.

۱۴- رفیع، حبیب الله. د خلکوسندرې اود فولکلورپه باب لنـډه څېړنـه، د افغانستان د علوماکـاډمي، د تـاریخ اوادب ټولنـه ، دولتـي مطبعـه، ۱۳۴۹ل کال چاپ.

۱۵- پورتنی اثر

۱٦- پورتنی اثر

۱۷- پورتنی اثر

۱۸- پورتنی اثر

**پوهنیار سیداصغر هاشمي**

# په ځېړنه کې د موضوع د ټاکلو ستونزې

## لنډیز:

زموږ ډېرې څېړنې تر اوسه پورې په معیار برابرې نه دي او لا هم نه یوازې د سرلیک په برخه کې، بلکې د منځپانګې په برخه کې هم نیمګړتیاوې لري، چې له بده مرغه دغه نیمګړتیاوې ورځ په ورځ پسې غځېږي، نو د دې لپاره چې دغه ستونزه اواره شي، د څېړنې آره موخه جوته شي او د سرلیک مسئله یې وټاکل شي، نو په دغه مقاله کې مې همدغه مسایل وڅېړل او هڅه کوم چې ځوانو څېړونکو او د دې برخې ځانګوالو ته تر یو ځایه په معیار برابر مواد چمتو کړای شم.

## سریزه:

په افغانستان کې معمولاً څېړنه د سلیقو او شخصي برخوردونو پر بنسټ ولاړه ده، زموږ څېړنې ډېر ځله د دې لپاره ترسره کېږي، چې یا پرې یو څوک وغندو او یا هم د یو چا ستاینه وکړو په داسې حال کې چې د څېړنې معنا حق ته رسېدل دي او حق ته رسېدلو معنا دا ده چې ډېر ځله موږ خپلې موخنې موخې ته نه رسېږو، خو هغه څه چې رښتیا وي او حق ته رسېدل وي هغې ته پرې رسېږو چې څېړنه همدا غواړي هم، نو ځکه وایو چې په څېړنه کې باید دغه آرونه او قواعد تشریح شي او لیکوالو یا په ټوله کې څېړونکو ته دا جوته شي چې څېړنه څه شی دی او څنګه باید ترسره شي. البته موخه مې عمومي نه ده، بلکې غواړم ووایم هغه کسان چې په دې لار کې نوي ګامونه ږدي د هغوی لپاره به مې لارښود ټاکلی وي.

## د خبرنې اهمیت او مبرمیت:

د دې خبرنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې تر اوسه پورې اکثره محترم خبرونکي د خبرنیزې موضوع په ټاکلو کې له ستونزې سره مخامخ دي، دوی فکر کوي چې یو چا ته د یوې موضوع ورکول او یا یې پرې منل د خبرنې چار اسانوي او هغوی ته لارښودي لار ښوولای شي، په داسې حال کې چې د خبرنې یو هدف همدا دی چې خبرونکی یا محقق په خپله باید ځانته موضوع غوره او له خپلو امکاناتو او لېوالتیاو سره سم مخکې لاړ شي، نو د دې لیکنې هدف او مبرمیت هم همدا دی چې هم خبرونکي ته لار اواروي او هم یې په دې پوه کوي چې څه ډول موضوعات په خبرنې ارزي.

## د خبرنې موخې:

معمولاً خبرنې پراخې موخې لري، خو هره خبرنه بیا د یوې ځانګړې یا ځانګیزې موخې لپاره ترسره کېږي، د دې خبرنې هدف هم دا دی چې کله خبرنه کېږي یا یو څوک غواړي یوه موضوع وڅېړي لومړی باید پر موضوع فکر وکړي چې ایا دغه موضوع په څېړلو ارزي او که نه، بیا دې له نورو سره شریکه کړي چې ولس او په ټوله کې لوستونکی ته یې ګټې د پام وړ دي او که نه او تر هغې وروسته دې بیا په څېړلو لاس پورې کړي، په دې منځ کې ښایي له داسې حقایقو سره مخامخ شي، چې هېڅ فکر یې هم نه شي کولای، نو ځکه د خبرنې موخه لومړنیو مسایلو ته په ځیر کېدنې سره هر څه حل کولای شي.

## د خبرنې پوښتنې:

په دې خبرنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

✓ ایا هره موضوع د خبرنې موضوع کېدلای شي؟

✓ ایا د خبرنې او د تخلیق موضوع یوه ده او که توپیر لري؟

✓ کوم موضوعات د خبرنې لپاره غوره شي؟

✓ د موضوعاتو ټاکل په چا پورې اړه لري، لارښود پورې او که د خبرونکي پورې؟

✓ د خبرنې ګټه څه ده او علم ته څه ګټه لري؟

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې د معمول په څېر له تشریحي، توضیحي، تحلیلي، التقاطي او تر یو ځایه انتقادي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**متن:**

د تحقیق په لارو چارو کې اصلي موضوع داسې حیثیت لري، لکه په شمسي نظام کې لمر، لمر د شمسي نظام د ټولو سیارو مرکز دی نو په تحقیق کې اصلي موضوع او متن د نورو برخو سره اړیکه لري او اصلي مرکز ورته ویلای شو. لمر په شمسي نظام کې د جاذبي وظیفه هم پر غاړه لري یعنې ټولو سیارو ته جاذبه ورکوي. په تحقیق کې اصلي موضوع د نورو برخو لپاره بیا هم همدا حیثیت لري.

په څېړنه کې د ښې موضوع غوره کول د نیم کار تکمیل دی نو له همدې امله د موضوع په ټاکنه کې ځیرتیا په کار ده.

په تحقیق کې د خرابې موضوع ټاکل محقق ته ستونزې پیدا کوي نو له همدې امله د موضوع په غوره کولو کې د ښې او بدې موضوع پېژندل مهم کار دی.

په عمومي ډول محقق باید په تحقیق کې د ځېنو مذبذبو، پټو، مبهمو، سختو، نامعلومو او ځېنو داسې موضوعګانو څخه چې د محقق لپاره ستونزمن تمامېږي ډډه وکړي.لکه:

۱ . هره څېړنیزه موضوع باید خالصه تنقیدي نه وي. تحقیق له تخلیق، تنقید او داسې نورو پوهنو سره اړیکه لري خو د هر یوه د کار ساحه معلومه ده.لکه:

په پښتو شعرکې تخیل.

په پښتو شعر کې انځورګري.

په پورته موضوعګانو باندې تیزسیسونه او ډېزرټېشنونه لیکل کېدای شي خو دا هغه موضوعګانې دي چې له تحقیق نه کره کتنې ته زیاته اړتیا لري.

تحقیق کا فن کې ډاکټر ګیان چند د رشید خان نظر داسې راوړي: «په اوس وخت کې ځېنې څېړنیز موضوعګانې داسې انتخابېږي چې کاملا تنقیدي دي او د کره کتنې په دایره کې راتلای شي، په داسې موضوع غوره کولو کې د تحقیق او تنقید حق تلفي کېږي. » (۱)

ځېړنه خپلې لارې چارې لري او له پيله تر پايه فزيکي او معنوي جوړښت لري چې اصلي کړه يې د بنسټيزو حقايقو څرګندول دي. خپل نظر ورکول، د نورو نظرونه تاييدول او ردول او همدارنګه هره خبره په پټو سترګو نه منل په کې کېږي.

ځېړنيز کارونه له تنقيد سره رابطه لري خو که چېرې د تحقيق په نامه کارونه تنقيدي وي نو دې ته بيا خالص تنقيد ويلای شو چې د ځېړنې په کټه ګوريو کې راتلای نه شي او داسې موضوعات تحقيق او تنقيد ته تاوان رسوي ځکه چې د ځېړنې کار معلوم او د تنقيد کار معلوم وي او يو د بل وظيفه په سم ډول پر مخ بيولای نه شي.(۲)

۲. کوښښ دې وشي چې داسې موضوع ونه ټاکي چې په لسګونو کتابونه پرې ليکل شوي وي او د نورو نوو حقايقو د اثبات لپاره په کې څه نه وي.لکه:

په پښتو ژبه کې(د لرغونې دورې ادب تاريخ)په موضوع زيات اثار ليکل شوې دي او دغه دوره د معلوم وخت او زمان، شاعران او شاعرانې او همدارنګه ليکوال لري، د ټولو پېژندنه معلومه ده. د داسې موضوع له ټاکلو بايد ډډه وشي.

۳.که محقق پر يوې موضوع تحقيق وکړي او چاپ شي خو د وخت او زمان په تېريدلو همدغه موضوع د خپلو علمي او تحصيلي اسنادو د لاس ته راوړلو لپاره بيا وټاکي نو دا هم سم کار نه دی. يعنې هغه موضوع چې تکراري وي او همدارنګه د يو ليکوال په واسطه ليکل شوې وي، جواز نه لري.

۴.هره عامه او خاصه ځېړنيزه موضوع خپل حد او حدود لري او همدارنګه خپل وخت او زمان لري. بايد د مونوګراف د موضوع حجم له ډېزرتيشنه کوچنی وي. په کابل پوهنتون کې د تيزس ليکلو لپاره ټاکلی وخت ورکول کېږي، که چېرې محصل ډېره لويه موضوع واخلي نو دی نه شي کولای چې په ځانګړي وخت کې پای ته ورسوي.که چېرې په پوهنتون کې د يو استاد عمر تقاعد ته نږدې وي او دی د پوهاندۍ لپاره دومره پراخه موضوع واخلي چې د موضوع له بشپړولو مخکې تقاعد شي نو لويه ستونزه به يې همدا وي چې د موضوع په انتخاب کې به سهوه شوی وي.(۳)

ځېنې موضوعات ډېرې مطالعې ته اړتيا لري او امکان لري چې له نورو علومو سره اړيکې ولري او د اصلي موضوع بشپړتيا لپاره نوره مطالعه هم وشي.کله چې

محصل(د غني په شعرکې د تصوف او فلسفې شننه) تر سرليک لاندې موضوع ليکلو ته اراده ولري نو دی مجبور دی چې پر غني سربيره د تصوف او عرفان، په نورو اديانو کې تصوف او عرفان، د فلسفې پېژندنه، د غني په شعر کې د کومو فلسفي افکارو څرکونه شته موضوعاتو نه معلومات ولري. که چېرې په دې هکله پوره معلومات ونه لري نو نه شي کولای چې خپله موضوع په سمه توګه پای ته ورسوي.

د داسې موضوعګانو له ټاکلو ډډه په کار ده چې حد او حدود يې معلوم نه وي. که چېرې محقق د موضوع حق ادا کړي نو دغه موضوع په ۲۰۰۰ مخونو کې هم پای ته رسېدلای نه شي، ځکه چې د پښتو ژبې هغه ليکوال او شاعران چې د ستاينې وړ دي، سلګونو ته رسېږي، چې د داسې موضوعګانو ټاکل سم کار نه دی.

موضوع بايد ډېره عمومي نه وي، لکه د پښتو ژبې شاعران، د پښتو ژبې د ليکوالو پېژندنه او داسې نور. د داسې موضوعګانو بشپړول له دې سره سره چې لويې دي، ډېرې عامې هم دي تکميلول اسانه کار نه دی.

۵.موضوع ډېره تنګه نه وي. داسې موضوع ونه ټاکل شي چې مواد او سرچينې په کې نه وي.لکه:

په پښتو ژبه کې ساقي نامه.

په لرغونې دوره کې مرثيه.

د لرغونې دورې ستاينې. او داسې نور.....

دا هغه موضوعګانې دي چې د مونوګراف ليکلو لپاره سمې موضوعګانې نه دي. اکثره دغه موضوعګانې لنډې او تنګې دي او د مونوګراف يا تحقيق اثر د موضوع حدود ټاکلی نه شي.

٦.که محقق داسې موضوع وټاکي چې ټول مواد يې په يو اثر کې پيدا شي نو داسې موضوع غوره کول هم مناسبه نه ده. د څېړنې لپاره ډېرو ماخذونو او موادو ته اړتيا وي، چې د ډېرو ليکوالو نظرونه ولولي او په دې کې ځينې تاييد او ځينې رد کړي، که چېرې ماخذ يو وي نو اړينه خبره ده چې د يو ليکوال نظرونه او افکار به وي، چې د داسې موضوع ټاکل هم سم کار نه دی.

۷. محقق دې داسې موضوع نه غوره کوي چې د هغه په اړه حقايق را برسيره

کول ورته ستونزې پیدا کړي، که چېرې په داسې کس ځېړنه وکړو چې د ویرې او ترس مسئله په کې وي او لیکوال په کې فکري، ذهنـي او نظري ازادي ونه لري نو لیکل یې مناسب کار نه دی. په داسې موضوعګانو کې یو ډول تحقیق پر ژوندیو کسانو دی. ډاکټر ګیان چند د رشید حسن په حواله د کار خبرې کړي دي چې د موضوع په اړه یې یادونه اړینه ګڼم: «په ژوندیو کسانو څېړنه کول مناسب عمل نه دی، په مړو شاعرانو، لیکوالو او پوهانو که کار کېږي هغه هم باید له یوې وقفې وروسته وي. که یو کس په ډاکټر حسن کاکړ څېړنه کوي نو ښه به دا وي چې څو کاله وروسته پرې کار پیل کړي.

که محقق پر ژوندي کس باندې څېړنه ته اراده ولري او دی سیاسي موقف ولري، که وستایل شي نو سمه ده خو که چېرې غندنه یې شوې وي او یا ځینې نیمګړتیاوې ښودل شوې وي، امکان لري له ځینو ستونزو سره مخامخ شي نو ځکه له داسې موضوعګانو ډډه په کار ده.)

انسان د ژوند په بېلا بېلو پړاوونو کې تغییر او تحول کوي، که چېرې کوم کس په ژوندیو کسانو څېړنې کولو ته تصمیم ونیسي نو اړینه خبره ده چې په دې کس هر وخت یو شان قضاوت کېدای نه شي.

که چېرې یو کس د پوهنتون د کوم استاد په اړه څېړنه پیل کړي او د ده د ژوند ځینې پټې خواوې او نیمګړتیاوې را ښکاره کړي، که همدا کس استاد ته محتاجه شي نو امکان یې شته چې ستونزې ورته جوړې کړي، په داسې کسانو هم څېړنه کول سم کار نه دی.

که محقق د خوشحال په هزلیاتو او یا د ده په ځینوهغوکارنامو چې له انساني کړو وړو سره په ټکر کې دي بحث وکړي، نو په ټولنې کې له عکس العملونو سره مخامخ کېږي. که د فارسي ژبې لیکوال د زاکاني په عریاني، بربنډو او هزلیاتي ویناوو تحقیق ته ملا وتړي نو د فارسي ژبو عوامو له خوا به له عکس العملونو سره مخامخ کېږي چې د داسې موضوعګانو ټاکل هم سم کار نه دی.

۸.ځینې خلک د چاپلوسي لپاره په ځینو نا مستحقو کسانو لیکل کوي او د غوړه مالۍ لپاره یې صفتونه کوي چې دا کار هم له تحقیق او څېړنې سره خیانت دی. پخوا به په دربارونو کې تحمیدیه قصیدې ویل کېدې او اکثره دغه شان شعرونه

به د چاپلوسۍ په شکل د مال، دولت او ځېنو موقفونو لپاره و. اوس کله کله ځېنې لیکوال د موقف او ځېنو نورو موخو لپاره سم قضاوت نه کوي.که څېړنه د مصلحت پر اساس وشي نو حق ثابتېدای نه شي.

۸.ځېنې موضوعګانې په ټولنه کې ډېرې نوې وي، په داسې موضوعګانو څېړنه کول ستونزې پیدا کوي.لکه:

په پښتو ادب کې هایکو.

په پښتو ادب کې ټکوریزې.

په پښتو ادب کې ټپېزې او داسې نور....

دا موضوعګانې نوې دي، په رسالو کې په دې موضوعګانو ځېنې متفرق مواد پیدا کېږي خو تراوسه یو ځانګړی اثر په کې نه شته او د دې ترڅنګ له دغو فورمونو څخه ځینې یې ستونزې هم لري، نو څنګه کولای شو چې په داسې موضوعګانو تېزس او یا ډیزرټېشن ولیکو.

۹.ډېره تکنیکي موضوع غوره کول هم ستونزې پیدا کوي او محقق به د کار په جریان کې پښیمانه وي.که کوم کس(په پښتو ادب کې د عروضو تنقیدي جاج) تر سرلیک لاندې موضوع واخلي نو دی مجبور دی چې د ادبپوهنې مطالعه ولري، د عروضو په برخه کې د قافیې علم، بدیعي صنایع، په ادب تاریخ پوهیدل، صرف، نحوه او داسې نورو علومو کې مطالعه ولري چې داسې کسان به ډېر کم پیدا شي چې د دې ټولو برخو مطالعه ولري.

۱۰.داسې موضوع غوره نه شي چې خاصه مینه او رغبت ورسره ونه لرو. د موضوع غوره کول داسې معنا لري، لکه یو کس چې د ځان لپاره نږدې دوست ټاکي نو دی مجبور دی چې داسې کس غوره کړي چې د زړه مینه ورسره ولري.

۱۱.په داسې موضوع څېړنه کول چې خبره مناظرو، مجادلو او یا بې اتفاقیو ته؛ سم کار نه دی. په افغانستان کې بېلابېل قومونه ژوند کوي، که چېرې محقق په یوه قوم څېړنه وکړي او ځېنې پټ او مبهم حقایق رابرسیره کړي نو اړینه خبره ده چې ستونزې به پیدا کېږي.

که چېرې محقق(په پښتو ادب کې د نېشنلیزم) ترسرلیک لاندې موضوع څېړنې ته غوره کړي نو په ټولنه کې به د ځېنو عکس العملونو سره

مخـامخ شي. پـه شرق راديـو تلويزيـون کـې تـر همـدې سرليـک لانـدې خپرونـه مـو درلـوده، زه پـه کـې ميلمـه وم، دغـه خپرونـه د ځينوعوامـو او سياسيونو خوښه نه شوه، دليل يې دا وه چې دوی په همدې مرض اخته وه.

پـه څېړنـه کـې د داسـې موضـوعګانو ډېره پکـار ده چـې ټـولنېزې سـتونزې پيدا کوي.

۱۲. کېـدای شي ځينـې موضـوعګانې جـذبات پـاروونکې وي او د محقـق لپاره ستونزې پيدا کړي او په ټولنه کې د کشمکشونو زيږنده شي.(۴)

کـه محقـق د مغلـو د جنګونـو پـه موضـوع څېړلـو تـه مـلا وتـړي او دی پـه قـوم مغـول وي نـو حتمـي خـبره ده چـې د خپـل قـوم لپـاره بـه پـه ځينـو داسـې مسـايلو بحـث وکـړي چـې مشـکلات بـه پيـدا کـړي. کـه چيـرې کـوم محقـق د خپـل پـلار، نـږدې دوسـت او يـا اسـتاد پـه اړه څېړنـه وکـړي، امکـان يـې شـته چـې ځينـې حقـايق پـټ کـړي او کلـه کلـه د دننيـو احساسـاتو پـر بنسـټ پـه سـتاينه کـې افـراط وکـړي چـې داسـې موضـوعګانو هـم ښـې پـايلې نـه لـري او بايـد غـوره نه شي.

۱۳.کـه د څېړنـې لپـاره داسـې موضـوع غـوره کـړو چـې د موضـوع پـه اړه لـه پښـتو ژبـې پرتـه پـه نـورو ژبـو کـې معلومـات وي نـو د دې لپـاره چـې د څېړنـې حق سم ادا شي نو بايد په هغې بلې ژبې هم پوه شو. (۵)

کـه محقـق د پښـتو ژبـې تـاريخ، د پښـتو ژبـې اړيکـې لـه سانسـکريت او اوسـتا سره او يـا داسـې نـورې موضـوعګانې د تحقيـق لپـاره غـوره کـړي نـو دی مجبـور دی چـې پـر پښـتو ژبـې سربېـره پـه اوسـتا او سانسـکريت هـم پـوه شي، کـه دی د پښـتو، اوسـتا او سانسـکريت مطالعـه ونـه لـري نـو د داسـې موضوعګانو غوره کول هم سم کار نه دی.

۱۴.کـه محقـق داسـې موضـوع غـوره کـړي چـې مـادي او معنـوي امکانـات ورسره نـه وي نـو کـولای نـه شي چـې د موضـوع حـق دې سـم ادا کـړي. معنـوي امکانـات لـه علمـي صـلاحيت سره رابطـه لـري او مـادي امکانـات بيـا لـه ماديـاتو سره. کـه چيـرې محقـق د خوشـحال خـان د کليـاتو د تـدوين اراده ولـري او دی د تـدوين لـه ټولـو لارو چـارو سره بلـد وي، نـو مجبـور دی چـې هغـو ممالکـو تـه لاړ

شي، چېرتــه چــې د خوشــحال د کلیــاتو قلمــي نســخې موجــودې دي، چــې د تــدوین د بنســټونو پــه نظـر کــې نیولـو سره د کـار نسـخه د اصـل پـه ډول وټـاکي او نـور ورسره مقایسه کړي.(اصول تحقیق: بېلا بېل مخونه)

د خوشــحال کلیــات، افغانســتان، پښــتونخوا، پاکســتان، هنــد، لنــدن بـرټیش مـوزیم او داسـې نـورو ځـایونو کـې پیـدا کېـږي، کـه چېـرې محقـق دغـو سـیمو او هېوادونـو تـه د قلمـي نسـخې د لاس تـه راوړلـو مـادي توانـایي ونـه لـري نو داسې موضوع دې نه غوره کوي.

کـه محقق(پـه پښـتو ادب کـې د هـنری جـارج راورټــي خدمتونــه) او یا(پـه پښـتو ادب کـې د الفنسـټن کارنـامو) تـر سرلیـک لانـدې موضـوعګانې د څېړنـې لپـاره غـوره کـړي نـو دی مجبـور دی چـې د راورټــي او الفنسـټن اصـلي ځـای تـه ولاړ شي.

۱۵.محقــق بایــد داســې موضــوع انتخــاب نــه کــړي چــې فحاشــی، لوڅــو مســایلو او یــا جنســـي خـــبرو تـــه پـــه کـــې مـــیلان وي.لکـــه، د فارســـی شـــاعرانو جنسي- ژونـد، فارسـی شـاعران او همجنسـبازي او داسـې نـور هغـه موضـوعګانې دي چې ټولنه بدې لارې ته برابروي.

۱٦.ډېـــره تکـــراري موضـــوع غـــوره نـــه شي.کـــه چېـــرې د محقـــق لـــه خـــوا موضــوع وټاکــل شي او پـــه انتخـــاب شـــوې موضـــوع ډېـــر کـــار شـــوی وي او د اضـافه والي امکـان پـه کـې نـه وي نـو پـه داسـې موضـوع تحقیـق د علـم او ژبـې د غنامندۍ سبب ګرځېدای نه شي او انتخاب یې سم کار نه دی.

## پایله:

هـره ښــه څېړنیــزه موضــوع پــه تحقــق کــې مهمــه ده او څېړنــه پــه ښــه ډول پیـــل او پـــای تـــه رســـېدای شي، خـــو د دې پـــر خـــلاف کـــه خرابـــه او ناکـــاره موضـوعګانې محقــق تــه ســتونزې پیــداکوي، نــو ځکــه د موضوع پــه غــوره کولــو کې باید له علمي دقت او پوهنیز صلاحیت نه کار واخلي.

## مأخذونه:

۱.دوکتور ګیان چند، تحقیق کا فن، یونیورسټي بـوک ایجنسي-، پېښـور، ۳۳۳ مخ.

۲.پروفیسرعبدالحمید خان عباسی، اصول تحقیق(دویم چاپ) نیشنل بوک فاونډیشن، اسلام اباد، ۲۰۱۵ م کال، ۹۹ مخ.

۳.پوهنیار سیداصغر هاشمي، د څېړنې بنسټونه (دویم چاپ)، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد،۱۳۹۵ ل کال، ۱۵۲مخ.

۴.پوهنیار سیداصغر هاشمي، د تحقیق اصول، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ ل کال، ۱۲۷ مخ.

۵.دوکتور فخرالدین قانت: د علمي څېړنو او پلټنوتگ لاره، پیښور، ۱۳۸۵ ل کال، ۳۱ مخ.

پوهنیارسیدضیاءالرحمن بنوري

# د ((ISBN)) سیستم

## لنډیز:

د کتاب پېژندنې کره او یوه بشپړه پروسه د (ISBN) تر عنوان لاندې هغه کړنې ترسره کوي چې دکتاب، لیکوال، کتابوال او لوستوال ورسره مستقیم او غیرمستقیمه اړیکه لري. دغه سیستم چې په نړۍ کې ډېر مشهور دی او دلته یې هم لاره پیدا کړې ده دکتاب اوکتابدارۍ د نړیوال مفهوم ښکارندویي کوي؛ ځکه نړۍ اوس په دې فکر شوې ده چې کتاب، کتابتون او کتابداري د بشریت د ښېګڼې او سرلوړۍ لپاره تر ټولو ښه، اسانه او د پوهېدا وړ وسیله ده او هرې ټولنې ته بویه چې له دغې لارې ځان د هسک پوړیو ته ورسوي. همداشان د غه سیستم د کتاب اړوند هغه څه وړاندې کوي اوکره کوي یې چې په اکاډمیکو ارونو ډېره لګوي، ځکه کتاب او کتابتون معمولاً د متمدنو او پرمختللو ټولنې کار دی او هره ټولنه چې له کتابه لرې وي، نو له پرمختګه هم په شا وي.

## سریزه:

د علمي رتبې د یوشرط د بشپړولو په موخه ښیي چې هرکادري غړی په یوه ټاکلې موضوع داسې یوه لیکنه وکړي چې دتدریسي موادو دیو ممد په توګه ترې ګټه پورته شي؛ ماهم د کتاب دنړیوالې کره شمیرې اړونددغه لیکنه د کتابتون پوهنې دڅانګې محصلینود ظرفیت لوړونې په موخه چمتوکړې ده. د ای ایس بي این اړوند معلومات، د ګټې اخیستنې اوکارونې لارې چارې اوهمداشان د ارزښت او دندې اړوند یې بحثونه راغلي دي.

### د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

دغـه موضـوع دکتـابتون پـوهنې یـا لایـبري سـاینس دډیپارټمنـټ اړونـد لـه کریکولم اومفرداتو سره سم دغه مقاله چمتوشوې ده او د تدریسي موادو مرسـتندویه منځپانګه لري، ګران محصلین کولای شي خپلودرسونوکې ترې ګټه پورته کړي.

### ستونزې:

د کتابتون، کتابپوهنې اړوند په علمي کچه د هیوادپه هیڅ دولتي اوغیردولتـي اداره کې کره اواکاډمیک موادو د نه شتون له کبله په دغـه ډګرکـې هرکـارد ښـوډیرو ننګونوسره مخامخ کیـدای شي. بلـه داچـې د لایبریـري سـاینس پوهانـد اولوړپـوړې کادرونه موهیواد کې نه شته چې دغه هم د دې لیکنې لپاره یوه ستره سـتونزه ګڼـل کیدای شي.

### د څېړنې موخې:

د دې څېړنې موخه پـه دې کـې ده چـې پـه نړیوالـه کچـه د کتـاب او کتـابتون فرهنګ عام او پراخ شي او پر افغاني ټولنې ټولنې سربېره نوري ټولنې هم له دغه ارزښته با خبره شي، چې تر ډېره یې خپله دغه چاره ترسره کړې هم ده.

### د څېړنې پوښتنې:

د دغې لیکنې وړاندې باید چې دغه پوښتنوته ځواب وویـل شي اودغـه مقالـه یې ځوا ب کړای شي:

۱-(ISBN) څه ته وایي؟

۲-ګټه یې څه ده؟

۳-د مسلکي اشخاصولپاره یې څه اړتیا لیدل کیږي؟

### مېتود (کړنلاره):

مـا د دغــې لیکنــې پــه بشــپړولوکې لــه کتـابتونیز اوکـره کتنیزمیتودونـو او ارونوڅخه ګټه پورته کړې ده.

### (ISBN) څه شی دی؟

(ISBN) یو ټاکل شـوې نړیوالـه د کتـاب بشـپړه بـین المللـي معیـاري شـمېره ده،(ISBN) له پیل څخه تر اخر د ۲۰۰۶ میلادي کال د ډسمبر د میاشـتې تـر پایـه (ISBN) شمېره د لس (۱۰) شمیرو تر حده پـورې وه، مګـر د۲۰۰۷ مـیلادي کـال د

جنوری د لومړۍ نېټې څخه راپـدې خـوا دغـه شـمېره تـر (۱۳) شـمېرو پـورې زیاتوالی وموند، یادې شوې شمېرې خـاص د یـو ځـانګړي ریـاضي فـارمول څخـه پـه ګټې اخیستلو سره شمېرل کېږي د یـو امتحـاني شـمېرې (Check Digit) وشـمېرل شي تر دې چې د باور وړ وګرځي. (۳: ۸)

## په څه موخه له (ISBN) څخه ګټه اخیستل کیږي؟

(ISBN) د محصول د پیژندلو یو ښه سـبب دی چـې د نـامعلوم وخـت خپرونـې دي چې د فرمایش ورکولو لپـاره، نـوم لـړ (فهرسـت)، خـرڅلاو، د کتـابونو د ذخـیرې کنټرول د خپرونکو په ذریعه (کتاب فروشات) کتابتونونـه او د ټولـو ګـډونوالو لـه خـوا ترې ګټه اخیستل کېږي، (ISBN) یوازې د ثبت ټـولګې د نـاشر پـورې اړه نـه لـري، بلکې عنوان هم ورپیژني. (۱:۸۸)

د (ISBN) د پېژندلو لپاره کوم ډول محصولات په کار دي؟

د (ISBN) (د نړیوال کتاب هغه ټاکل شوې شمېره ده چې په پرلـه پسـې توګـه نه وي) چې د هغې پورې اړه پیدا کړي؛ نه د هغـه آثـارو پـورې چـې ټـول پرلـه پسـې ډول وي، د بېلګې په توګه مجلې، ورځپاڼې، رسالې، اوونیزې او میاشتنۍ خپرونې او داسې نور په برکې نیسي. همداشان د مختلفو رسـنیو شـتون لکـه فزیکـي شـکل او محتوا چې ویشل یـې اهمیـت نـه لـري بلکـې د هـر ډول د (ISBN) آثـار (نبـي) پـه ځانګړې توګه هم پیژندل کېږي. (۷: ٦١)

د بېلګې په توګه (ISBN) ځینې خپرونـې چـې د (ISBN) خپرنیـزشرایط ولـري هغه عبارت دي له:

- کتابونو او مقالو څخه.
- هغه لیکنې چې د ړندو خلکو (نابینایانو) د ګټې لپـاره وي، یعنـې د (بریـل آثار*).
- د ناشر هغه آثار چې هوډ نه لري چـې د زمـان د بېلـوالي لپـاره نـوي کـړای شي او یا یې د نا څرګند وخت لپاره پرله پسې خپرې شي.
- هغه ځانګړې مقالات یا شمیرنې چې له یوې سرچینې څخه پـه پرلـه پسـې توګه وي (نه هغه سرچینې چې په هر وخت کې وي).
- نقشې

- ویډیویي فلمونه، (D.V.D) او د زده کړو (C.D)ګانې.
- غږیز کتابونه (ډي وي ډي، سي ډي).
- د زده کړې پوستغالي (سافټویر).
- څو آثار او ترکیبي رسنۍ (په هغه موردونو کې چې د متن اره برخه وي). (۴: ۱۴۷)

**کوم ډول محصولات او تولیدات له (ISBN) څخه د ګټې اخیستلو له شرایطو سره برابر نه دي؟**

- **آثاري بېلګې چې له (ISBN) سره اړخ نه لګوي عبارت دي له:** همېشنۍ سرچینې.
- هغه چاپي سرچینې چې د لږ وخت لپاره چاپي اعتبار لري د بیلګې په توګه تبلیغاتي مواد هغې ته ورته توکي. چاپي موسیقي، چاپي آثار، هنري چاپي او هنري پوخونه (وقایې) چې مخ، عنوان او یا متن نه لري.
- شخصي اسنادونه، لکه بریښنایي تاریخچه چې د تحصیلي سوابقو لنډیز او د افرادو د حال مختصره شرحه.
- د مبارکۍ کارتونه.
- د موسیقۍ ثبت شوي غږونه (Recording).
- د نه زده کړې پوستغالي.
- د بریښنایي اعلاناتو تابلو، بریښنایي خطونه او ټولې بریښنایي لیکنې (E-Mail & Facebook).
- لوبې. (۵:۹۵)

**د (ISBN) جوړښت:**

(ISBN) له پنځو (۵) برخو څخه متشکل دي چې هر یوه برخه یې د بېلونکې خط یا د نښلونکي خط څخه وي.

- مخکنۍ شمېره.
- د ثبتولو د ټولګې  پیژندنې (کوډ).
- د خپرونکي (ناشر) پیژندنې (کوډ).
- د عنوان (آثر) پیژندنې (کوډ).

- د کنټرول رقم. (٦: ١٨٩)

کتاب پښتنی کې د (ISBN) شمېرې ترنېټې دمخه راځي.

(ISBN) په پنځو (٥) برخو ویشل کیږي د هغې درې (٣) برخې د متغیر اوږدوالی لرونکی دی، په داسې حال کې چې لومړنۍ او اخرنۍ برخې اوږدوالی یې ثابت وي. هغه برخې چې رغول کیږې ضروري ده چې (ISBN) د جدا کوونکي او فاصله ورکونکي خط څخه د ګټې اخیستنې په واسطه له یو بل څخه جدا شي. **د بیلګې په توګه: (٣-٠٠-٦٠٠-٩٩٣٦-٩٧٨ (ISBN) یا.-٩٩٣٦-٩٧٨ (ISBN) ٠-١٠-٠٠-٦٠٠**

**یادونه:**

د فاصلې او بیلوالي له خط څخه ګټه اخیستنې دغه پروسه ظاهراً ګټور نه بریښي، خو د (ISBN) د ښه لوستولو لپاره دکره نښې یو بین المللي سېمبول دی ؛ د (ISBN) په لومړۍ برخه، دوهمه برخه، دریمه برخه او څلورمه برخه کې د (ثبت د ټولګې د ناشر اود آثارو) د پیژندلو لپاره پېژندنه ده؛ خو دغه نښې کله کله تغییر هم کوي.

هغه اوږده پېژندنه چې د ثبت د ټولګې لپاره او د ناشر لپاره په موندلو کې یې وړاندوینه شوې ده دا د ثبت د ګروپ یا ناشر پورې ځانګړې اړه لري، د دې دوه ارقامو (دوه کوډونو) پېژندنه د تولید د میزان ښه ګڼل کیږي چې دټولګې د ثبت یا ځانګړې نشریې او یا هم (دواړو) پورې اړوندیدای شي. (٨: ٥١)

## لومړنۍ شمېره:

د (ISBN) دپېژندنې لپاره لومړۍ هغه درې عددیزه شمېره چې له (٣) ارقاموڅخه شمېرل کېږي او د EAN بین المللي سازمان له خوا وړاندې کېږي، هغه لومړنۍ شمېرې چې د دغه سازمان له خوا په ګوته شوې دي ٩٧٨ او ٩٧٩ دي د امکان په صورت کې د (ISBN) تامین او ظرفیت سیستم او د ضرورت لپاره مخکنۍ شمېرې او هم د راتلونکې لپاره ځانګړې شمېرې په ګوته کیدای شي.

## د ثبتولو د ټولګې پیژندنې (کوډ):

د (ISBN) د دوهم ډول پیژندنې لپاره د هېواد سیمې، جغرافیه یا په یو جغرافیایي ټوټه کې د ژبې ګډونوال وي هغه د (ISBN) په سیستم کې په ګوته

کوي، د (ISBN) د سیستم ځینــې غړي سـیمه ییـزو ژبـو تـه جوړښـت ورکـوي (لکه د ثبت د گروپ دریمه (۳) شمېره د الماني ژبې هېوادونـو تـه) یـو بـل ټـولگې د جغرافیایي سیمو جوړښت ورکوي.

## د خپرونکي (ناشر) پېژندونکي کوډ:

د (ISBN) دریمه پیژندنه  عبارت له ناشر یا وضع کـول د ځانگړي خپرونـې له نشر څخه چې د ثبـت ټـولگې پـه دننـه کـې خپـل خاصـوالی لـري، د دې برخـې اوږدوالی، د دې برخې مستقیم ارتباط د تولیداتو له میزان سره یـې وړاندوینـه شـوې ده او شونې ده چې تر اوو (۷) شمېرو پورې شـامل شي، د هغـې نـاشرانو لپـاره چـې تولیدات یې ډېر زیات وي، نو لنډ(کوډ) او برعکس هغه خپرونې چې تولیـد یـې کـم وي نو د هغوی لپاره اوږده پېژندنه ځانگړې شوې ده.

د (ISBN) هغه نـاشران چـې د (ISBN) نظـام مسـوولیت مـدیریت پـه مـلي سطحه، منطقه او یـا لسـاني حـدودود لـه پلـوه عهـده لرونکـې وي؛ نولـه دې املـه د پېژندنې یـواځې خپـل سـړي (فـرد) د (ISBN) لپـاره غوښـتنلیک وړانـدې کـوي، پـه داسې برخو کې چې له ټولو (ISBN) څخه ځانگړې گټه واخلي؛ نو یو بله پېژندنه بـه په ځانگړې توگه د هغې له نوو آثارو سره په کار واچول شي، د بېلگې په توگه: -۹۷۸-۶۰۰-۹۹۳۶

## د عنوان (آثار) پیژندنې (کوډ):

د (ISBN) څلورمـه پېژندنـه د یـو ټـاکلي خپرونکـي نښـو ځانگړتیـا ښـکاره کـوي، د دي پېژنـدنې اوږدوالـی بـه تغیـیر لرونکـی وي او د وړانـدوینې تولیـداتو حجـم بـه د نـاشر پـورې اړه لـري او د امکـان پـه صـورت کـې شـپږ (٦) شـمېرو پـورې شـامليږي او د هغـه خپرونکـو لپـاره چـې د تولیـداتو حجـم یـې پـه ډېـره انـدازه انتظـار پـاتې کیـږي، نـو د هغـې پېژندنـه ډېـره لویـه او د دې پـه عکـس هغـه نـاشران چـې میـزان د تولیـداتو یـې ډېـر کـم وي د وړکـي اثـر پېژنـدنې پـورې اړه لـري. د داډ لپـاره هغـه اوږدې شـمېرې د (ISBN) پـه برخـه کـې د عنـوان پـر ځـای خـالي ارقـام (فـر) لیکـل کېـږي، د بېلگـې پـه توگـه:-۹۷۸-۹۹۳۶-۶۰۰-۰۰-۳

### د کنټرول رقم:

د (ISBN) پنځمــه (۵) پېژنــدونکي شــمېره کنــټرول دی چــې د لوګــاریتم (Logarithm) (۱۰) ضریب په واسطه محاسبه کېږي. (۲: ۹).

**پایلــه**: د (ISBN) نړیـوالې کـره کتـابي شـمېره اړونـد دغـه لیکنـه پـه خپـل چـوپړکې د کتـاب لپـاره خپـل ځـانګړي مفـاهیم لـري چـې: دکتـاب د لیکـوال، ژبــه، ســیمه،ناشر او داســې نــور ارزښــتونود خونــدیتوب پــه موخــه وضــع کېــږي. دغـه کـوچنۍ مقالـه هـم د همـدغې نړیـوالې شـمېرې اړونـد محتـوا پـه برکـې نیسي.

مناقشه: دغه د (ISBN) بین المللي سیستم له نېکه مرغه زموږ هیوادپښـتوژبه هم د دغه سیستم په لړکې خپل ځای نیولی دی؛ خو له بده مرغه چې په حکـومتي کچه ورته لاهېڅ پاملرنه نه ده شوې اړینه بریښي چې د دې نړیوال سیستم پـه اړونـد دې عامه پوهاوی ترسره شي او د مسلک په ډګرکې دې د کتابتون پوهنې د ځـانګې په غېږ ترویج شي.

### وړاندیزونه:

۱- د کتابتون پوهنې لپاره دې مسلکي اشخاص پـه حکـومتي سـطحه وروز ل شي.

۲- د کتابتونونواړوند دې د لوړوزده کړو اوپوهنې وزارتونه د اطلاعـاتواوکلتور لـه وزارت سره په ګډه پر یو ملي پروګرام باندې دې کاروکړي.

۳-د (ISBN) د شـــمېرې د تمویـــل اوبیـــا ژونـــدي ســـاتلو لپـــاره دې د هیوادپوهاندان نه سترې کیدونکې هلې ځلې وکړي.

### مأخدونه:

۱ - اســماعیل، محمــد، ګــلاسری اف لایبریــری اینــډ انفارمیشــن ســاینس، پیښورپوهنتون، ۲۰۰۴ زېږدیز کال.

۲- اقبال، محمداقبال، دISBN) )لارښـود، بـرلین خپرندویـه ټولنـه، د(ISBN) نړیواله اداره، ۲۰۰۵ زېږدیز کال.

۳- حنیف،محمد، دکتابتون د هڅوتڅولگه، جلال آباد، شانتي رضاکاره ټولنه، ۲۰۱۰ زېږدیز کال.

۴- شیخ، اقرار حسین، لایبریری کافروغ، لاهور، اردوساینس بورډ، ۲۰۰۷ زېږدیز کال.

۵- شیخ، اقرار حسین، معلومات لایبریری ساینس، راولپنډي، دی بکس، ۲۰۱۰ زېږدیز کال.

٦- شیخ،اقرار حسین، علم کتب خانه کي جدید رجحانات، لاهور، ضیایي ادب، ۲۰۰۹ زېږدیز کال.

۷- مزینانی، علي، کتابخانه وکتابداری، مهر(قهم)، سازمان مطالعه وتدوین کتب علوم انساني دانشگاهها (سمت)، ۱۳۸۹ لمریز کال.

۸- Sahal, s.k.(۲۰۱۳).B. Lib. guide. Jaipur. Publisher: University publication.

۹- http:www.ifla.org.com

۱۰- http:www.(ISBN)-international.org.com

۱۱- http:www.oclc.org

پوهنیار اسدالله وحیدي

# د پښتو ادبي خپرونو سرلیکنې، "سرلیکنې" دي؟

## لنډیز:

په افغانستان کې لسګونه ادبي چاپي خپرونې خپریږي. رسمي او نارسمي علمي مرکزونه او ټولنې مهالنی چاپي ادبي خپرونې لري. د ډېرو ادبي خپرونو مسوولین داسې کسان دي چې د سرلیکنو په اړه لومړني معلومات هم نه لري. کله چې دوی د سرلیکنو په اړه معلومات ونه لري، نو سرلیکنه نه شي لیکلی. بله ستونزه دا ده چې د ادبي سرلیکنو په اړه په پښتو کې معلومات هم نه شته، نو طبیعي ده چې زموږ د ادبي خپرونو سرلیکنې به ستونزې ولري. زموږ ډېرې ادبي خپرونې سرلیکنې لري. که دا سرلیکنې وګورو، کمې یې "سرلیکنې" او لویه برخه یې لیکنې دي. زموږ د ادبي خپرونو سرلیکنې ولې، "سرلیکنې" نه دي؟ سرلیکنې کومې ځانګړتیاوې باید ولري چې زموږ د ادبي خپرونو سرلیکنې یې نه لري؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې لیکنه کې یې د ځواب هڅه کوو.

د پښتو ادبي خپرونو سرلیکنې، "سرلیکنې" دي؟

## سریزه:

ډېر ځله داسې ګومان کېږي چې سرلیکنه یا په ټوله کې سرلیکنې عادي کار دی په داسې حال کې چې په سیاسي مسایلو کې سرلیکنه د یوې ادارې، ارګان او یا هم ګوند د ټولو موخو او اهدافو استازي کوي، په دې معنا که چېرې یو څوک غواړي د یوې مهمې مسئلې په اړه د کوم ګوند او یا سیاسي چارواکي په دریځ پوه شي نو لږ تر لږه د هغه خپرنیز ارګان دې تعقیب کړي او بیا ورته معلومات کېږي

چې نوموړی په دې اړه څه نظر لري او څومره سم دی او کـه چېـرې یـاد کـس یې د کوم گوند یا چارواکي له نظریاتو سره موافق نـه وي او د خپرونـو د سرلیکنـو پـر اساس پرې دعوه وکړي چې فلانی په دې اړه داسـې نظـر لـري، نـو هـم تـر حقیقـت ډېره لرې خبره نه ده، ځکه د هغه خپرونه د هغه او یـا د هغـوی د فکـر نماینـده گـي کولای شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنـې اهمیـت او مبرمیـت پـه دې کـې دی چـې د سرلیکونـو دنـدې او رښتینې مسوولیت مینه والو ته جوت شي چې سرلیکنه په یوې لیکنې او یـا پـه ټولـه کې په یوې څېړنې کې څه ارزښت لري، ایا پیکه او بې خونـده سرلیکونـه لوسـتونکي او مینه وال د لیکنې لوستلو ته هڅوي؟

دقیقـاً جالـب او پـه زړه پـورې سرلیکونـه نـه یـوازې د لیکنــې جـذابیت او هـنر زیاتوي، بلکې مینه وال او لوستوال یې هم زیاتوي او دا هغه څه دی چې یـوه لیکنـه ورته اړتیا لري او ورته همداسې کول په کار دي.

## د څېړنې موخې:

په دې څېړنـه کـې بـه دا زبـاد شي چـې سرلیـک بایـد څـه ډول وي او د کومـو اصولو له مخې وټاکل شي، لیکنې ته څه حیثیت ورکوي او څنگه یـې پـه مینـه والـو منې.

که چېرې د لیکنې سرلیک بې خونده او کلیشه وي، نو که لیکنـه هرڅـومره پـه زړه پورې، علمي او په اکاډمیکو اصولو برابره وي بیا هم څوک یـې لوسـتلو تـه زړه نـه ښه کوي، ځکه سرلیک د پخوانیو ناسـمو کلیشـو لار تعقیـب کـړې، خـو کـه سرلیـک نوی، په زړه پورې، جذاب او په علمي اصولو برابر وي، نو هـر چـا تـه پـه زړه پـورې او زړه راښکونی وي او دقیقاً یوه څېړنه د همدغې موخې لپاره ترسره کېـږي، چـې مینـه وال او لوستونکي ولري او یو څه نوي ترې زده کړي او که نیمگړتیا په کې وي، نـو لـه لوستونکو سره شریک کړای شي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې به دا ثابته شي چې:

✓ ایا سرلیک په څېړنه کې کوم ارزښت او اهمیت لري؟

✓ ایا سرلیک هم د څېړنې جز یا برخه ده؟
✓ که چېرې سرلیک د متن لـه منځپـانګې سره اړخ ونـه لګـوي کومـه سـتونزه پېښوي؟
✓ که چېرې لیکنه سرلیک ونه لري، نو لیکنې به لیکنه وګڼل شي؟
✓ سرلیک باید څنګه، د کومو موخو څرګندوی او څه ډول وي؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښـتنې شـوي چـې ټولـو پـه ترتیـب سره ځـواب شوې دي.

د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې په ټوله کې له تحلیلي، توضیحي، تشریحي او تر یو ځایـه لـه انتقادي میتود څخه ګټنه شوې او ټول مواد یې په زور او ځېر سره څېړل شوي دي.

## د څېړنې اصلي متن:

زه دلته د سرلیکنې په تیورۍ بحث نه کوم. په دې اړه مې پخـوا پـه یـوه لیکنـه کې تفصیلي بحث کړی، خو د سرلیکنې څو عمده ځـانګړنې بیـانوم چـې پـر اسـاس یې بیا زموږ د ادبي خپرونو سرلیکنې ارزوو. سرلیکنې باید درې ځانګړنې ولري:

لومړی؛ سرلیکنه د کوم شخص نه، بلکې د یوې خپرونې د اداري رسـمي دریـځ او نظر دی. دا دریځ او نظر یواځې د مسوول مدیر نه، بلکې د ټـولې ادارې د نظـر او دریځ ښکارندویي کوي. له همدې امله له سرلیکنې سره د کوم شخص نوم نـه لیکـل کیږي، بلکې تر لاندې یې اداره لیکل کیږي. په سرلیکنه کـې (زه) او (مـا) نـومځري هم نه، بلکـې (مـوږ) نـومځری کـارول کیـږي. اسـتاد غضـنفر یـې پـه اړه لیکي:((پـه سرمقاله کې د یوې پېښې یا موضوع د ردولو یا تاییدولو لپاره اسـتدلال کیـږي او لـه یوې رایې خبریږو. دا رایه او نظر له لیکوال سره نـه، بلکـې لـه خپرنـدویې ادارې سره تعلق لري)). (٦- ١٨٩)

دویم؛ سرلیکنه د یوې مهمې پېښې یا بـدلون پـه اړه لیکـل کیـږي. دا پېښـه او بدلون باید د اړوندې برخې ګرمه موضوع وي. په یوه سړه موضوع لیکنه، سرلیکنه نـه ګڼل کیږي. که خپرونه ورځنۍ وي، باید سرلیکنه یې د ورځـې پـه ګرمـه موضـوع یـا بدلون وي، که اونیزه وي، د اونۍ او که میاشتنۍ وي، سرلیکنه یـې بایـد د میاشـتې

په گرمه موضوع او بدلون وي. البته که خپرونه اقتصادي وي، اقتصادي، که ادبي وي، ادبي او که سیاسي وي، سیاسي موضوع د سرلیکنې لپاره ټاکل کیږي.

د سرلیکنې موضوع کله کله خپله د خپرونې پر داخلي بدلونو، ستونزو او پرمختګونو هم لیکل کیدای شي. د ټولو خپرونو لومړی سرلیکنه پر دې وي چې ولې دا خپرونه پیلوي. دغه راز کله په خپرونه کې د پالیسی، مدیر او یا بل بدلون په تړاو هم سرلیکنه لیکل کیږي.

دریيم؛ سرلیکنه خپل ځانګړی جوړښت لري. هره سرلیکنه باید عنوان ولري او تر لاندې یې اداره ولیکل شي. د دې ترڅنګ سرلیکنه درې اساسي برخې لري. لومړی برخه یې د پېښې یا بدلون په اړه معلومات او خبر وي. دوهمه برخه یې تحلیلي وي چې په کې استدلال کېږي. دریيمه برخه یې د ادارې له خوا حل لاره، وړاندیز او یا بل دریځ وي. په سرمقاله نویسي کتاب کې په دې اړه لیکل شوي:

((سرلیکنه درې اساسي برخې لري. په لومړی برخه کې خبر، په دوهمه کې تحلیل او په دریيمه کې پایله راځي. کیدای شي کله له ترتیب مخکې او وروسته شي، خو په سرلیکنه کې دا درې برخې حتمي دي)). ( ۷-۳۴)

اوس ګورو چې زموږ د ادبي خپرونو سرلیکنې دا ځانګړنې لري؟

له بده مرغه زموږ ډیرې ادبي خپرونې د سرلیکنو پر ځای لیکنې خپروي. د سرلیکنې او لیکنې ترمنځ توپیر شته. سرلیکنه د ادارې نظر وي او لیکنه د شخص. سرلیکنه په ګرمه پېښه یا بدلون وي، خو لیکنه حتمي نه ده چې په ګرمه موضوع دې وي. د لیکنې او سرلیکنې جوړښت هم توپیر نه لري. په لیکنه کې اړ نه یو چې د سرلیکنې په شان درې برخې راولو. کله چې موږ د پښتو ادبي خپرونو سرلیکنې ګورو له دې دریو ستونزو په کې کله درې واړه، کله دوې او کله یوه حتمي وي. دا په دې معنا نه ده چې زموږ ټولې ادبي خپرونې دا ستونزې لري. د ځینو ادبي خپرونو سرلیکنې معیاري او سمې دي، خو د ډېرو بیا داسې نه دي.

موږ دلته په درې ډوله ادبي خپرونو بحث کوو. لومړی هغه چې سرلیکنې لري، خو لیکنې د سرلیکنو پر ځای خپروي. دوهم هغه خپرونې دي چې سرلیکنې لري او سرلیکنې یې په تول پوره دي. دریيم هغه خپرونې دي چې سرلیکنې نه لري یا د سرلیکنو پر ځای بل څه خپروي.

زه دلته لومړی ځيني هغه ادبي خپرونې را اخلم چې سرليکنې يې ستونزې لري او د سرليکنو پر ځای ليکنې خپروي:

زما مخ ته د (زرورانګه) په نامه د ادبي او فرهنګي مجلې د لومړي کال شپږمه ګڼه ده. سرليکنه يې ((پوهنه د روښانه ژوندانه بنسټ تشکيلوي)) تر عنوان لاندې ليکل شوې ده. په سرليکنه کې راځي: (( دا هغه نظريه ده چې د هر پوه او ناپوه په فکر کې...)) (۳ – ۱)

که مورږ يواځې د سرليکنې همدا برخه ولولو چې را اخيستې پوهيږو چې موضوع سړه ده او د سرليکنه لپاره وړ نه ده. په دې سرليکنه کې درې واړه اساسي ستونزې شته. لومړی په يوه سړه موضوع ليکل شوې چې د سرليکنې لپاره مناسبه نه ده. دوهمه ستونزه يې دا ده چې د يوې سرليکنې جوړښت نه لري. دريېمهستونزه يې دا ده چې د اداري نظر او دريځ نه ځرګندوي او تر لاندې يې اداره هم نه ده ليکل شوې.

دوهمه مجله چې زه يې پر سرليکنه خبرې کوم له کندهاره خپرېدونکې ( ښکلا) ده. زه ددې مجلې د ټولو ګڼو په سرليکنو خبرې نه کوم. زه يې د شپږم کال، د دريېمې، پرله پسې درې دېرشمې ګڼې پر سرليکنه خبرې کوم. سرليکنه پر دې ليکل شوې چې ځوانان بايد د سبا فکر ولري: (( وروسته پاتې ټولنې سبا نه لري، په نن کې د پرون خوبونهويني او لا ډېره د خواشينۍ وړ دا ده چې ددغو خوبونو په غلطو تعبيرونو د خپل ژوند تخيلي بنسټ جوړوي...)) (۴ – ۲)

د ښکلا مجلې د دې ګڼې سرليکنه هم ښه ليکنه ده، خو سرليکنه نه ده. لومړی د سرليکنې لپاره ټاکل شوې موضوع ګرمه موضوع، پېښه يا بدلون نه دی. په سړه موضوع ليکل شوې چې تر ډېره د يوې ليکنې لپاره ښه موضوع کيدای شي، نه د سرليکنې لپاره. دوهمه ستونزه يې دا ده چې له سره تر پايه د سرليکنې جوړښت نه لري. د معلوماتو يا خبر، تحليل او پای برخې يې هېڅ معلومې نه دي. له همدې امله مورږ ويلی شو چې دا سرليکنه نه، بلکې ليکنه ده چې د سرليکنې پر ځای راغلې ده.

دريېمه مجله چې زه دلته پرې بحث کوم (پام) ده. د پام مجلې د لومړي کال د دوهمې ګڼې سرليکنه ګورم. سرليکنه يې عنوان نه لري، خو د پښتو پر ادبياتو يې

یو عمومي بحث کړی دی: (( د پښتو ژبې لیکنې (تحریري) د لاسته راغلو اثارو په بنسټ څه د پاسه ۱۲۰۰ کلن دی، خو کیدای شي په راتلونکي کې د پښتو داسې اثار پیدا شي چې د هغه په بنسټ یې لرغونتیا زرګونو کلونو ته ورسیږي....)) (۵-۱)

د پام مجلې د دوهمې ګڼې سرلیکنه په څو لاملونو سرلیکنه نه ده. لومړی دا چې موضوع یې د سرلیکنې نه ده. دوهم دا چې د سرلیکنې هېڅ جوړښت نه لري. سرې او عامې خبرې دي او د سرلیکنې هېڅ ډول ځانګړنه نه لري. د ځینو ادبي خپرونو سرلیکنې له بده مرغه سرلیکنې خو نه دي، بلکې ښې لیکنې هم نه دي.

بله خپرونه چې زه یې پر سرلیکنه خبرې کوم د (سپیده) مجلې پرله پسې نهه ویشتمه ګڼه ده. د دې مجلې د سرلیکنې پر ځای هم لیکنه خپره شوې ده. د سرلیکنې لومړی ستونزه یې دا ده چې عنوان نه لري. دوهمه ستونزه یې دا ده چې د کره کتنې په اړه یې لیکلې، خو له هېڅ ژوندی موضوع سره یې اړیکه نه ده ورکړې. له همدې امله دا لیکنه ده، خو سرلیکنه نه ده.

ګڼې داسې خپرونې شته چې سرلیکنې یې "سرلیکنې" نه دي، بلکې لیکنې دي. موږ دلته پرې په تفصیل بحث نه کوو، ځکه د ټولو پښتو خپرونو د سرلیکنو کره کتنه ایله په یوه لوی کتاب کې را ټوله شي.

دوهمه برخه چې موږ پرې بحث کوو، هغه خپرونې دي چې سرلیکنې یې له اصولو سره سمې او پوره دي یا هم لږې ستونزې لري. د دغو خپرونو سرلیکنې نه یواځې د موضوع له اړخه سرلیکنې دي، بلکې جوړښت یې هم د سرلیکنو دی. زه یې دلته ځینې را اخلم:

هیله مجله: د هیلې مجلې ټولې سرلیکنې (هیله ده خپلو سریزو په لمن کې) اثر کې را ټولې شوې دي. د هیلې ډېرې سرلیکنې رښتیا هم د سرلیکنې له اصولو سره برابرې دي. د دې مجلې پر یوه سرلیکنه خبرې کوم چې په بحراني حالت کې د فرهنګي کار په اړه لیکل شوې ده. سرلیکنه هم د موضوع له اړخه سمه ده او هم د جوړښت له اړخه. هیلې دا سرلیکنه په داسې وخت کې خپره کړې چې بحراني حالت دی او دې ته د خلکو پام را ګرځوي چې په دغه وخت کې فرهنګي کار څومره اړین دی. له همدې امله دا یوه پوره سرلیکنه ده. موږ دلته د همدې

سرليکنې وروستۍ برخه را اخلو چې د هيلې اداره له ليکوالو ځانګړې غوښتنه لري: (( د همدغه ارزښت او معيار په پام کې ساتلو سره فرهنګيانو ته په کار دي چې د فرهنګي کار لنډمهاله ګټه په پام کې ونه نيسي، بلکې د دې کار اوږدمهالې ګټې ته پام وکړي او خپل زغم او هيله همداسې زيات کړي.... اداره)) ( ٦ -١٦۴)

موږ مخکې وويل چې په پای کې بايد د اداري نظر، دريځ او يا وړانديز وي. موږ د هيلې په دغه سرليکنه کې ګورو چې فرهنګيانو ته ځانګړی وړانديز لري او په همدې سره سرليکنه ختميږي. په همدې وجه موږ وايو چې دا سرليکنه د جوړښت له اړخه هم سرليکنه ده.

بله مجله چې ما ته يې سرليکنه په ټول پوره ښکاره شوه (ځولۍ) ده. د دې مجلې د پنځمې او شپږمې ګڼې، (چې په يوه ګڼه کې چاپ شوي)، سرليکنه د ځولۍ په چاپ کې پر ځنډ او دا چې ولې دوې ګڼې يو ځای چاپ شوې ليکل شوې ده. د دې مجلې سرليکنه که څه هم د جوړښت له اړخه ستونزه لري، خو د موضوع له اړخه پوره سرليکنه ده. په دې سرليکنه کې د ځولۍ د چاپ د ځنډ عوامل تشريح شوي: ((...د ځولۍ په دې دوه کلن ژوند کې موږ کله د ليکنو له نشت او يا کمښت سره مخ شوي يو، کله کمزوري اقتصاد پر شا تمبولي يو او کله مو رسمي زده کړو پښې وهلي دي...)) ( ٢ -٢)

بله مجله روهي ده چې ماته يې د لاسته راغلې ګڼې سرليکنه سمه ښکاره شوه. د ځولۍ د دريمې ګڼې سرليکنه په پښتو ليکدود کې پر ګډوډۍ او خپلسرۍ ليکل شوې ده. دا موضوع هم ګرمه او هم مهمه موضوع ده. په سرليکنه کې لومړی په دې اړه معلومات ورکړل شوي چې اوس پښتو ليکدود له څه ډول ګډودۍ او خپلسرۍ سره مخامخ دی. په دوهمه برخه کې د دې ستونزو پر لاملونو او خطرونو بحث شوی. په دريمه برخه کې د ستونزې د حل لپاره د يوې لارې وړانديز کوي او وايي چې که ستونزه حل نه شي ښايي ډېر ناوخته شي: ((... دې کار ته بلا پسې ويل به زموږ په اند داسې ستونزې رامنځ ته کړي چې بيا به يې حل کول او ځواب ويل ورته له امکانه وتې خبره وي. اداره)) ( ١ -٢)

دا سرلیکنه هم د موضوع له اړخه هم د جوړښت له اړخه او له همدې اړخه چې په یوه مهمه موضوع د اداري دریځ بیانوي، یوه پوره او له اصولو سره سمه سرلیکنه ده.

دریېمه برخه هغه خپرونې دي چې سرلیکنې نه خپروي او یا د سرلیکنې پر ځای بل څه خپروي. سرلیکنه د اداري رسمي دریځ بیانوي، خو اوس خپلواکې رسنۍ دا دعا کوي چې موږ خپله هېڅ خبره نه لرو، بلکې د نورو خبرې خپروو. له همدې امله هم د سرلیکنې ارزښت را لوېدلی او هم ځینو خپرونو سرلیکنې غورځولې دي. زه دلته لومړی څو هغه خپرونې یادوم چې سرلیکنه نه لري.

سبا سترګه؛ د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د محصلینو خپرونه ده چې سرلیکنه نه لري. ما یې څو ګڼې وکتلې، خو په یوه کې یې هم سرلیکنه نه وه.

لاره: د غزنی پوهنتون له ښوونې او روزنې پوهنځي څخه خپرېدونکې ادبي او فرهنګي مجله ده چې سرلیکنه نه لري. ما یې له لومړۍ تر څلورمې ګڼې وکتلې، خو یوه یې هم سرلیکنه نه لري.

شمشاد: شمشاد مجله چې د خوشال فرهنګي مرکز له خوا له اوږده ځنډ وروسته یو ځل بیا پیل شوې، سرلیکنه نه لري.

نورې مجلې او خپرونې هم شته چې سرلیکنې نه لري چې دلته یې له را وړلو تیریږو. په همدې برخه کې ځینې نورې مجلې شته چې د سرلیکنې پر ځای بل څه خپروي، چې زه دلته یواځې د افغانستان د علومو اکاډمۍ ( کابل) مجله یادوم.

د دې مجلې د ۱۳۸۸ کال (۳-۴) ګڼه مې په لاس کې ده. دلته لومړۍ لیکنه د علومو اکاډمۍ د مشر د وینا هغه متن دی چې کوم کنفرانس ته یې کړې ده. دویمه برخه یې د چلونکي یادښت تر نامه لاندې د یو شاعر پر شاعرۍ لیکنه راغلې ده. دا دواړه د جوړښت له اړخه سرلیکنې نه دي. د علومو اکاډمۍ په نورو ګڼو کې مې هم ولیدل چې ډېر وخت په علمي، فرهنګي او ادبي غونډو کې د اکاډمۍ د مشر د وینا متن او یا کوم

علمــي – فرهنگــي کنفـرانس تــه د ولسمشرـ د وينـا مــتن راغلــی وي. کــه څــه هــم دا هېڅکلــه سرليکنــه نــه شي کيــدلی، خــو د يــوې موضــوع پــه اړه د اداري نظــر پــه کــې راتللــی شي. ښــايي ددې مجلــې اداره هــم دا ليکنــې د سرليکنــې پــه هــدف نــه خپــروي. کــه ددې مجلــې اداره دا دوې ليکنــې چــې يادونــه يــې وشــوه، د سرليکنــې پــه نامــه خپــروي، نــو تېروتنــه ده، ځکــه دا "سرليکنې" نه دي. که يې هدف سرليکنه نه وي ستونزه نه شته.

**پايله:**

زمــوږ د ډېــرو ادبي او فرهنگــي خپرونــو سرليکنــې، "سرليکنــې" نــه دي، بلکــې يــواځې ليکنــې دي. ښــايي اصــلي ســتونزه دا وي چــې زمــوږ د ادبي او فرهنگــي خپرونــو چلــوونکي يــا خــو لــه سره پــه سرليکنــه نــه پــوهيږي او يــا هــم د ادبي خپرونــو پــر سرليکنــه نــه پــوهيږي. لــه همــدې املــه عــادي ليکنــې د سرليکنــو پــه نامــه خپــروي. پــه ادبي خپرونــو کــې د سرليکنــو پــه نامــه ډېــرې خپرېــدونکې ليکنــې، لــه څــو اړخونــو سرليکنــې نــه دي. لــومړی دا چــې موضــوع يــې د سرليکنــې نــه، بلکــې د ليکنــې وي. دوی هېــروي چــې سرليکنــې تــه گرمــه موضــوع او يــا بــدلون پــه کــار وي، نــه ســړه موضــوع. دوهــم دا چــې سرليکنــه ځــانگړې جوړښــت لــري چــې تــر عنــوان او پــه پــای کــې يــې د (اداره) تــر ليکلــو ورهــاخو درې اســاسي برخــې لــري. زمــوږ سرليکنــه ليکــونکي دا جوړښــت نــه مرعــاتوي او کيــدای شي پــه دې اړه پوهــه ونــه لــري. درېــيم ډېــر وخــت سرليکنــې د دې پــر ځــای چــې د اداري نظــر وړانــدې کــړي، د شــخص نظــر وړانــدې کــوي. له همدې امله هغه سرليکنه نه، بلکې ليکنه وي.

د يــوې ښــې سرليکنــې لپــاره پــه کــار ده چــې زمــوږ د ادبي خپرونــو چلــوونکي سرليکنــه وپېــژني او بيــا پــه دې وپــوهيږي چــې د ادبي خپرونــو سرليکنــې څنگــه ليکــل کېــږي. د سرليکنــو پــر جوړښــت، موضــوع او هــر څــه بايــد ځــان پــوه کــړي. کــه دوی ســمې او معيــاري سرليکنــې ليکلــی شي، ښــه ده او کــه نــه پــه کــار نــه ده چــې ليکنــې د سرليکنــو پــه نامــه خپــرې کــړي. پــه دې کــې هــېڅ ســتونزه نــه شــته چــې يــوه ادبي خپرونــه دې سرليکنــه ونــه لــري. کــه زمــوږ د ادبي خپرونــو چلــوونکي سرليکنــه نــه شي ليکلــی، ښــه ده چــې خپرونــه بــې

سرلیکنــې خپـره کـړي. کـه یـوه خپرونـه سرلیکنـه ونـه لـري، دا عیـب نـه دی او اوس پـه ټولـه نـړۍ کـې ګڼـې خپرونـې سرلیکنـې نـه لـري. کـه مـوږ بیـا هـم لیکنــې د سرلیکنــو پـه نامـه خپـروو، دا نـو د خپـل ځـان، خپرونـې او پښـتو ادبي خپرونـو حیثیـت تـه زیـان اړوو. لـه همـدې املـه پـه کـار ده چـې لـه دې وروسـته دا ستونزه حل شي.

## مأخذونه:


۱- اداره. اوسنی پښـتو لیکـدود د پراخـې ګـډوډۍ او خپلسرۍ پـه لومـو کـې. (روهي مجله)، (۱۳۸۸)کال. (دریېمه ګڼه). کابل، صمیم ادبي ټولنه.

۲- اداره. بالاخره ځولی چـاپ شـوه، (ځـولی مجلـه). (۱۳۸۵) کـال، ( لـومړی کال پنځه او شپږمه ګڼه). کابل، دانش خپرندویه ټولنه.

۳ - اداره، پوهنــه د روښــانه ژوندانــه بنســټ تشــکیلوي، (زړوړانګــه مجلــه)، (۱۳۸۴) کال.( لومړی کال، شپږمه ګڼـه). کنـدهار، د کنـدهار د پـوهنې ریاسـت او افغان ښوونیز روزنیز مرکز.

۴- اداره، د سبا فکر. (ښکلا مجله)، (۱۳۸٦) کال، ( شپږم کال، دریېمه ګڼـه، پرله پسې ۳۳مه ګڼه). کندهار، بېنوا فرهنګي ټولنه.

۵- اداره، سرلیکنه، (پام مجله)، (۱۳۸۸) کـال، ( لـومړی کـال دویمـه ګڼـه). کابل، پام.

٦- غضنفر، اسدالله، (۱۳۹۱) کال، د نثر لیکلو هنر، ننګرهار، مومند خپرندویـه ټولنه.

۷- محمدي، سلیم، (۱۳۹۳) کال، سرمقاله نویسي، تهران، انتشارات خاور.

۸- یون، اسماعیل، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، کابل، یـون کلتـوري یـون، ۱۳۸۷ لمریز کال.

**عبدالله پیکار**

# د محسوساتو او سېمبولونو شاعر

**لنډیز:**

شاعري ځانته دنیا ده او بیا چې یو څوک سېمبولیکه شاعري کوي، نو هغه خو بیا په دنیا کې دنیا شي.

دا سمه ده چې ډېر ځله مونږ د ځینو شاعرانو له شعرونو شکایت کوو چې ګواکې نه پرې پوهېږو او یا هم د اسمان په ستورو کې ګرځي، خو کله مو هم دې ته فکر نه وي چې یاد شاعر د کومې کچې سړی دی او څه ډول شاعري کوي، شاعري ځانته ژبه او ځانته هنر دی او بیا چې شاعر یې لږ د لوړې کچې انسان او د الفاظو جادوګر وي، نو د شعر هضمول یې هم پوره زور غواړي، بې له شکه سالک هم د ټولنې هغه حالات چې نور یې په اسانۍ نه شي درک کولای ده محسوس کړي او د سېمبول ژبه یې ورکړې، چې هر چا ترې تر خپلې وسې را اخیستنې کړي او ما هم په دغه لیکنه کې د دغه په شعرونو کې ځانته دومره رنګ کړی چې تاسې سره یې شریکوم.

**سریزه:**

پخواني نظریه وه، چې شعر د شعر لپاره یا ادب د ادب لپاره او ادب د ټولنې لپاره، که ووایم سالک هغه څوک دی چې ادب د ادب په چوکاټ کې ادب د ټولنې لپاره پنځوي، نو ډېره مبالغه به مې نه وي کړې، ځکه دی یو روانپوه او د ټولنې له نبضه اګاه شخصیت دی چې په ډېره ښه توګه د ټولنې هنرنمایي کوي او ما هم هڅه کړې چې دغه هنرښودانه یې رابرسېره کړم.

### د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې شعر یا په ټوله کې شاعري په سېمبولونو ولاړه ده، خو دا چې سېمبولونه څه دي او څنګه باید وي د دې څېړل په کار دي، نو ځکه هڅه شوې چې سېمبولونه تشریح او واضح شي، ځکه ډېر ځله اوریدل کېږي چې له یو چا نه شعر خراب شي او یا هم ډېر بې خونده شعر مخې ته راشي، نو ویل کېږي چې ولا دا سېمبولیک شعر دی او عیبونه یې د سېمبولونو په نامه پوښل کېږي په داسې حال کې چې سېمبول پټ شی نه دی، البته خپلې باریکۍ لري، خو داسې هم نه چې د شعر عیب او نیمګړتیا دې د سېمبول په نامه وپوښل شي، همداسې د شعر نزاکتونه، خیال، ایماژ او نور مسایل هم تشریح کوي.

### د څېړنې موخې:

د دې څېړنه موخه دا ده چې په وسیله به یې خلک د شعر، نظم او نثر په توپیر پوه شي، د شعر نزاکت، خیالبافي، باریکي او لطافت به وپېژني او ترڅنګ به یې د نثر په نزاکتونو هم پوه شي، ځکه ډېر ځله موږ داسې نثرونه هم ګورو چې کابل ټول جوړښت یې د شعر په څېر وي او آن پوهېدل پرې هم اسان نه وي او یا یې ابېډېتران داسې ابډېټ کوي چې هغه ټولې باریکۍ یې له منځه ځي په داسې حال کې چې د عادي او هنري نثر ترمنځ توپیرونه هم پر همدغه بنسټ وي.

### د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې دا پوښتل شوي، چې:

- ✓ سېمبول څه شی دی؟
- ✓ څنګه پیدا کېږي؟
- ✓ له کلیشې سره یې توپیر په څه کې دی؟
- ✓ ایا کلېشې ته هم سېمبول ویلای شو؟

او دې ته ورته کوچني مسایل بیانوي.

### د څېړنې مېتود:

په دې څېړنه کې تر ډېره له توضیحي، تشریحي، تحلیلي او انتقادي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**متن:**

د مصطفی سالک له تعارف او د طاوس ښکې کتاب لـه چـاپ څخـه يـوه زمانـه تېره شوې، خو ماته هغه ټول وختونه داسې ښکاري لکه د بيگانۍ شپې تـازه ليـدلی خوب.

دا زموږ د ژوندانه کيفيتي دوران او د دغه دوران ټول خـواږه مـې پـه يـاد دي او ترخه يې هم خواږه ښکاري.

پيښور ښار ابدره روډ د بي بي سي دفتر محمود کوچی او مستانه رنگونه، صـدر بازار د باز محمد عابد دربار، ناصر باغ کمپ او د کاروان صاحب فقيرانه جونگړه، باړه گيټ او د نثـار صـاحب بـې تکلفـه حجـره، کـوز تهکـال د هنرمنـدانو بيلـډينگ او د بريالي ولي رندانـه دېـره او پـه ټولـه کـې افغـان ادبي بهيـر او دپښـتون وطـن ليـوني ملنگان.

نور ياران چې نومونه يې پاتې شـول د مرگـي دې هيـر شي د ملگـري صـاحب، ساهو صاحب، ننگيال صاحب او پسرلي صاحب په څېـر سـترې هسـتۍ خـو مرگـي واخيستې.

سالک رانه په لومړي ځل ملاقات کې يوڅه ماړيجن غوندې شو، ځکـه مـا ورتـه وويل چې ز موږ خو دې شيخانو سره جـوړ هـم نـه ده؛ خـو بيـا هـم سـتا ليـدو تـه زه راغلم، نوموړی هغه وخت د يو نوميالي پوهنتون ممتاز استاد و او زه يو محصل وم.

د طاوس ښکې لومړنيو نظمونو را باندې په لومړي ځل دکاروان صاحب پـه بـزم غزل کې خورا دروند اغيز وکړ، شرنگيدلي الفاظ، آهنگين ترکيبونه، لوړ خيالونـه، ژور فکرونه او صوفيانه رازو نياز

که څه هم د دغې ليکنې په مناسبت ماته يواځې د سـالک صـاحب د نظـم پـه برخه کې د نظر ورکولو اجازه راکړل شـوې ده خـو زه نـه شـم کـولی د طـاوس ښکـې شهکار غزلونه نظر انداز کړم:

نن دې په ژبه باندې راغله خطا ډيره ښه وه
د زړه خبره وه ملگرې بلا ډېره ښه وه
نور دصفاتو له بريدونو در اوښتی يمه
اوس رانه څه پوښتې چې کومه ادا ډيره ښه وه

هغه بې وخته به چې ستا تصور ویښ شو په کې
د زړه پربام مې دجذباتو درزا ډېره ښه وه
زه به دحورې غیږ کې تنګ شمه فریاد به وکړم
هلته خو تنده وه لټون و دنیا ډیره ښه وه
دا هم مقام دی چې لیلا رانه پوښتنه کوي
دهجر شپه وه خو زه وایم په ما ډېره ښه وه
مست یې شباب، خیال یې شراب، غږ یې رباب غوندې و
نجونې خو ډیرې ما لیدلي دي دا ډېره ښه وه
څو که بوډۍ وه خو زما دلاشعور ناوې وه
له خړ خیبر نه راختلې نوا ډېره ښه وه (۱)

که د سالک صاحب د ابیاتو په باب زما د نقد په تمه یاست زه؛ خو په کې له سره خو لیدلی نه شم، ماته دا غزلې او نظمونه داسې کلاسیک دي داسې ثابت دي، چې قانع خو پریږده منکر هم پرې اعتراض نه شي کولی.

که چیرې د شکل له مخې دیوه کره کتونکي په توګه د بیان او بدیع دعلم له مخې د سالک شاعري ارزوو هم یوه بشپړه جوړه شاعري ده او که د لوړ خیال او ژور فکر په لحاظ یې ارزیابي کوو، نو هم د سالک شاعري بیخي ابهام نه لري ټولې تابلوګانې، مناظر او موارد په کې داسې ایښې دي، لکه یو ستر هنري موزیم، هرڅه په کې له ورایه ښکاري او دلوستونکي لپاره اړتیا نشته چې نقاد تقریض وکړي.

زه اوس داسې حدس وهم چې د رنګینو او آهنګینو شعرونو ښاپیرۍ یو دم دسالک لاس ته راغله، ځکه سالک صاحب له پخوانه نقاد و، استاد و او لیکوال و،خو ماچې په کابل کې د لومړي ځل لپاره ولید، نو دپوهنتون د یو ممتاز استاد په حیث مې وپیژند، نه د یو شاعر په حیث. دې منځ کې ډیره موده نه وه تیر ه شوې چې په کابل کې یوه بله اله ګوله راغله او پیښور ته دوباره لاړو هلته هم سالک د یو معاصر ادیب، نقاد او استاد په توګه پیژندل کیده، موږ دا وخت دومره په شاعرانه کیف کې ډوب و چې له استادانو سره راته د شاعرانو په نسبت زیاتې ناستې پاستې خوند نه راکاوه په هر بزم کې به زموږ د شاعرانه محفل شمعه بله وه، په کابل کې مرحوم ننګیال، لېوال، لاهو او صدیق بدر و، په جلال اباد کې استاد ناګار، لال پاچا

ازمون، اجمل اند او ګڼ شمېر نور شاعران وو او پیښور خو نو پیښور و.

د سالک د طاوس ښکه شاعري یو ناڅاپه رامیدان ته شوه او داسې لـه رنګینـۍ سره رامیدان ته شوه چې له مانـه یـې دجاویـدان انقـلابي شـاعر ډاکټـر محمـد اکـبر اکبرد (مراندې) شعري ټولګې څپڅپانده انقلابي نظمونه هیر کړل:

لازمانه د خدای په خیال کې نه وه

ماسندریز شان پیغلتوب کې لیدې

زه چې اوده وم د عدم غیږه کې

له هغې شپې نه مې په خوب کې لیدې

✲ ✲ ✲

مابه لیدل چې کاینات جوړیدل

تانه یې څاځکی د سرور ورکړ

چې دې نقاب له مخه لرې کړبس

زېړو لمرونو ته دې نور ورکړ

✲ ✲ ✲

په رنګینه شرارتي نړۍ کې

ما دې په هره خوا لټون وکړ

پیدا مې نه کړې خدازده ولې داته

ماخو په ټولو لارو یون وکړ

✲ ✲ ✲

ستا په رڼا چې ستا په تمه باندېما ډېرې تورې زمانې لیدلي

د ښاپیرو وطن ته درغلمه

ماهغه ټولې افسانې لیدلي

✲ ✲ ✲

ما دې د حسن د لیدلو په نیت

د یونان ښکلي خدایان ټول ولیدل

ستا دانځور دښکلولو په نیت

په تلوسه مې بتان ټول ولیدل

✲ ✲ ✲

ښه ده ته راغلې خو زړګی مې ریږدي

چې ازلي مینه دې هیره نه وي
چې د عدم کلي کې و درسره
د خپل لالي مینه دې هیره نه وي(۲)

دسالک د شاعرۍ هغو ابیاتو ته ښاغلي پیرمحمد کاروان په خپله سریزه کې په دقت اشاري کړې دي، چې دطاوس بڼکې مجموعې دشعرونو اساسي مضامین او پیغامونه په کې ځای پرځای ترسترګو کیږي.

د عدم په غیږه کې مینه، دروحونو اتصال، دخوبونو نړۍ، دښاپیریو افسانه، تغافل، بغاوت، تعالي او ګڼ شمیر نور داسې مضامین دي چې د سالک په شعرونو کې په لومړي ځل له داسې سندریز انسجام او اوډون سره دمعاصر شعر ډګر ته راغلل، موږتول دسالک دشعرونو عاشقان وو، که به یې تازه شعر لیکلی و کنه موږ به ترې غوښتنه کوله او بیا بیا به مو دده شعرونه اوریدل، ماخو به په ترنم کې هم دسالک شعرونه ویل.

کله کله به په سکنې ماښام کې ماته د سالک شعرونه داسې ښکاریدل لکه داچې زرګونه کاله پخوا لیکل شوي وي همدا دلیل دی چې ماته دومره ثابت ښکاري چې نیوکه کول وربانديې لازمه نه بولم.

وخت ته به یاده وي زما او ستا کیسه ملګرې موږه ژوندۍ کړه بیا د مینې فلسفه ملګرې او یا داچې:

جینې دخدای او د رسول ومنه
په دې خبرو باندې تیره کیږده
خپلې نازکې شونډې څله سیځې
بس په سندرو باندې تیره کیږده

دانسان تمایلات، باطني کیفیتونه او د ژوند تیرولو تجارب همیشه دچاپیریال او فزیک تر اغیز لاندې وي، کلتور، اعتقادات، رسوم او نور ټول انساني نفسیات وربانديې مستقیماً تاثیر کوي، د طاوس بڼکې پورې د سالک شاعري د ده دپراخې مطالعې او مشاهدې له کبله یوه افاقي او ابدي شاعري ده، دتبریز له شمس او د بلخ د مولانا نه نیولې آن دیونان ترښکلو خدایانو او د هندوستان دبودا پورې ټول ادوار په کې له خپلو

اســاسي پيغــامونو او تصــوراتو سره ســم انځــور شــوي دي، پراســتعاراتو، قراينــو، تلميحــاتو او نــورو ادبي صــنعتونو سر بيــره د ســالک پــه شــاعرۍ کــې د هغــه عصرـ يــوه بلــه ستره ځانګړنــه او ښــکلا دا وه چــې عشــق او حماســه دواړه پــه کــې پــه يــوه سُر او تــال راغـلي وو، د شـلمې مـيلادي پيـړۍ پـه نوييمـه لسـيزه کـې پــه شــعرکې د عشــق او حماســي همغـږي او متناسـب بيــان ســتر کــمال و چــې لـومړی بـاني يــې دپښــتو غـزل بابـا مرحـوم اميـر حمـزه شـينواری ګڼـل کيـږي؛ مګـر سـالک د وحـدت الوجـود لـه صـوفيانه فلسـفې نـه پـه مختلـف انـداز کـې هـم دا کمال په خپله شاعرۍ کې درلود.

ښــاپيرۍ پــه خــوب دې وينمــه ديــو تــا وړي څــوک چنګيــز رانــه کتــاب داوستا وړي

د طاوس ښکې شاعرانه هنګامه شروع وه چې سالک صاحب غرب ته لاړ دټولنپوهانو په نظر يې بايد دمحيط له داسې بدلون سره په شاعرۍ کې هم ستر بدلون راغلی وی، ځکه دنړۍ له هغه سرنه چې لمر راخيژي هغه سر ته لاړ چې لمر پريوځي خو دده په محسوساتو، احساساتو او برداشتونو کې بدلون وارد نه شو هلته يې هم د خپلو شنو بنګو کروندې او د ننګرهار ازغي او ګلان ټول يادول: غوټۍ زړه

مې د مغرب ګلو کې چوي نور

يونسيم د ننګرهار زما په نوم کړه

ټول غاټول دې په خيالي وربل کې ټول کړه

په صحرا کې هر يو خار زما په نوم کړه

د ســالک د نــثر پــه هکلــه څــه ويــل نــه غــواړم؛ ځکــه دی مخکــې تــر شــاعرۍ پيــاوړی اســتاد، نقــاد او د نــثر ليکــوال و خــو د ((پــاتې شــه بــاران دی)) نــاول يادونه ځکـه کـوم چـې ماتـه پـه کـې خپـل ځـان يـو کرکټـر ښـکاري، دا هـم يـوه پـه زړه پـورې خـاطره ده، دپيښـور تـبجن پشـه کـال و ناڅاپـه پـه اسـمان کـې وريځـې راخــورې شــوې ځاښــت مــوده وه زه لــه ســالک سره دبي بي سي راډيــو لــه دفــتره د ننګرهــارپر لــوري رهــي شــوم پــه لــواړګي بــازار کــې د شــنو چــايو هوټلونــه هــم دقونيې له ساقي خـانو او قهـوه خـانو کـم نـه دي هـر سـپين ږيـری بـه درتـه حمـزه او نـاظر شـينواری ښـکاري، لـه تـورخم نـه پچيـر تـه راغلـو پـه يـوه کـلي کـې مـو

گنـډه غوټـه کېښـوده او بيـا سـپين غـره تـه وختـو لانـدې د بنـګ زار خـوره دښـته وه اودا وخـت زمـوږ ذهنـي فضـا هـم لـه شـاعرانه خُـمار نـه ډکـه وه کـه پـه جاپانۍ يشيکا کـامره بانـدې بـه مـو تصوير هـم اخيسـتو داسـې بـه راتـه ښـکاريده چـې يـوه هـنري تـابلو مـو جـوړه کـړې وي لـه پچيـره بيـا کـوټ ولسـوالۍ تـه روان شو دا لاره هـم د سپين غـره پـه لمنـه کـې تيره شـوې ده پـه کـوټ کـې سـالک لـه بزګرانــو سره د بي بي سي راډيــو پروګرامونــو لپــاره مرکــې کــولې، زمــا پــه فکــر سـالک د خپـل نـاول (پـاتې شـه بـاران دی) لپـاره ډېـرې صـحنې او منظـرې پـه خپلـه حافظـه کـې لـه همـدې سـفر نـه سـاتلې وې د هغـه نـاول ټـولې صـحنې د سـالک د خپلـو تجربـو، برداشـتونو او ارمـانونو يـوه ټولګـه وه، خـو زه چـې د سـپين غـر پـه هغـه سـفر کـې لـه سـالک سره ملګـری وم، د شـعراو موسـيقۍ پـه بـزم کـې بــه لــه ســالک سره ملګــری وم، د ســقراط او افلاطــون دمجالســو پــه اړه بــه پــه بحثونـو کـې لـه ده سره وم؛ نـو ځکـه راتـه هغـه يـو کرکټـر خپـل ځـان ښـکاري، د ســالک دا نــاول يــو محبــوب داســتان دی چــې بيــا بيــا چــاپ شــو او بيــا بيــا ولوستل شو او لا به هم لوستل کيږي.

هرکله به چې باراني موسم و نو مابه دا فولکوريکه سندره ډېره اوريده چې:

داګردچاپير په غرونو راغلل بارانونه ياره

ړلۍ وريږي نا – مه ځه دلته شپه وکړه – پاتې شه باران دی

اکثره به چې زه د سپين غره په لمنو کې وم دځيږيو، نښترو او باراني خاورې په خوشـبويانو کې به د سالک په داستان کې ورک وم، سالک ته به مې ويل، که چيرې امکانات پيدا کړم نو زه به په دغه ناول باندې فلم جوړوم چې هيرو به يې زمـوږ نـازولی ملګـری ذاکـر برميـال وي، دا دی نږدې څه کم دوه لسيزې تيرې شوې ذاکر برميـال رانـه د غربـت او فقيـرۍ لـه لاسه د مساپرۍ ځپېږې وهلی په وطن کې نه شته دی، لا هم په وطن کې جنـګ روان دی اړی ګړی دي او ما هم تر اوسه د (پاتې شه باران دی) ناول لپاره د فلم جوړولو امکانات نـه دي پيدا کړي دا خوب هم ديوه ارمان په توګه له ماسره پاتې دی.

## پايله:

يو مهال په افغان ادبي بهير کې د کره کتنې په زړه پورې سلسله روانه شوه، پـه شعر، داستان، ناول وغيره کې ذهني انځور ګري، تخيل او تخييـل، فکـر، حماسـه او

عشـق، دبیـان میتـود او اسـلوب، تغـزل او شـعاریت او بلهـا نورمضـامین بـه د بحثونو موضوعات تاکل کیـدل، دا مهـال بـه سـالک جالـب او علمـي بحثونـه کـول، خپلې خبرې یې کولې او ښکلې خـبرې یـې کـولې، کیـدی شي لـه هغـو بحثونـو نـه راټوکیدلي تصوراو دپوهنتون لپاره لیکلو لکچرونو ورتـه د (منشـور) نـومې کـره کتنیـز کتاب سوژه په لاس ورکړې وي، د سالک دا کتاب ما هیڅ وخت تر پـاې ونـه لوسـت؛ مگر پوهیدم چې د ځوانانو لپاره یو ډېر گټور کتاب دی.

د سالک دخوږو نثرونو کتاب (د اوښکو مُسکا) هم یوه جلا خیالي نړۍ ده.

سالک یو مهال په خپلو خیالونو او فکرونو کې دومره ژور تللـی و چـې دځمکـې پرسر له ټولې زمانې نه غایب شو دا هم یو عجیب روحي سیر اوسفرو له دغه سـفر نـه به موږ یو ډول برداشت لرو، خو ښایي خپله مسافر ترې بل ډول برداشـت ولـري، دې وخت کې ما ښاغلي سالک ته یو نظم ولیکلو چې گیلې په کې ډیرې وې:

لار دې پریښـــــې کـــــه پـــــر لار یـــــې لارویـــــه
مضــــطرب یـــــې کـــــه خُـــــمار یـــــې لارویـــــه
درنـــــــه ورک د بغـــــــاوت ښـــــــکلی انعـــــــام دی

ترهیـدلی لـه سنگسـار یـې لارویـه کـه زه د سـالک د ژونـد، فـن او شخصـیت پـه اړه خپـل ډیـر کـم محسوسـات هـم ولـیکم، نـو ښـایي یـو کتـاب خـبرې شي د دې پیـړۍ پـه مصرـوف دوران کـې نـه چـا سره داوریـدلو ډیـر وخـت شـته نـه د لوسـتو حوصـله، خـدای دې توفیـق راکـړي چـې د خپـل عصرـ د دغـه حقـدار قلمـوال او ژمـن شـاعر حـق ادا کـړم او وکـولی شـم راتلـونکې زمـانې او نسـلونو تـه یـې لـه خپلـې دیـدگاه څخـه متعـارف کـړم؛ خـو اوس بـه پـه همـدغې لیکنـې بسنده شم او که ژوند و بیا به وشي صحبتونه.

**مأخذونه:**

۱- مصطفی سـالک، د طـاوس ښکـه، دانـش خپرندویـه ټولنـه، پېښـور، ۱۳۸۱ لمریز کال. ۱٦ مخ.

۲- مصطفی سالک، همدغه اثر.

۳- عطاء الله حیران، نجلۍ سـمه امریکـا یـې، مومنـد خپرندویـه ټولنـه، ۱۳۹۱ لمریز کال، ۳۸ مخ.

**عابد ندیم**

# د غزل ګونګې تشبیه ګانې

## لنډیز:

ادبي فونون یوه داسې موضوع ده چې نن سبا یې پر ضد ډېرې خبرې کېږي او د ډېرو لویو لیکوالو له خولې یې اورو چې ادبي فنون نو څه په درد لګي، په داسې حال کې چې علوم هېڅکله زړښت نه لري او د بشر د ښېګڼې او اړتیاوو لپاره پنځول شوي او ایجاد شوي دي. پر همدې اساس کله چې موږ د غزل په تشبیه ګانو بحث کوو، معنا دا چې د فنونو روح څېړو او دا ثابتول غواړو چې د دې یا هغې شاعر په شعر کې کومې داسې لويې خوبۍ شته چې تر اوسه ورته موږ نه یو متوجه شوي، خو که حقیقت ته ځیر شو دا ټول د همدغې فنونو برکت دی چې موږ ته دا وړتیاوې را په ګوته کوي. نو ځکه ما هم د دغو اړینو مسایلو په اړه دا څو کرښې درسره شریکې کړې.

## سریزه:

په دې وروستیو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ځوان ډاکټر او ښه څېړونکی ډاکټر احسان الله درمل کتاب شعرستان له چاپه راووت. زما په نظر د فنونو په تاریخ کې به دا لومړنی کتاب وي چې هم یې فنون په عالي توګه څېړلي او هم یې نوې تیوریانې وضع کړي چې په حقیقت کې هم تیوریک او هم د فنونوکتاب دی، خو که متن ته یې ځیر شو ټول بحث یې په شعر او شاعرۍ بانديې دی او د شعر لپاره یې داسې تله ابښې چې ښکاره او یا بې خونده شعر په کې هډو تلل کېږي هم نه او نه په دې لوښې کې کوښېږداي شي، نو ما هم هڅه کړې چې د دغې لړۍ یوه بله کړۍ هم ورزیاته کړم که ګوندې د دې لارې لارویانو ته مې د یو

پل هومره لاره جوړه کړې وي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې تشبهې څه شی دی، په پښتو ادب کې د کوم قالب له مخې په پام کې نیول کېږي، څه ډول اشعارو کې تشبیه موجوده وي او ایا تشبیه له تقدس یا په ټوله کې له کلتوري او اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې ده او که نه؟

یعنې همدغه مسایل څېړي او په واضح توګه یې بیانوي چې تشبیه له هېڅ ډول ملي، کلتوري او اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې نه ده او له امله یې شعر ځانګړي ښکلا او لطافت پیدا کوي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنې هدف په دې کې دی چې تشبیه تشریح کوي او بیا د تشبېه په ډولونو خبره کوي، چې څو ډوله ده او بیا ګونګې تشبیه ګانې رابرسېره کوي، ځکه موږ ډېر ځله اورو چې ځوک په ګونګې تشبیه نه پوهېږي، نو وایي چې په دې ابیاتو کې تشبیه نه شته او یا هم د قافیې عیب لري په داسې حال کې چې د هغې تر شا به لویه فلسفه نغښتې وي، نو ځکه وایو چې ګونګه تشبیه دا مسایل ټول رانغاړي او تشریح کوي یې.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې مقاله کې دا پوښتنې ځواب شوي:

- ✓ تشبیه څه شی دی؟
- ✓ تشبېه په څو ډوله ده؟
- ✓ ګونګه تشبېه څه ډول تشبېه ده؟
- ✓ که چېرې شعر تشبېه ونه لري ایا منځپانګه خو یې نه زیانمنېږي؟

او دې ته ورته ځینې نورې کوچنې پوښتنې شوي چې د منځپانګې په اوږدو کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې ما له تشریحي، تحلیلي، توضیحي میتود څخه استفاده کړې ده او ځای ځای مې د توأم میتود هم چې یو مشترک یا مختلط میتود دی کارولی.

## متن:

زه هر کله په ادبي ناستو کې له ملګرو سره په شعر کې د لغت پرانۍ او سرقه دوزۍ د جبري استعمال په اړه مباحثې کوم او د غالب دا خبره ورته کوم چې (شعر یواځې ردیف بندي او قافیه بندي نه ده)، بلکې شعر د زړه او فکر ترجمان دی، خو کله چې ځینې شاعري لولم، نو تر ډېره په کې د سرقه دوزۍ او جبري تقلید نښې ښکاري، (Hope writer)چې یو امریکایي لیکوال دی هغه په خپل یو کتاب (poem and prose)کې لیکي، د هرې ژبې ادبیات چې نظم او نثر یې په جبري ځالو کې ونغښتل شي هغه له منځه ځي.

د پښتو ژبې په ځوان شعري بهیر کې څو محدود ځوان شاعران دي چې له سرقه دوزۍ او جبري شاعرۍ له ځنځیره ځینې ازاد دي او باقي پاتې ټول د دغه لارې لارویان دي، یعنې په شعر کې د کینې له وجې تقلید او سرقه دوزي کوي، د دغه برخې لارویان زیاتره د غزل مریدان دي او په دې فکر دي چې غزل د پښتو ادبیاتو د نظم په برخه کې یو اسان فورم دی، ځکه خو یې غزل ته مخه کړې ده، مګر غزل د ادبیاتو یو تخلیقي او بهترین ژانر دی چې لیکل یې بغیر له تخییل او ریاضته خورا ناممکن کار دی.

په غزل کې نن سبا زیات ځوان شاعران د شهرت د احساس په پلمه ډېر بې کاره او بې معنا تشبیهات او الفاظ راوړي چې هېڅ د ارزښت وړ نه وي، همدا وجه وه چې د دغسې شاعرۍ نقد ته مې سینه وډبوله چې ځوان شعري بهیر بیا ځلي له ګونګو او بې معنا الفاظو او تشبیهاتو څخه ځان وساتي.

موده پس مې دی په اوښکو اودس کړی
موده پس ستا د یادونو اذان وشو (۱)

محبوب شاه محبوب

په دغه بیت کې شاعر ډېره موده پس د یو چا په یاد کې ژړا او درد احساسوي، که څه هم شاعر په دغه بیت کې د تخلیقي تشبه راوړلو کوښښ کړی، خو بیا هم ترې بیت په جبر او کینه ګرۍ لیکل شوی، ځکه خو یې د بیت معنا سنجیدګي اختیار کړې او د شعر هنریت یې ورته بدرنګ کړی، که د دغسې خیال کارول په ساده مکالمو او کیفیتونو کې راونغښتل شي، نو زما په اند د شاعر شاعري به نه

يواځې دا چې روانه، بلکې د خوږلنۍ په جامه هم سنبال شي او لوستونکی به ځان ته را جذب کړي.

زموږ د ځوان شعري بهير زياته شاعري د سنجيدگۍ ډکه ده او په زور ليکل شوې ده، که په غزل کې رياضت غواړو چې وکړو، نو بايد لومړی د رياضت په معنا پوه شو چې رياضت څه معنا؟ او بيا وروسته له رياضت څخه په گټې اخيستنې خپل غزل د نوښت پر لور روان کړو.

خو دا چې ځينې ځوان شاعران دومره لوستي هم نه دي او رياضت هم نه پېژني او بيا هم غواړي چې په شاعرۍ کې رياضت وکړي، نو هغوی بيا د رياضت په معنا په غزل کې له سرقه دوزۍ څخه کار اخلي او د نورو مخکښو شاعرانو تقليد کوي چې ښه مثال يې دلته موږ په دغه بيتونو کې ليدلای شو.

په دې ښار کې دېوالونه تږي کيږي
يو سړی په کې نهر چرته روان دی (۲)
شهنواز باقر

او يو بل ځای کې هم وايي:

د ژوندانه ځنگل ته تلمه راته ښکار نه راته
په ما کې زهر و نزدې به راته مار نه راته (۳)
شهنواز باقر

له داسې تشبېهاتو څخه معنا اخيستل د يو لوستي انسان له خياله هم لرې خبره ده، پاتې لا د يو نالوستي شعر ويونکي انسان؛ ځکه خو دغسې شاعري د انتقاد پر چاړه همېشه وهل کيږي، د باقر دغه پنځونه موږ ته دا راښيي چې باقر د يو تقليد او سرقه دوزۍ لاروی دی، ځکه خو يې په دغه بيتونو کې د نورو فلسفي افکارو تقليد کړی او ځان يې د نقد پنجره کې په خپله راگېر کړی دی.

ما چې هر کله د باقر غزلونه لوستي، نو همېشه په کې د فلسفي خيال تقليد شوی او هر کله چې له ده څخه د دغسې بيتونو د معنا پوښتنه شوې، نو دی يې په ځواب کې غلی پاتې شوی، ځکه خو ورته د تقليد گر او سرقه دوزۍ گوته ونيول شوه.

دغه بیتونه چې د یوې بې معنا شاعرۍ له جملې څخه دي، باور لرم چې تر اوسه به ترې چا د شعر په نامه معنا نه وي اخیستي، راځئ! چې خپل خیالونه او خپله شاعري د یوې ساده ژبې پر خوله بیان کړو، تر څو زموږ راتلونکی نسل زموږ له شاعرۍ خوند واخلي.

همدغه شان ډېر نور شاعران دي، چې د کینې له وجې په جبري ډول غزل لیکي او همدا وجه ده چې شعر یې د دوه روپو ارزښت نه لري.

لاندې بېتونه مې د تقلید، سرقه دوزۍ او متاثروالي په وجه په دې لیکنه کې ځای کړي، ترڅو هغه څوک پرې قانع شي چې څوک دغسې له جنجاله ډکه شاعري کوي:

ورېکومه په کوټه کې ګېر یم
زړه مې راتنګ شو توره شپه کې ګېر یم
د مودې پس مې ایینه کې کتل
د مودې پس په ایینه کې ګېر یم (۴)
خپلواک شېرزاد

د شیرزاد په غزلونو کې تر ډېره داسې بریښي چې دی په زور شاعري کوي، یعنې له ځینو شاعرانو متاثره دی، ځکه خو یې په شاعرۍ کې د لوستلو احساس نه شته، شاعر نه دی مګر د شعر مینه وال دی، ځکه خو یې په شعرونو کې بې معنا الفاظ او مرموزې تشبه ګانې پرتې دي دی که مطالعې ته مخه کړي، نو کېدای شي په راتلونکي کې له دغه ستونزو خلاص شي، ځکه چې ژوره مطالعه انسان ته ډېر څه ور په برخه کوي.

په دغه بیتونو کې یې شاعري د جبران سره مخامخ ده او همدا وجه ده چې دغه بیتونو کې یې خیال، رنګ، تشبیهات او الفاظ له خامۍ او تقلیدګرۍ سره مخامخ دي.

له دېوالونو رالوېدې سندرې
په تصویرونو خوییدې سندرې
ریاض شفق
په دیواله مې رسمولې سترګې

په وچ تصوير کې وې چاودلې سترګې
ته به د خپل وجود په لټه کې وې
ما به دې ټوله شپه خوړلې سترګې (۵)
رياض شفق

سندرې او تصويرونه له دېوالونو سره تشبه کول، د يو حقيقت او مجاز تشبه کول دي، خيال د شاعر خپل وي، خو مګر په شعريت او هنريت يې بدلول بيا رياضت او نوښت ته اړتيا لري، مګر د رياض شفق په شاعرۍ کې د باقر غونډې د فلسفي افکارو خامه کارونه ډېره ليدل کيږي، دی هم د تقليد په مرض اخته دی او همېشه غواړي چې په جبر او زور شاعري وکړي، همدا رنګه که موږ دې نورو بيتونو ته فکر وکړو او سترګې پرې پټې نه کړو، نو دا به راته جوته شي، چې په دېواله سترګې رسمول، په تصوير کې سترګې چاودل، د محبوب د وجود لټه او بيا يې ټوله شپه سترګې خوړل، ډېر عجيبه او لغت پرانه تشبه ده، فکر کوم دا يې هم د شعر د کينه ګرۍ او سرقه دوزۍ وجه ده، چې د بيتونو رنګونه يې خام کيف لري، زما په نظر که شفق خپل زوړ رنګ، کوم چې يې مخکې په شاعرۍ کې ښکاره کېده هغه ته ېېرته توجه وکړي، نو ښه به وي، ځکه فلسفي شاعري کول د تقليدي ذهنونو کار نه دی او شفق د دغه لارې يو نوی لاروی دی:

ځان کې يې د زهرو غاښ منډلی دی
مار د خپلې ملا نه راتاو شوی دی
اتل افغان

نه پوهېږم چې افغان به دغه بيت په کوم احساس ليکلی وي، ځکه چې د دغه بيت ليکل هم داسې برېښي، لکه په زور چې ليکل شوی وي، ما د اتل افغان شاعري تر ډېره لوستې، هغه زياتره وخت غزل ليکي په غزل کې يې خام مواد، ګونګ لفظونه، ورک تصويرونه، د دغه بيت په څېر بې معنا تشبه ګانې او داسې نورې ډېرې سنجيده کشالې شته، چې په ده د تقليد او سرقه دوزۍ ګواهي ورکوي چې ګواکې دی هم متاثره دی، که دی چېرې له دغه دنيا بهر قدم کېږدي او په شعر کې له دغه خاميانو څخه لاس واخلي، نو اميد دی چې اينده به يې د شعر په ډګر کې روښانه وي:

زما وجود نه اندامونه لویږي
ستا دلاسونو نه گلونه لویږي (٦)
پرهر گیله من

گیله من د اوسنیو ځوانو تقلیدگرو او متاثره شاعرانو په سر کې راځي، دی یواځې د غزل لیکلو شوقي دی، په شاعرۍ کې یې بې معنا تشبیهات، ترکیبات، د مکالمو تړاو او داسې نورې ډېرې خامیانې شته، د دغه بیت په څېر دی په خپله شاعرۍ کې ډېر لغت پرانه بیتونه لري، چې په معنا یې دی خپله هم نه پوهیږي، دغه بیت یې د علمیت او شعریت څرگندويي کوي.

راځئ! چې د شعر په لیکلو کې له دغسې کړنو نور لاس واخلو او خپله د زړه ترجماني په ساده الفاظو کې د ټولنې سترگو ته وړاندې کړو.

## پایله:

په ځوان شعري بهیر کې د یادو شاعرانو په څېر ډېر نور شاعران هم شته چې هغوی له دغه لارې څخه په شعر کې گټه پورته کوي او غواړي چې په تقلیدونو او لغت پرانیو ځان د شهرت بام ته ورسوي، مگر دا ارمان به یې هیڅ چرې هم پوره نه شي، ځکه چې شعر او په خاصه توگه غزل لیکل دومره اسان هم نه دی چې دوی ځان ته داسې اسان کړی، چې د ورځې درې څلور غزله لیکي، زما په څېر به دوی له ډېرو نقادانو سره مخامخ شي، چې شاعري به یې د نقد په امسا ووهي، که له دغې لارې تېر شي او پر ځای یې له ساده مکالمو څخه په غزل کې گټه واخلي، نو اینده به یې ښه وي.

د نقد په پای کې هیله لرم چې د لیکنې لوستونکي دې له زغم څخه کار واخلي او په لیکنه دې ښه ځان پوه کړي، زه په دغه لیکنه کې له ذکر شوو شاعرانو سره هیڅ قسمه بدي نه لرم، بلکې دا زما د ځوان شعري بهیر په اړه یو تنقیدي نظر و چې ستاسې مخې ته مې کېښود، هیله ده چې قضاوت پرې وکړئ او راڅخه خفه نه شئ.!

## مأخذونه:

١- محبوب شاه محبوب، غزل، پغمان مجله، ١٣٨٦ لمریز کال، دریمه گڼه، ٢٣ مخ.

۲- شهنواز باقر، د هوا سترګو کې شګې، دانش خپرندویه ټولنـه، ۱۳۹۵ لمریـز کال، ۴۵ مخ.

۳- شهنواز باقر، همدغه اثر، ٦۲ مخ.

۴- خپلواک شېرزاد، غزل، تاند انټرنټي پاڼه، www.taand.com

۵- رياض شفق، غزلونه، بېنوا انټرنټي پاڼه. www.benawa.com

٦- پرهر ګيله من، ستا يادونه، افغان ادبي بهير انټرنټي پاڼه.

اجمل ښکلی

# په لپه کې دریاب

لنډۍ ده چې:

ستا د هوجرې درشل کړه شه
زما د زړه ستنې کړې درپسې دینه

## لنډیز:

شعر لوی هنر دی او دغه هنر هله جوتېږي چې کله د شعر پر تیوري بحث وشي او هغه سېمبولونه چې په ظاهره پرې څوک نه پوهېږي هغه روښانه او په اړه یې تبصرې وشي.

په دې مقاله د شعر هغه موخنې او ژورې معناوې را اخیستل شوي چې په ظاهره ترې یوه معنا خو په باطن کې لویه او حقیقي معنا ښندي.

## سریزه:

درشل د وره اساس وي. که درشل ونړېږي ور هم له ولاړېدلو پرېوځي. هوجره د پښتنو د مېلمه پالنې نښه ده. ملتپال چې د (هوجرې) او د (جومات) د پیوستون خبره کوي؛ نو مطلب یې د پښتو او دین پیوستون وي. (درشل کړېدل) کنایه او په کنایه کې ایما ده، چې مراد ترې د هوجرې ړنګېدل او په دې توګه له مېلمنو خلاصېدل دي، چې سړی راشي او کور کې کښېني. په دې کنایه کې د مکني به او مکني عنه ترمنځ لازم دي، لاندې وسایط موجود دي:

د هوجرې د درشل کړېدل←د هوجرې ړنګېدل← د مېلمنو نه راتګ← کور ته توجه

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

د دې څېړنې اهميت او مبرميت دا دی چې چې څنګه او په څه شان ځينې وخت موږ لويې موضوعګانې په کوچنيو مقالو کې رانغاړو په داسې حال کې چې معنا هم رسوي او په ښه شان يې رسوي، يعنې ډېر ځله ځينې مسايل موږ په ډېرو خبرو او لکچرونو نه شو واضح کولای، خو په يوې لنډۍ، مقالې، وجيزې او يا هم اصطلاح يې ويلای شو په داسې حال کې چې هم پرې مخاطب لوری قانع کېږي او هم يې ترې مطلب اخيستې وي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنې موخه دا ده چې ډېر ځله موږ په اوږدو خبرو او توضيحاتو خبره سپينولی نه شو او يا هم قانع کولای يې نه شو، خو د لنډۍ په ويلو او يا هم د يو بيت او وجيزې په ويلو سره هغه موضوع اوارېږي، نو ځکه خو په ژورناليزم کې هم همداسې يوه مسئله شته چې وايي يو انځور د سلو او ځينې يې د زرو خبرو استازی بولي، همداسې مقاله، بيت، وجيزه او اصطلاح هم ده، نو که دقيقه توجه وشي د دغو مسايلو په بيان سره هم موضوع را لنډېږي او هم ساده بيانېږي په داسې حال کې چې عام فهمه هم وي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې دا مسايل ځواب شوي:

- ✓ ولې په ليکنه يا مقاله کې له بيت، وجيزې، اصطلاح او متل څه کار اخيستل کېږي؟
- ✓ د متل، اصطلاح او بيت ګټه څه ده؟
- ✓ کله چې په خپله مقاله يا خبرو کې متل، اصطلاح او يا هم بيت کارو په کومه معنا يې کارو؟
- ✓ ايا متل او اصطلاح يوه معنا لري او که څو معناوې لري؟

او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې ځوابوي.

## د څېړنې ميتود:

په دې څېړنه کې تر ډېره له تحليلي، تشريحي او توضيحي ميتود څخه کار اخيستل شوی او يوه خبره په ډېره ښه توګه تشريح او توضيح شوې ده.

پښتانه چې وايي چې پوزه دې پرې شه. مطلب شرم در واوړه. يا که چا ته ووايو، چې په دې ږيره کې دې سپين څه کوي؟ موخه مو دا وي چې لاړې زوړ شوې.

په کنايه کې د مکني به او مکني عنه ترمنځ د مشابهت اړيکه نه وي، چې لوستونکی پرې په اسانه پوه شي؛ نو بيا لوستونکی څنګه پوهېږي، چې دا کنايه ده؟ د کنايې تر شا د شعر او د لوستونکي فرهنګ وي او دا کنايې بالعموم دومره تکرار شوې وي، چې موږ يې په اسانه معنا درک کولای شو، چې ښه مثالونه يې ګړنې(Idioms) دي. که زه د لويديځ يو شخص ته ووايم چې تر تا مې دوه کميسه زيات زاړه کړي؛ نو هغه نه پوهېږي، ځکه چې دا کنايه يې مخکې نه ده اورېدلې. همداسې که ورته ووايم چې زه تا ته مخ نه لرم، تا ته مې سترګې دي يا لاسونه به ومروړې؛ نو پايله به يې ناپوهاوی وي.

له کنايو سره سره سېمبولونه هم چې د طرفينو ترمنځ په کې لفظي قرينه نه وي، په يو فرهنګ کې راټوکېږي، لويېږي او ورو ورو په قراردادي سېمبولونو اوړي؛ خو که له خپل فرهنګه بهر شي، معنا يې هم ورژېږي. مثلاً: که داسې يو څوک چې د پښتنو له کلچر سره اشنا نه وي او څوک ورته د پښتونخوا د ملتپالو په اړه ووايي، چې دوی د هوجرې او د جومات پيوستون غواړي؛ نو پوه به نه شي چې موخه يې د حمزه بابا د دې شعر مفهوم دی:

ما حمزه ته يثربي باده خاونده!
په ښاغلې پيمانه کې د افغان را

سېمبولونه او کنايې چې څومره سولېږي او قراردادي کېږي، هغومره لومړی د يوې ژبې يا جغرافيې د وګړو ترمنځ عامېږي او وروسته له جغرافيې نه بهر اوړي؛ نورو سيمو ته رسي؛ خو د سېمبول او کنايې ترمنځ دوه توپيرونه دا دواړه په بېلابېلو ښو عاموي.

کنايه د عادي ژبې غوندې قراردادي خصوصيت لري. د هرې ژبې ويونکو قرارداد کړی وي، چې مثلاً:(د پوزې پرېکېدل) به د شرم په معنا اخلو؛ خو سېمبول بيا په تاريخ او اسطورو کې ريښې لري. قارون د شومتيا، حاتم د سخاوت، يوسف د ښکلا، کوه طور د علم، سمندر د لاشعور او ... سېمبولونه کېدای شي.

سېمبول بالعموم په کلمو کې وړاندې کېږي؛ خو کنايه په غونډونو يا فقرو کې. په يوه ادبي اثر کې که کلمو کليدي نقش لوباوه او فعلونو ته يې هم سېمبوليک رنګ ورکاه؛ نو دا کلمه سېمبول دی او ټول کلام سېمبوليک خصوصيت لري؛ خو که يو غونډ و او په هغه غونډ کې فعل نور توکي ځان ته ورځکلي وو؛ نو کنايه ده. سېمبول ځان په په خپله يوه نوم کې ښيي؛ خو کنايه په ستاينوم کې هم وړاندې کېږي او په دې توګه ويلای شو، چې کنايه پر فعلي غونډ سربېره نوميز(اسمي) غونډ وي، چې هلته يې له مرکبې استعارې سره توپير دا وي، چې په استعاره کې د مستعار منه او مستعارله ترمنځ د تړاو لپاره لفظي قرينه موجوده وي؛ خو په کنايه کې لفظي قرينه نه وينو، چې يواځې يوه معنا ترې واخلو. مثلاً: له (سر ټيټولو) دواړه معناوې اخيستلای شو.

ستا د هوجرې درشل کړه شه

(درشل) په دې مسره کې په يواځې ځان معنا نه لري او که له دې مسرې بهر شي، معنا يې عادي کېږي؛ خو (هوجره) چې سېمبول دی له دې مسرې بهر د ټول پښتون کلچر په لويه محوطه کې خپله معنا څرګندوي. (هوجره) له خپلې مجازې معنا (مېلمه پالنې) سره تشبيهي اړيکه نه لري، نو څنګه يې سېمبول بللای شو؟ د کنايې وروستی او پېچلی ډول رمز دی، چې کله ناکله له موږ نه د سېمبول سره ګډېږي. ”... د پېرنګيانو سېمبول په پارسي کې په رمز ترجمه شوی دی، چې له موږ نه دواړه ګډېږي. په سېمبول که د څو مشبو شتون شونی دی، چې د معانيزو قرينو په مټ يې معنا ته متوجه کېږو؛ خو رمز نښې ته ورته دی. په هر حال رمزونه زياتره منجمد او کلک وي، چې خپله معنا په اسانه نه ښکاره کوي او د يوې کلمې يا نښې غوندې يې معنا په قاموس کې وګورو يا يې له چا پوښتنه وکړو.“ (۱)له چا نه پوښتنه يا په قاموس کې د رمز د کلمې د معنا ليدل همدا معنا لري، چې په فرهنګ کې معنا وپلټو، چې دا يې له سېمبول سره مشترک اړخ دی؛ خو رمز د يوه مرکب توصيفي ترکيب په توګه څرګندېږي. مثلاً: غټ لاسونه د سخاوت نښه ده؛ خو کله چې پښتانه (هوجره) د سخاوت د نښې په توګه کاروي؛ نو د کوم صفت کارونه ورته اړينه نه ګڼي. البته دا خبره ده، چې د سېمبول سينه پراخه وي او هر لوستونکی ترې د خپلې تجربې او تمايل په اساس بېله معنا اخيستلای شي؛ خو رمز له خپل

ابهام بېدرېغه پېچلتیا سره دومره پراخه سینه نه لري، چې څو معناوې ترې واخلو. له هوجرې نه له (مېلمه پالنې) او (پښتنولۍ) هاخوا معناوې نه شو اخیستلای.

سېمبول له فرهنګ سره د متن د داخلي شواهدو لـه لارې د عقلي قرینـې پـه مټ نامستقیمه معنا لري؛ خو رمز له خپل متنه په فرهنګ کې اساس لري.

(درشل کړه شه) غونډ دی او مجازي معنا لري. مطلب یې دا دی، چـې لـه دې هوجرې او له دې مېلمستیاوو خلاص شې. که لـه دې مجـازي غونـډ نـه د (کړېـدل) فعل لري کړو؛ (درشل) په یواځې ځان بېرته عادي معنا ته راګرځي.

په دې ټوله مسره کې کلیدي نقش (هوجره) ترسروي او دا هـوجره دومـره زورور ده، چې که نه وي د کنـایي غونـډ معنـا هـم لـه منځـه ځـي. پـه دې بنسـټ دا پایلـه ترلاسه کولای شو، چې په یو مـتن کـې سـېمبولونه تـر کنـایو مهـم او مـوخن وي او د کـلام پـر ټولـو اجـزاوو واک چلـوي، ځکـه نـو د کنـایي اثـر اصـطلاح نـه لـرو؛ خـو د سېمبولیک اثر اصطلاح لرو.

ستا د هوجرې درشل کړه شه
زما د زړه ستنې کړې درپسې دینه

په دوهمه مسره کـې (د زړه سـتنې) اضـافي اسـتعاري ترکیـب دی. زړه یـې لـه کوټې سره تشبیه کړی چې په ستنو ولاړه وي؛ خو دلته (د زړه کوټه) نـه ده، بلکـې د کـوټې یـو جز(سـتنې) یـې ورتـه کـارولې چـې اسـتعاره یـې پېچلـې کـړې. دې ډول استعارې ته مصره استعاره وايي.

پښتانه وايي: (په پلاني پسې پلار زړه واچـاوه). (زړه اچـول) کنـایي غونـډ دی، چـې موخـه تـرې د چـا پـه غـم کـې مـړه کېـدل دي. (د زړه سـتنې کړېـدل) هـم د (کړېدلو) د فعل له امله په یو کنایي غونډ اوښتی، چې له چا سره شدیدې مینـې تـه اشاره کوي.

پـه دې توګـه ویـلای شـو، چـې پـه دې واړه دوه ویشـت سـیلابیز بیـت کـې دوه کنایې، یوه استعاره او یو سېمبول وینو او پر دې بنسټ د اکثرو لنـډیو پـه اړه زمـوږ دا خبره سمه خېژي، چې له هنره مالامال دي؛ خو ته صبر خبرې لا نورې هم شته.

ستا د هوجرې درشل کړه شه
زما د زړه ستنې کړې درپسې دینه

په لومړۍ مسره کې یو ساده عیني انځور وینو، چې د ژبې پر مستقیم بیان ولاړ دی. د هوجرې درشل وینو، چې کړېږي؛ خو موږ پوهېږو چې د دې مسرې ترشا بلېلويې معنا ځان پټ کړی، چې هغه دا ښېرا ده چې (خدای دې له هوجرې او مېلمنو خلاص کړه). دا آرزو هغه انتزاعي معنا ده، چې د دې سېمبوليکې مسرې په عیني تصویرونو کې وړاندې شوې ده. موږ د حواسو په مټ په طبیعت کې د موجودو شیانو عکسونه اخلو او په حافظه کې یې ساتو. په طبیعت کې په خپله موجود شیان تصویرونه نه دي؛ خو کله چې موږ دا شیان په غیاب کې رایادوو؛ نو پوهېږو چې له حافظې سره مو د دې شیانو عکسونه موجود دي؛ خو موږ د حواسو په مټ یواځې د مادي شیانو تجربه نه ده کړې، بلکې د ادراک د قوې په مرسته په ذهن کې د (سولې، مینې، رښتینولۍ) غوندې تجریدي مفاهیم هم لرو، چې پرې پوهېږو سره؛ خو تداعي کولای یې نه شو. تخیل په حافظه کې په همدغو انساني تجاربو کې ګوتې وهي او ترمنځ یې اړیکې کشفوي.

تشبیه، استعاره، سېمبول او کنایه د انځورسازۍ وسایل دي. په لومړۍ مسره کې د غوسې مجرد په یوه عیني تصویر کې وړاندې شوی. د ایلیټ په وینا یوه مجرد صفت ته یو ( عیني انډول/ Objective correlative) پیدا شوی چې د احساس وړ شي.

کوټه په ستنو ولاړه وي. که ستنې نه وي کوټه کاواکه شي. ته زما د زړه د کوټې ستنه یې. که ته نه یې زما د زړه کوټه به کاواکه وي. مطلب حالت به مې درپسې خراب وي. که له استعارې خبرو راووځو؛ نو معنا یې دا ده، چې درپسې خپه یم؛ خو ولې د مفردې (ستنه) پرځای جمع(ستنې) وایي؟ د یوه درد په شدت یا کثرت کې د مبالغې د ایجاد یوه وسیله جمع کول هم دي. مولینا چې په لاندې بیت کې جدایي جمع کوي او جدایي ها وایي؛ نو موخه یې دا ده، چې د جدایۍ شدت وښیي:

بشنو از نی چون حکایت میکند
از جدایی ها میکند

خپګان هم مجرد صفت دی؛ خو کوم خپګان چې په محبت او د محبت په جدایۍ کې وي، هغه په شرقي کلچر کې له زړه سره تعلق لري، ځکه زړه د محبت

مرکز دی. پر دې بنسټ کله چې په شرقي فرهنګ کې زړه يادېږي؛ نو اشاره يې محبت ته وي. زړه په شرقي فرهنګ کې د عواطفو مرکز دی. مثلاً: زړه خوږېدل دترحم، زړه ورانېدل د خپګان، زړه ښه کېدل د خوشحالۍ او زړه غټېدل د زړورتيا ګڼل دي.

په چا پسې د زړه د ستنو کږېدل د شديد خپګان معنا رانغاړي. لنډۍ ده:

اول مې فکر درته نه و

اوس مې د زړه ستنې کږې درپسې دينه

اوس د (زړه د ستنو کږېدل) ګڼنه څوک نه کاروي، ځکه يې نو معنا مبهمه شوې غوندې ښکاري؛ خو د شديد خپګان دا حالت د کنايې او استعارې په ګډ عينې انځور کې وينو، چې د يوې کوټې ستنې نشته او چت يې راناست دی. په استعاره کې د (زړه) شراکت مو پام د ساده انځور پرځای شديد محبت ته ورګرځوي.

لنډۍ داسې نه وايي، چې خدای دې له هوجرې خلاص کړه، زما يادېږې؛ خو ليدای دې نه شم، بلکې نامستقيم راته په انځورونو کې دا حالت ښيي. په يوه لېدونکې صحنه د يوه مجرد حالت اړول او نامستقيم د معنا او عاطفې انتقال د انځور موخه وي.

په هر ساده او تخيلي انځور پورې د څک غوندې د معناوو او عاطفې مچۍ نښتې وي. د طبيعت له هر څيز سره زموږ يوه خاطره يوه تجربه تړلې وي، چې موږ ته يوه معنا لري او هره تجربه يا خاطره بې عاطفې نه وي؛ نو کله چې په غياب کې موږ يو څيز رايادوو، له عکس سره سره زموږ عاطفه هم راويښېږي.

په عادي ژبه وايم، خدای دې له دې مېلمنو خلاص کړه، زما يادېږې؛ خو د دوی له لاسه دې موندلای نه شم. د دې عادي او د لنډۍ د ناعادي ژبې ترمنځ فاصله همدې انځورونو پيدا کړې ده او انځورونه بې عاطفې او بې معنا نه وي. د ومان نيازي شعر دی:

د څو تېيو تر شا

پټ وم

هغه هم وشکېدې

د يوه شکېدلي گرېوان انځور دی؛ خو د دې عيني انځور تر شا د سختې بېوزلۍ مجرد صفت وينو، چې زموږ عاطفه راپاروي. شاعر داسې نه وايي چې په مرگ بېوزلی يم. که داسې يې ويلي وای؛ موږ به د وير يوه جمله گڼلې وای او يو هنري ايجاد مو ورته نه وايه.

ستا د هوجرې درشل کړه شه

زما د زړه ستنې کړې درپسې دينه

د دواړو مسرو ترمنځ په ښکاره کوم ارتباطي يا د عطف وييکی نه شته، ځکه نو په سرسري نظر راته دوه نامتجانسې مسرې ښکاري؛ خو د هندي سبک غوندې دلته هم يوه باطني اړيکه غځېدلې. لومړۍ مسره د غوسې او دوهمه مسره د شديد محبت ښکارندويي کوي، چې دوه بېل حالتونه دي او د معنا له پلوه هم راته بېل ښکاري؛ خو که لږ نور متوجه شو؛ نو د لومړۍ او دوهمې مسرې ترمنځ د علت او معلول اړيکه وينو. ستا د هوجرې درشل ځکه کړه شه، چې زما د زړه ستنې درپسې کړې دي او ته نه يې. زه درته ځکه غوسه يم، چې له تا سره مې مينه ده.

د مسرو ترمنځ د ظاهري ارتباط نشت او پر ځای يې د موچي تار غوندې د کلک باطني ارتباط شتون د ښه هنري اثر نښه ده، چې د لوستونکي ذهن هنري تجسس ته هڅوي.

ستا د هوجرې درشل کړه شه

زما د زړه ستنې کړې درپسي دينه

لنډۍ راته متکلم راوي يا لومړي وگړي روايت کړې ده. متکلم راوي خبرې کوي؛ خو موږ د لوستونکو په توگه بايد پر خبره پوه شو. د پوهېدو لپاره ضرور ده چې خبره ټاکلی مهال او ځای ولري. د ځای او زمان له امتزاج نه صحنه جوړېږي. دا لنډۍ موږ له داخلي تصويرونو پرته د يوې صحنې په بڼه وينو. يو څوک په وره کې ولاړه ده، هوجرې ته يې مخ دی او خپل غوسه او د مات زړه حالت څرگندوي؛ خو وخت يې مبهم دی، ځکه چې د وخت اړوند کومه کلمه په لنډۍ کې نه شته؛ خو د (هوجرې) يادونه راته د پېښې مکان ښيي. البته که څه هم په لنډۍ کې د وخت په اړه څه نه شته؛ خو هر لوستونکی يا زياتره پښتانه ښايي يو وخت ورته له خپله ذهنه وټاکي. لنډۍ بالعموم يو وخت يا ځای ته اشاره کوي، چې د پښتني کلچر

خصوصیت په ځان کې ونغاړي. پـه لانـدې لنـډۍ کـې پـه اسـانه پـوهېږو چـې مازیگردی؛ خو ځای موږ د خپلو تجربو له مخې ورکوو، چې د بـام سر دی کـه چـوتره ده، که د جومات غولی دی او که بهر کوم میدان:

د مازیگر ژیړیه لمره!

په روغو وایه د رنځورو سلامونه

د یو شعر د صحنې ځای یا مهال د خپل کلچر په رڼا کې ټـاکلی شـو. پښـتنې ښځې ښیرې بالعموم په مازیگر کې کـوي. ښـایي دا بـه کـوم لرغـونی دود وي یـا پـه قرآن کریم کې پر (والعصر) د خدای قسم چې موږ ته مازیگر تقدس لري او فکر کـوو چې ښیرې په کې قبلېږي. لنډۍ ده:

مازیگری دی، ښېرې مه کړه

ته به د ناز ښېرې کوې، رښتیا به شینه

په مازیگر کې هغه چا ته له ښېراوو ځان ساتو چې راته گران وي؛ خـو هغـه چـا ته په مازیگر کې ځانگړې ښېرې کوو. د لنډۍ شاعرې ټوله ورځ خپـل جانـان تـه پـه برجوره کلا کې انتظار کړی؛ خو هغه په هوجره کې له خپلو ملگرو یا لـه جرگـو مرکـو او مېلمنو سره دومره بوخت دی، چې ښایي نیمه شپه کور ته رانوځي، ځکـه نـو یـې چې ټوله ورځ انتظار زړه ورخوړین کړی، له خولې یې له بېوسۍ نه ښېرې وتې دي:

ستا د هوجرې درشل کړه شه

زما د زړه ستنې کړې درپسې دینه

تاسو به پوه شوي يئ، چې لنډۍ د ښځې له خولې اورو؛ خو څنگه پـوه شـوئ، چې دا ښځه ده؟ څو لارې دي، چې د جنسیت له پلوه د خپلو فولکلوري سندرو، پـه تېره د لنډیو او کاکړۍ غاړو راوي معلومولای شو. یوه اسانه لار دا ده، چې پـه لنـډۍ کې د جنس له پلوه گرامري خصوصیت موجود وي. لنډۍ ده:

چې په ښایست مې خپه کېږې

نور به د ځمکې خوب کوم، چې ژیړه شمه

یا:

تر نیمې شپې پورې رانغلې

اورونه مړه شول، اوس ايرو ته ناسته يمه

په لومړۍ لنډۍ کې د (ژېړه) او په دوهمه کې د (ناسته) مونثې بڼې وايي، چې دا د ښځې د خولې لنډۍ دي. بله لار د ژبې له ګرامري ځانګړنو بهر په فرهنګ او د کلمو په معنا کې پلټلای شو. د فيمينزم له زاويې که خپل کلچر ته وګورو؛ نو ښځه زموږ په کلچر کې د ښايست سرچينه او ببوسه ده. لنډۍ ده:

جانانه تا نه کمه نه يم

که ته بورا يې زه غونچه د ګلو يمه

په لومړۍ مسره کې له (کمه) مونث صفت نه؛ خو په دوهمه مسره کې مخاطب ته د بورا او ځان ته د ګلو د غونچې له خطاب نه معلومېږي، چې لنډۍ د ښځې د خولې ده. که دا صفتونه واړوو، لنډۍ خپل هغه خوند بايلي، چې زموږ له ذوق سره تړلی. زموږ ذوق په مونث جنس کې منفعل حسن او په نارينه کې د بورا غوندې فعاله سرښندنه غواړي.

چې څوک وس او امکانات ونه لري بيا ښېرې کوي يا افسانو ته پناه وړي. پښتنې ښځې چې د کور په څلور دېوالې کې راايسارې دي او اقتصادي خپلواکي نه لري، د خپل ژوند د عملي بدلون وس نه لري، ځکه نو يا تعويذونه کوي يا زيارتونو ته ځي او يا ښېرې کوي، چې که پير بابا يې خبره واوري او حاجت يې ورپوره کړي، همدا علت دی، چې ښځې د فولکوري ادب په ايجاد او د ژبې په ساتلو کې مهم نقش لوبوي.

## پايله:

زه که امکانات ونه لرم؛ خو بيا هم بايد زړه په يو څه تسکين کړم او د زړه د تسکين تر ټولو ښه، بې ضرره او اسانه لار ښېرې دي، چې څوک پرې خبرېږي هم نه او زما اړتيا هم پوره کېږي.

هوجره د پښتني فرهنګ په اساس کې ده، لويې لويې ستونزې حلوي او د يو پښتون ټولنيز حيثيت ورسره جوړ وي؛ نو که د خپلې مېرمنې يا معشوقې لپاره هوجره پرېږدي، د پښتو پټکی به يې په ځمکه کې وغورځېږي؛ خو يوه ببوسه پښتنه څه وکړي؟ له زړه نه مجبوره ده، نو که څه نه شي کولای، ښېرې خو به کوي، ځکه ښېرې له داسې عاطفې راولاړېږي، چې يواځې د يار پيوستون پېژني، کلچر او د

کلچر مجبورۍ نه ويني. دا لنډۍ دوې مسرې ده، خو زموږ د کلچر دومره ډېر توکي په کې راټول شوي، چې سوي پسې رانه کړو؛ نو ډېر لرې په کې تللای شو. په دې کې کې د پښتنو يوه لويه هوجره وينو، چې گرچاپېره په کې شلمه ور خلک ناست دي. يو ځوان په کې بل هم دی، چې څپلۍ يې په پښو دي، واسکټ يې اغوستی، لونگۍ يې وهلې او له ځېرې نه د کلي ځوان مخور ښکاري او همدا د لنډۍ د ويناوالې مخاطب دی. بل لوري ته د ختې يوه برجوره کلا وينو، چې يوه نجلۍ د کور په يوه کار بوخته ده؛ خو کار ته يې ډېر پام نه دی، لاسونه يې خوځېږي؛ خو سترگې يې ولاړې دي، په يو فکر کې ورکه ده، د يو چا په ياد کې او چې کله خپل فکر ته متوجه شي؛ نو خولې ته يې بېواره لنډۍ راشي:

ستا د هوجرې درشل کړه شه
زما د زړه ستنې کړې درپسې دينه (۲)

**مأخذونه:**


۱- شميسا، سيروس، بيان و معانی، اتم چاپ، انتشارات فردوس، ۱۳۸۳ لمريز کال، ۹۷-۹۸ مخونه.

۲- ستا يادونه، پښتو لنډۍ، تاند انټرنټي پاڼه، www.taand.com

# Palm in the river

Ajmal Khkulay

## Abstracts

Lion is a great art and this art is known when it comes to discussion of poetry and the symbols that do not know who are clearly understood, should be clear and commented on.

In this article, the poems and deeper meaning of poetry have been evolved, in a sense of expression, but in the inner, a great and realistic meaning will appear.

---

# Lyrics Gifts Promotions

Abid Nadeem

## Abstracts

Literature skills are an issue criticized these days and many eminent writers say that literature skills are of no usage, but arts and sciences can never be old because they are for human welfare. When we discuss similarities in poem, means we discuss skills and try to see best qualities in a poet’s poetry. All these can be done with the help of these skills. Therefore I would like to share these few lines with you about these important issues.

---

# Poet of Symptoms and Symbols

Abdullah Paykar

## Abstracts

Poetry is a distinct world and those with symbolic poetry create another world. It is true that sometimes we complain

about poems of some poets that they are not understandable and they talks about heavens and stars, but we do not think about the poet's category. Poetry is another language and art and a poet with romantic words can produce highly complicated poems. Without any doubt, Salik has captured social situations not known to others in symbolic poetry, many have citations from his poems and I have also taken something from his poetry in this paper and I am to share it with you.

---

# Pashtu literature publications

Asad Wahidee

## Abstracts

There are tens of printed literatures publications in Afghanistan. Registered and non-registered academic centers have printed publications. Many publications are under control of those who do not know anything about articles, and hence they cannot write articles. The problem is that there is no information available about writing articles in Pashto literatures, so it is natural that our articles will have some problems. Many of our publications have articles, but a large number of these are not articles, these are merely writings. Why these are not articles? Which features of articles are not presented in our articles? These are the questions which will be answered in this paper. Are the articles in Pashto publications real articles?

---

# The (ISBN) system

Ziaulrahman Banuree

## Abstracts

This article is regarding International Standard Book Number covering special value about book, author, title,

language, geographical, publisher and many other related values and haw is assigning international standard book number and securing title, this article also manage international book numbering.

---

# Issues for topic selection in research

S.AsgharHashmee

## Abstracts

Humans in common have some characters and features. In proper way, the owners of particular professions must have some essential features as well.

In this writing, the general issues are discussed. For example, which kind of topic should a researcher select or not to select? And it is modeled in an apparent example.

As though selection of a good topic is crucial for a researcher, the abstaining from an inappropriate topic is crucial too. These matters are also discussed in this article.

---

# Wedding songs in Pashtu's Folklore

Malika Moshtaree

## Abstracts

Abstract Wedding poets are discussed in this article but as the wedding poets are folkloric arts a short glance to the folkloric arts is also given. Baboo Lalee is a specific wedding song but due to verity of the culture it has got different forms.

Therefore, the article discusses a few forms of it. Baboo Lalee is sang by women only in weddings.

Sayed Asghar Hashimi Abstract Our research doesn’t meet the standards neither the abstract nor the contents, unfortunately this problem is raising day by day therefore to

address the issue I researched on those standards in this article and prepared a standard to researchers.

---

## Libraries and pictures libraries

Dr.Ihsanullah Darmal

### Abstracts

What is the poem that is discussed in this article? What is the value of the present moment, what should be done, what kind of poems can be laid out, and what are the best poets and best poems for younger poets, or the quality of good and high quality in international standards.

It is true that the poem is frozen for life, but most believe that the linguistic majority is not a public language and it is difficult to understand the general public, because all aspects of this article have been cited and in this article Been removed.

---

## Bagram in Pashto poetry

Pakhtoon Aqaa Shirzaad

### Abstracts

Mentioning historical names such as "Bagram pa Sheer Aw Shayree Kee" is adding a qualitative value to poetry and enrich the writings. From other hand usage of such unique and variable words make the ground ready for researchers to find all possible meaning and usage of such words to avoid misinterpretation. The name "Bagram" refers to two places, Bagram located in Kapisa Afghanistan where a new airport is now established as well as it refers to the old name of Peshawar located in Pakistan therefore I meant to separate the meaning so the readers understands. Point to be noted, artists

are free in usage and manipulation of the words therefore they use it by their own choice.

---

## Joint and separate lines between creation and research

Fahim Baheer


## Abstract

Two major parts of linguistic writing are Research “Tahqeeq” and Art “Talkheeq”. Talkheeq is a pure art of adding imagination or illusion in writings, the more illusion results better writing. Talkheeq writing is an artistic work where the words have several meanings apart from its original meaning unlike research where the words are used in their original meaning form and manipulation of the words are not allowed. Tahqeeq and Talkheeq are correlated and complement of each other in which Talkheeq gathers the data for Tahqeeq and Tahqeeq uses the data. Talkheeq without Tahqeeq is useless. Tahqeeq enable us to discover new things on daily bases to progress in different aspects of life. In-short Talkheeq is a pure art appears in different forms but completely different from Tahqeeq.


---

## Romanticism and Pashto Literature

Ab.Zaher Shkib


## Abstract

Romanticism is the basis for Political; social and psychological change in Europe, in France in particular.The phenomenon has dominated art and literature and is opposed to the philosophy of classism. In other words, it has broken all

the rules of the classism school of thought and has been asking for freedom in literature. The term Romantic entered into the literature in Great Britain in 1676 and was used for poetic changes. The term, later on, entered into French literature and was considered synonym to fiction for a long time.

# List of Contents

**No Title Author page**

1- Romanticism and Pashto……..R/F Ab.Zaher Shkib...……1

2- Combined and distinct line…………Fahim Baheer….…15

3- Bagram in Pashto……...P/ Pakhtoon Aqaaa Shirzaad…..29

4-Libraries and pictures libraries…Dr.Ihsanullah Darmal…37

5- Wedding songs in Pashtu's…..….Malika Moshtaree……47

6-Select topic in the research…….S.AsgharHashmee…..…63

7- The (ISBN) system……….ziaulrahman Banuree……..…73

8- Pashtu literature publications….Asad Wahidee…………81

9- Poet of Symptoms and Symbols… Abdullah Paykar…....91

10- Lyrics Gifts Promotions…..……. Abid Nadeem…..…100

11- Palm in the river………..……Ajmal Khkulay………108